نعمان پوه سو چي د مور او پلار قدر یوازي په خبرو نه کېږي؛ بلکي په ښه چلند، مرسته، ادب او د هغوی د حقونو په پېژندلو سره هم کېږي.
د کیسې عبرتونه
۱. مور او پلار د خپلو اولادونو د ښه راتلونکي لپاره ډېري هڅي کوي.
۲. د مور او پلار سره په ادب خبري کول د ښو اخلاقو نښه ده.
۳. د کور په کارونو کي مرسته کول د اولاد مسؤلیت او ښه عادت دی.
۴. د مور او پلار قدر باید په عمل کي ښکاره سي، نه یوازي په خبرو کي.
۵. د هغوی د حقونو ترڅنګ باید د هغوی روغتیا، ستړیا او اړتیاوي هم په پام کي ونیسو.
٦. یو ښه ماشوم هغه نه دی چي هېڅ ټېروتنه ونه کړي؛ بلکي هغه دی چي خپله ټېروتنه وپېژني او د ځان د اصلاح هڅه وکړي.
یادونه: د نعمان کیسه د ماشومانو د اخلاقي روزنې لپاره جوړه سوې ده.

د امانت ساتونکي ماشـــوم جایزه

په یوه ښار کي یو ماشوم اوسېدی چي نوم یې یاسر وو. هغه له خپل پلار او مور سره اوسېدی او په ښوونځي کي یې زده‌کړه کوله.
یاسر ډېر شتمن نه وو، خو مور او پلار یې ورته د ژښتینولۍ او امانت ساتلو درس ورکړی وو. هغوی به ورته ویل:
«زویه! که د بل چا مال درسره وي، د هغه د مال ساتنه وکړه. د امانت ساتل د ښه اخلاقو یوه مهمه برخه ده.»
یوه ورځ یاسر له ښوونځي څخه کور ته روان وو. په لاره کي یې یوه بټوه پیدا کړه. هغه بټوه پورته کړه او ویې لیدل چي پیسې او ځینې اسناد پکي دي.
یاسر د بټوې په لیدلو خوشحاله نه سو، بلکي فکر یې وکړ:
«دا پیسې زما نه دي. د دې بټوې مالک به اوس څومره اندېښمن وي! ښایي دا پیسې د هغه د کورنۍ د اړتیاوو لپاره وي.»
یاسر بټوه خپل کور ته یو نه وړله. هغه یې نژدې د یوه باوري دوکاندار په مرسته د مالک د پېژندلو هڅه وکړه. په بټوه کي د مالک د اړیکي معلومات هم وو، نو هغوی له هغه سره اړیکه ونیوله.
څه وخت وروسته د بټوې مالک راغی. هغه ډېر اندېښمن وو، ځکه پیسې او اسناد یې ورته مهم وو.
کله چي یاسر بټوه ورته وسپارله، د بټوې مالک په خوښۍ وویل:
«زویه! ته ډېر ژښتینی ماشوم یې. ما فکر کاوه چي ښایي بټوه مې هېڅکله پیدا نه سي.»
هغه غوښتل چي یاسر ته د انعام په توګه پیسې ورکړي، خو یاسر په ادب ورته وویل:
«تره جانه! ما یوازي د بل چا امانت ساتلی دی. زه خوشحاله یم چي ستاسي بټوه بېرته درورسېده.»

د یاسر پلار چي له دې پېښي خبر سو، خپل زوی یې وستایه او ورته ویې ویل:
«زویه! د انسان تر ټولو لویه جایزه دا ده چي خلک ورباندي باور وکړي. پیسې ختمېدای سي، خو ښه نوم او رښتینولي د انسان په ژوند کي ډېر ارزښت لري.»
د کیسې عبرتونه
۱. د بل چا مال باید د هغه له اجازې پرته خپل ونه ګڼو.
۲. امانت ساتل د ښه اخلاقو نښه ده.
۳. رښتینولي د خلکو تر منځ باور پیدا کوي.
۴. د بل چا د ستونزي حل کول د انسان د مهربانۍ نښه ده.
۵. ښه نوم او د خلکو باور تر لنډمهالي مادي انعام ډېر ارزښت لرلای سي.

هوښیار قاضي او د غریب بزګر حق

په یوه ښار ته نژدې کلي کي یو بزګر اوسېدی. هغه به هره ورځ په خپل کوچني پټي کي کار کاوه او د خپلې کورنۍ د اړتیاوو لپاره به یې غنم او نور حاصلات کرل.

د بزګر ځنګ ته د یوه شتمن سړي ځمکه وه. د شتمن سړي د ځمکي د پولو نښه روښانه نه وه، نو یوه ورځ هغه د بزګر د ځمکي یوه برخه هم په خپله ځمکه کي شامله کړه.

بزګر څو ځله هڅه وکړه چي له شتمن سړي سره په خبرو ستونزه حل کړي، خو هغه یې خبره نه منله.

بزګر بالاخره د سیمي قاضي ته ورغی او خپله دعوه یې ورته بیان کړه. قاضي دواړه کسان راوغوښتل. لومړی یې د بزګر خبره واورېده، بیا یې د شتمن سړي خبرو ته غوږ ونیو. قاضي بې له پلټنې د چا په ګټه پرېکړه ونه کړه.

هغه د ځمکي د پولو د معلومولو لپاره د سیمي له باخبره کسانو څخه معلومات وغوښتل او د ځمکي نښي یې وکتلې. له څېړنې وروسته څرګنده سوه چي د بزګر ادعا سمه وه.

قاضي شتمن سړي ته وویل:

«شتمني انسان ته دا حق نه ورکوي چي د بل چا حق تر پښو لاندي کړي. د هر انسان حق باید وساتل سي، که غریب وي او که شتمن.»

شتمن سړی د قاضي د پرېکړې له مخي د بزګر ځمکه بېرته پرېښوده. بزګر د خپل حق په بېرته ترلاسه کولو خوشحاله سو او قاضي ته یې دعا وکړه.

قاضي ورته وویل:

«زما دنده دا ده چي د شواهدو او قانون له مخي د حق ملاتړ وکړم. حق د دې لپاره نه بدلېږي چي یو څوک شتمن دی او بل غریب.»

د کیسې عبرتونه
۱. د بل چا حق خوړل ظلم دی.
۲. شتمني او مقام باید د نورو د حقونو د تر پښو لاندې کولو وسیله نه سي.
۳. د دعوې د حل لپاره باید د دواړو اړخونو خبرې او شواهد وکتل سي.
۴. د حق غوښتلو لپاره باید په سمه او قانوني لاره اقدام وسي.
۵. عادلانه پرېکړه د خلکو تر منځ باور او سوله پیاوړې کوي.

ګرانو لوستونکو! د دې کیسو له لوستلو څخه موږ زده کوو چې سخاوت، صبر، ښښنه، انصاف، د مور او پلار درناوی، رښتینولي او د تېروتنو اصلاح د یوه ښه انسان مهم صفتونه دي.
ښه انسان هغه نه دی چې یوازې د ځان په فکر کې وي؛ بلکې هغه دی چې د نورو حقونه ساتي، د اړمنو لاس نیسي، له تېروتنو زده‌کړه کوي او هڅه کوي چې په خپل ژوند کې نېک کارونه ترسره کړي.
چې تر دا ځایه مو په مطالعه کې ملتیا کړې ، نړې نړې مننه کوم په درنښت مصطفی قریشي

د حضرت ابراهیم علیه السلام او اور پېښه

حضرت ابراهیم علیه السلام د الله تعالی له لویو پیغمبرانو څخه وو. هغه خپل قوم د یوه الله عبادت ته راوباله او ورته ویې ویل چې هغه بتان چې دوی یې عبادت کوي، نه د چا خبره اورېدلای سي او نه د چا ګټه او زیان په خپل اختیار کي لري.

خو د هغه قوم ډېرو خلکو د ده نصیحت ونه مانه. هغوی له خپلو پخوانیو عقایدو سره مینه لرله او نه یې غوښتل چې د حق خبره ومني.

حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل قوم د ناسم عبادت په اړه هغوی ته دلیلونه بیان کړل. کله چې هغوی د ده له دعوت سره مخالفت وکړ، د ده د سزا ورکولو پرېکړه یې وکړه.

هغوی حضرت ابراهیم علیه السلام اور ته واچاوه، خو الله تعالی اور ته امر وکړ چې پر هغه باندي سوړ او خوندي سي.

الله تعالی په قرآن کریم کي فرمایي:

يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ

ژباړه: «اې اوره! پر ابراهیم باندي سوړ او سلامتی والا سه!»

سرچینه: سورة الأنبياء، ٦٩م آیت.

د کیسې عبرتونه

١. د الله تعالی قدرت تر هر څه لوړ دی.

٢. انسان باید د حق په پېژندلو کي فکر او دلیل ته پام وکړي.

٣. د خلکو مخالفت باید انسان له حق څخه وا نه ړوي.

٤. مسلمان باید پر الله تعالی توکل ولري.

٥. د پیغمبرانو کیسې موږ ته د ایمان او زړورتیا درس راکوي.

د حضرت اسماعیل علیه السلام اطاعـت

حضرت ابراهیم علیه السلام په خوب کي ولیدل چي خپل زوی حضرت اسماعیل علیه السلام قرباني کوي. د پیغمبرانو خوب د الله تعالی د وحی له ډولونو څخه وي، نو حضرت ابراهیم علیه السلام پوه سو چي دا د الله تعالی امر دی.

هغه خپل زوی ته وویل:

«زویه! ما په خوب کي ولیدل چي ته قرباني کوم؛ نو ته په دې اړه څه نظر لرې؟»

حضرت اسماعیل علیه السلام په ایمان او اطاعت سره ورته وویل چي د الله تعالی د امر مطابق عمل وکړي او هغه به، ان شاء الله، له صبر کوونکو څخه وموميِ.

کله چي دواړو د الله تعالی امر ته غاړه کښېښوده او حضرت ابراهیم علیه السلام خپل زوی د قربانۍ لپاره چمتو کړ، الله تعالی حضرت اسماعیل علیه السلام وژغوره او د هغه پر ځای یې یوه لویه قرباني ورکړه.

دا پېښه د پلار او زوی د ایمان، اطاعت او د الله تعالی د امر پر وړاندي د تسلیمۍ لوی درس دی.

سرچینه: سورة الصافات، ۱۰۲-۱۰۷ آیتونه.

د کیسې عبرتونه

۱. د الله تعالی اطاعت د مؤمن د ژوند مهم اصل دی.

۲. صبر او پر الله تعالی باور د ستونزو پر وخت انسان پیاوړی کوي.

۳. د پلار او زوی تر منځ د درناوي او خبرو اترو ارزښت ډېر دی.

۴. د الله تعالی رحمت پراخ دی.

۵. د قربانۍ په عبادت کي د تقوا او اخلاص ارزښت مهم دی.

د حضـــرت یوســف علیـــه السلام ښښنه

حضرت یوسف علیه السلام د حضرت یعقوب علیه السلام زوی وو. د هغه وروڼو د ده په اړه حسد وکړ او هغه یې له خپل پلار څخه جلا کړ. وروسته حضرت یوسف علیه السلام په مصر کي له ډېرو ازموینو سره مخ سو، خو پر الله تعالی یې باور وساته.

د وخت په تېرېدو سره الله تعالی حضرت یوسف علیه السلام ته لوړ مقام ورکړ. کله چې د هغه وروڼه مصر ته د خوراکي توکو د اخیستلو لپاره ورغلل، هغوی نه پوهېدل چې د مصر واکمن هماغه حضرت یوسف علیه السلام دی.

وروسته حضرت یوسف علیه السلام خپل هویت ور وپېژاند. وروڼه یې د خپلو تېرو کړنو له امله وشرمېدل او د هغه پر وړاندي یې خپله تېروتنه ومنله.

حضرت یوسف علیه السلام د غچ اخیستلو پر ځای هغوی وبښل او ورته ویې ویل:

لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ ۖ يَغْفِرُ اللَّهُ لَكُمْ

ژباړه: «نن پر تاسو هېڅ ملامتي نسته؛ الله دي تاسو وبخښي.»

سرچینه: سورة یوسف، ۹۲م آیت.

د کیسې عبرتونه

۱. حسد د انسان او د هغه د کورنۍ تر منځ ستونزي پیدا کوي.

۲. د ستونزو پر وخت صبر او پر الله تعالی باور مهم دي.

۳. کله چې انسان د ښښني توان ولري، ښښنه کول ډېر غوره اخلاق دي.

۴. د کورنۍ اړیکي باید د حسد او کینې له امله خرابې نه سي.

۵. انسان باید د خپل مقام او ځواک په وخت کي هم انصاف او مهرباني وکړي.

د حضرت یونس علیه السلام دعا

حضرت یونس علیه السلام د الله تعالی پیغمبر وو. قرآن کریم بیانوي چي هغه په تیارو کي خپل رب ته دعا وکړه او د الله تعالی د یکتایۍ او پاکۍ اعتراف یې وکړ.

د هغه دعا دا وه:

لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ

ژباړه: «له تا پرته بل معبود نسته؛ ته پاک یې، بېشکه زه له تېروتنه کوونکو څخه وم.»

الله تعالی د حضرت یونس علیه السلام دعا قبوله کړه او هغه یې له غمه وژغوره. په قرآن کریم کي د دې پېښې تر یادولو وروسته د الله تعالی د ژغورني یادونه سوې ده.

سرچینه: سورة الأنبیاء، ۸۷-۸۸ آیتونه.

د کیسې عبرتونه

۱. په ستونزو کي باید الله تعالی ته دعا وکړو.

۲. د الله تعالی یاد د مؤمن لپاره ډېر مهم دی.

۳. انسان باید خپله تېروتنه وپېژني او د اصلاح هڅه وکړي.

۴. د الله تعالی له رحمت څخه باید ناهیلی نه سو.

۵. دعا او توبه باید په رښتینولۍ او اخلاص سره وي.

د حضرت سلیمان علیه السلام او مېږي کیسه

الله تعالی حضرت سلیمان علیه السلام ته ځانګړي نعمتونه ورکړي وو. هغه د الله تعالی پیغمبر او پاچا وو. الله تعالی هغه ته د مرغانو او نورو مخلوقاتو د خبرو د پوهېدو ځانګړی نعمت هم ورکړی وو.

یوه ورځ حضرت سلیمان علیه السلام له خپل لښکر سره روان وو. کله چي هغوی د مېږیانو یوې درې ته ورسېدل، یوه مېږي نورو مېږیانو ته وویل چي خپلو ځالو ته ننوځي، څو د حضرت سلیمان علیه السلام لښکر یې تر پښو لاندي نه کړي.

حضرت سلیمان علیه السلام د مېږي خبره واورېده. هغه د مېږي په خبره موسکی سو او الله تعالی ته یې شکر ادا کړ.

هغه دعا وکړه چي الله تعالی ورته توفیق ورکړي څو د هغه د نعمتونو شکر ادا کړي او نېک عملونه ترسره کړي.

دا پېښه موږ ته ښیي چي د الله تعالی نعمتونه باید د شکر، عاجزۍ او نېکو اعمالو سبب سي.

سرچینه: سورة النمل، ۱۷-۱۹ آیتونه.

د کیسې عبرتونه

۱. د الله تعالی د نعمتونو شکر باید ادا کړو.

۲. له کوچنیو مخلوقاتو سره هم باید د مهربانۍ چلند وکړو.

۳. ځواک او مقام باید د غرور سبب نه سي.

۴. یو ښه مشر د نورو د خوندیتوب خیال ساتي.

۵. د الله تعالی له نعمتونو څخه د نېکو اعمالو لپاره کار اخیستل پکار دي.

د رښتیا ویلو زړورتیا

په یوه کلي کي یو هلک اوسېدی چي نوم یې حامد وو. هغه له خپل پلار او مور سره اوسېدی او هره ورځ به ښوونځي ته تلی.
یوه ورځ حامد له خپل ملګري سره د کور په انګړ کي لوبې کولې. د لوبو پر مهال یې په تېروتنه د کړکۍ ښیښه ماته کړه. هغه د ښیښې په ماتېدو ډېر ووېرېد، ځکه پوهېدی چي پلار به یې د دې کار په اړه پوښتنه کوي.
ملګري یې ورته وویل:
«حامده! که پلار دي پوښتنه درځخه وکړي، ورته ووایه چي دا کار ما نه دی کړی. کېدای سي هغه پوه نه سي چي ښیښه چا ماته کړې ده.»
حامد لږ فکر وکړ. هغه پوهېدی چي درواغ ویل ښایي د لنډ وخت لپاره له ستونزي څخه وژغوري، خو وروسته به یې زړه ناارامه وي.
کله چي پلار یې کور ته راغی، د ماتي ښیښې په لیدلو یې پوښتنه وکړه:
«دا ښیښه چا ماته کړې ده؟»
حامد په زړه کي وېره احساس کړه، خو په زړورتیا یې وویل:
«پلاره! دا ښیښه ما په تېروتنه ماته کړې ده. زه بخښنه غواړم. باید د لوبو پر وخت مي ډېر احتیاط کړی وای.»
پلار یې د زوی رښتینولي وستایله او ورته ویې ویل:
«زویه! د ښیښې ماتېدل یوه تېروتنه ده، خو درواغ ویل بله تېروتنه ده. که انسان خپله تېروتنه ومني، نو د هغې د اصلاح لاره پیدا کولای سي.»
حامد د خپل جېب له پیسو څخه یوه اندازه پیسې ورکړې او له خپل پلار سره یې د ښیښې په بدلولو کي مرسته وکړه.
له دې پېښې وروسته حامد زده کړل چي رښتیا ویل، که څه هم کله کله سخت وي، خو د انسان باور او عزت ساتي.
عبرتونه
۱. رښتیا ویل د زړورتیا نښه ده. ۲. د تېروتني منل د ښه اخلاقو یوه مهمه برخه ده. ۳. درواغ ښایي ستونزه د لږ وخت لپاره پټه کړي، خو باور له منځه وړي. ۴. انسان باید د خپلو کړنو مسؤلیت ومني. ۵. که تېروتنه وکړو، باید بخښنه وغواړو او د اصلاح هڅه وکړو.

د یوه وړي ماشوم مرسته

په یوه ښار کي یو ماشوم له خپلې کورنۍ سره اوسېدی. د هغه پلار به هره ورځ کار کاوه، څو د کور اړتیاوي پوره کړي. ماشوم هم د خپل پلار له وس سره سم د ژوند ارزښت پېژندلی وو.

یوه ورځ ماشوم له ښوونځي څخه کور ته روان وو. په لاره کي یې یو کوچنی هلک ولید چي د یوه دوکان تر څنګ ناست وو. هغه وړی ښکارېدی او د خوړو د اخیستلو لپاره یې پیسې نه لرلې.

ماشوم لږ ودرېد او له هغه څخه یې پوښتنه وکړه:

«وروره! ولي دلته ناست یې؟»

هلک ورته وویل:

«زه له خپل ورور څخه جلا سوی یم او ټوله ورځ مي څه نه دي خوړلي.»

ماشوم خپل خوراک ته وکتل. هغه د ځان لپاره ډوډۍ اخیستې وه. د ډوډۍ یوه برخه یې هغه هلک ته ورکړه او بیا یې د یوه نژدې دوکاندار په مرسته د هغه د کورنۍ د موندلو هڅه وکړه.

دوکاندار له هلک څخه د هغه د کور او کورنۍ په اړه پوښتني وکړې. وروسته یې د سیمي له خلکو سره په مرسته د هغه د کورنۍ د پیدا کولو هڅه وکړه.

تر لږ وخت وروسته د هلک کورنۍ راورسېده. هغوی خپل ماشوم ولید او ډېره خوشحاله سوه.

د ماشوم پلار چي له دې پېښې خبر سو، خپل زوی ته یې وویل:

«زویه! له اړمنو سره مرسته کول ډېر ښه کار دی، خو مرسته باید په هوښیارۍ او احتیاط سره هم وسي. که یو ماشوم ورک سوی وي، باید د هغه د کورنۍ یا یوه باوري مشر په پیدا کولو کي مرسته وکړو.»

ماشوم پوه سو چي د نورو لاس نیول نه یوازي مهرباني ده، بلکي د مسؤلیت او هوښیارۍ غوښتنه هم کوي.

< ادامه >

عبرتونه

۱. له ارمنو خلکو سره مرسته کول ښه اخلاق دي.

۲. کوچنۍ مرسته هم د بل انسان لپاره لوی ارزښت لرلای سي.

۳. د بل چا د ستونزي په لیدلو باید بې‌پروا پاته نه سو.

۴. له ورک سوي ماشوم سره د مرستي پر مهال باید یو باوري مشر یا مسؤل کس خبر کړو.

۵. مهرباني هغه وخت لا غوره وي چې له احتیاط او عقل سره مل وي.



د حسد ترخه پایله

په یوه ښوونځي کي دوه زده‌کوونکي وو. د یوه نوم فرید او د بل نوم نعمان وو. فرید په خپلو درسونو کي ډېر زیار ایست او تل یې هڅه کوله چي نوي شیان زده کړي.

نعمان هم هوښیار وو، خو کله چي به فرید ښه نمرې واخیستې، نعمان به خپه کېدی. د فرید د بریا پر ځای به یې د هغه د ناکامۍ هیله کوله.

یوه ورځ ښوونکي اعلان وکړ چي راتلونکې اوونۍ به د علمي معلوماتو سیالي ترسره کېږي. فرید د سیالۍ لپاره تیاری پیل کړ. کتابونه یې ولوستل او له ښوونکي څخه یې پوښتني وکړې.

نعمان هم د سیالۍ ګډونوال وو، خو د خپل تیاري پر ځای یې ډېر وخت د فرید په اړه فکر کاوه. هغه به ویل:

«که فرید په سیالۍ کي بریالی نه سي، زه به تر ده ښه ښکاره سم.»

کله چي سیالي پیل سوه، فرید د خپلو معلوماتو له امله ډېري پوښتني سمې جواب کړې. نعمان د ځینو پوښتنو جوابونه نه لرل، ځکه خپل وخت یې په بې‌ګټې فکرونو تېر کړی وو.

په پای کي فرید لومړی مقام ترلاسه کړ.

نعمان خپه سو، خو ښوونکي یې ورسره خبري وکړې او ورته ویې ویل:

«نعمانه! د بل چا بریا ستا د ناکامۍ معنا نه لري. که ته د خپل ملګري پر بریا حسد کوې، خپل وخت ضایع کوې. که د هغه له زیاره زده‌کړه وکړې، ته هم پرمختګ کولای سې.»

نعمان د ښوونکي خبره ومنله. هغه له فرید څخه وپوښتل چي د مطالعې لپاره څنګه تیاری نیسي. فرید ورته خپل د مطالعې طریقه وښودله.

له هغه وروسته نعمان د خپل ملګري د بریا د مخنیوي پر ځای د خپل پرمختګ لپاره هڅه پیل کړه.

د زړې ونې ارزښت

په یوه کلي کي یوه لویه او زړه ونه وه. د کلي ماشومان به د هغې تر سیوري لاندي لوبې کولې او مسافر به د سفر پر مهال هلته دمه کېدل.

یوه ورځ د کلي یوه ځوان وویل:

«دا ونه ډېره زړه سوې ده. که یې پرې کړو، ښایي د لرګیو څخه یې ګټه واخلو.»

ځینو خلکو د هغه خبره ومنله، خو یوه سپین‌ږیري ورته وویل:

«تر پرې کولو مخکي باید فکر وکړو چي دا ونه موږ ته څه ګټه رسوي. کېدای سي د هغې سیوری، د مرغانو ځالي او د چاپېریال لپاره یې ارزښت تر لرګیو ډېر وي.»

کلیوالو پرېکړه وکړه چي لومړی د ونې حالت وګوري. هغوی ولیدل چي ونه لا هم شنه ده او ګڼ مرغان پکي ځالي لري. د کلي خلک هم د هغې له سیوري څخه ګټه اخلي.

هغوی پرېکړه وکړه چي ونه به نه پرې کوي، بلکي ساتنه به یې کوي. د ونې شاوخوا یې پاکوالی وساته او ماشومانو ته یې لارښوونه وکړه چي څانګي یې ماتې نه کړي.

د وخت په تېرېدو سره د کلي خلکو د نورو ونو د کرلو لپاره هم هڅي پیل کړې.

هغوی پوه سول چي د طبیعت ساتنه یوازي د یوې ونې ساتل نه دي؛ بلکي د راتلونکو نسلونو لپاره د پاک چاپېریال ساتل هم دي.

عبرتونه

۱. د طبیعت ساتنه زموږ ګډ مسؤلیت دی. ۲. د هر شي د پرېکړې تر مخه باید د هغه ګټه او زیان وارزوو. ۳. ونې د سیوري، هوا او د ډېرو ژوو د ژوند لپاره ارزښت لري. ۴. د پخوانیو او ګټورو شیانو ساتنه باید بې‌فکره پرېښودل نه سي. ۵. د چاپېریال ساتنه د راتلونکو نسلونو لپاره هم مهمه ده.

د امانت قدر

په یوه کلي کي یو بزګر اوسېدی. هغه د کروندې لپاره یوه کوچنۍ کڅوړه تخمونه اخیستې وه. د ده ګاونډی هم بزګر وو او د کرلو لپاره یې تخمونو ته اړتیا لرله.

یوه ورځ ګاونډي د بزګر دروازه وټکوله او ورته ویې ویل:

«وروره! زما تخمونه د باران له امله خراب سوي دي. که ستا سره لږ اضافي تخمونه وي، د یوې ورځې لپاره یې راکړه. زه به یې د خپل حاصل له راټولولو وروسته بېرته درکړم.»

بزګر له ګاونډي سره مرسته وکړه او د تخمونو یوه برخه یې په امانت ورکړه.

ګاونډي تخمونه وکرل او د فصل تر پای پورې یې ښه حاصل ترلاسه کړ. خو کله چې د امانت د بېرته ورکولو وخت راغی، هغه په دې فکر کي سو چې کېدای سي بزګر د تخمونو خبره هېره کړې وي.

ده له ځان سره وویل:

«که زه تخمونه بېرته ورنه کړم، ښایي څوک خبر نه سي.»

خو لږ وروسته یې د خپل ضمیر خبره واورېده او پوه سو چې امانت ساتل د خلکو د باور بنسټ دی. هغه د بزګر کور ته ورغی، د تخمونو حق یې ادا کړ او له مرستې څخه یې مننه وکړه.

بزګر ورته وویل:

«زما لپاره یوازې تخمونه مهم نه دي؛ ستا رښتینولي او زمونږ تر منځ باور هم مهم دی.»

له دې پېښې وروسته ګاونډی پوه سو چې د امانت ادا کول د انسان د اخلاقو او مسؤلیت برخه ده.

عبرتونه

۱. امانت باید پر خپل وخت بېرته وسپارل سي. ۲. د بل چا د مهربانۍ څخه ناوړه ګټه اخیستل ناسم کار دی. ۳. د انسان رښتینولي د خلکو باور پیاوړی کوي. ۴. که څوک له موږ سره مرسته وکړي، باید مننه ورڅخه وکړو. ۵. د خلکو تر منځ باور د رښتینولۍ او د حقونو د ادا کولو له لارې ساتل کېږي.

د وخت ارزښت

په یوه کلي کې یو هلک اوسېده چې نوم یې نعمان و. نعمان هوښیار و، خو د وخت قدر یې نه پېژانده. د ښوونځي دندې به یې سبا ته پرېښودې، کتابونه به یې د ازموینې په شپه لوستل او هر کار به یې په ځنډ کاوه.

پلار به یې ورته ویل: «زویه! وخت چې یو ځل تېر شي، بېرته نه راګرځي. که نن خپل کار وکړې، سبا به ارام یې.»

خو نعمان به ویل: «لا وخت ډېر دی، وروسته به یې وکړم.»

یوه ورځ ښوونکي اعلان وکړ چې په راتلونکې اوونۍ کې به مهمه ازموینه وي. نعمان بیا هم لوبو ته کېناست او کتابونه یې ونه لوستل.

کله چې د ازموینې شپه راورسېده، پوه شو چې ډېر درسونه پاتې دي. ټوله شپه یې مطالعه وکړه، خو د سترګو له املې یې په ازموینه کې سم ځوابونه ورنه کړل.

کله چې پایلې اعلان شوې، نعمان ډېر خپه شو. له ښوونکي یې د خپلې کمزورې پایلې په اړه پوښتنه وکړه.

ښوونکي ورته وویل: «ته د زده کړې وړتیا لرې، خو خپل وخت دې په بېپروایۍ تېر کړ. بریا یوازې په هوښیارۍ نه ترلاسه کېږي؛ منظم کار او د وخت ساتنه هم غواړي.»

نعمان د ښوونکي خبره ومنله. له هغې ورځې وروسته یې د درس، لوبو او استراحت لپاره ځانګړی وخت وټاکه. هره ورځ یې خپل کار پر وخت ترسره کاوه. په راتلونکې ازموینه کې یې ښې نمرې واخیستې او د خپل بدلون له املې ډېر خوشحاله شو.



عبرتونه

۱. وخت د انسان له ارزښتناکو نعمتونو څخه دی.

۲. کارونه باید بېځایه سبا ته پرېنښودل شي.

۳. بریا د هڅې، نظم او پر وخت کار کولو پایله ده.

۴. له تېروتنو څخه زده کړه کول د هوښیارۍ نښه ده.

۵. د درس او لوبو ترمنځ مناسب توازن مهم دی.

د رښتینې ملګرتیا امتحان

په یوه کلي کې دوه هلکان، حقاني او قریشي، ډېر نږدې ملګري وو. دواړه به یوځای ښوونځي ته تلل، لوبې به یې کولې او د یو بل په کارونو کې به یې مرسته کوله.

یوه ورځ حقاني د ښوونځي پر لاره ولوېد او کتابونه یې په خټو کې ولوېدل. ځینو هلکانو پرې وخندل، خو قریشي ورنږدې شو، کتابونه یې راټول کړل او حقاني یې تر ښوونځي پورې ملتیا وکړه.

څو ورځې وروسته قریشي ناروغ شو او ښوونځي ته نه شو تلای. هغه د ازموینې لپاره درسونه نه وو بشپړ کړي. حقاني چې د خپل ملګري له ستونزې خبر شو، د ښوونځي له اجازې سره سم یې د درسونو یادښتونه ورته برابر کړل او له هغه سره یې د لوستلو مرسته وکړه.

کله چې قریشي ښېرته ښوونځي ته راغی، له حقاني څخه یې مننه وکړه او ورته ویې ویل: «اوس پوه شوم چې رښتینی ملګری هغه نه دی چې یوازې د خوشحالۍ پر وخت درسره وي؛ بلکې هغه دی چې د ستونزې پر وخت دې لاس ونیسي.»

د دوی ملګرتیا نوره هم پیاوړې شوه. دواړو زده کړل چې ښه ملګرتیا یوازې په خبرو نه، بلکې په عمل، وفادارۍ او مرستې ثابتېږي. او تر نن ورځې پورې ددوي ملګرتیا یو مثال دي.

عبرتونه



۱. رښتینی ملګری د ستونزو پر وخت مرسته کوي.
۲. د نورو په کمزورۍ باید ونه خاندو.
۳. ملګرتیا په مهربانۍ او وفاداری پیاوړې کېږي.
۴. د ملګري مرسته باید د هغه د ښېګڼې لپاره وي.
۵. ښه ملګري یو بل ښو کارونو ته هڅوي.

د کبر پایله

په یوه ښار کې یو شتمن سوداګر اوسېده. هغه ډېر مال او ښکلې کورونه لرل، خو له بېوزلو خلکو سره یې ښه چلند نه کاوه. فکر یې کاوه چې شتمني یې تر نورو غوره کوي.

یوه ورځ د هغه د کور مخې ته یو زوړ سړی راغی او د اوبو غوښتنه یې وکړه. سوداګر په غوسه ورته وویل: «له دې ځایه لاړ شه! زه ستا په شان خلکو ته وخت نه لرم.»

زوړ سړی غلی روان شو. د سوداګر یو کوچنی زوی چې دا حالت یې لیدلی و، له پلاره یې وپوښتل: «پلاره! که ته کله بېوزله شې او مرستې ته اړتیا ولرې، غواړې چې خلک هم درسره داسې چلند وکړي؟»

د زوی پوښتنې سوداګر فکر کولو ته اړ کړ. هغه پوه شو چې د شتمنۍ له امله یې په زړه کې غرور پیدا شوی دی.

بله ورځ چې یو اړمن سړی د مرستې لپاره ورغی، سوداګر په درناوي ورسره خبرې وکړې، خواړه یې ورکړل او د هغه ستونزه یې واورېده. ورو ورو یې له خلکو سره خپل چلند بدل کړ.

د سوداګر زوی هم زده کړل چې د انسان ارزښت په شتمنۍ او جامو کې نه، بلکې په ښو اخلاقو او کړنو کې دی.

عبرتونه

۱. کبر او غرور د انسان ښه نوم خرابوي.

۲. له هر انسان سره باید په درناوي چلند وشي.

۳. شتمني د انسان د غوره‌والي معیار نه دی.

۴. د نورو اړتیاوې باید په سپکه ونه ګڼل شي.

۵. د ټبروتنې منل او خپل چلند بدلول ښه کار دی.

د یوه کوچني کار لویه ګټه

په یوه کلي کې د بارانونو له امله د خلکو د تګ لاره خرابه شوې وه. پر لاره ډبرې او خټې پرتې وې او خلک په تګ راتګ کې له ستونزو سره مخ وو.

یوه ورځ یو هلک د ښوونځي پر لاره روان و. هغه ولیدل چې یوه لویه ډبره د لارې په منځ کې پرته ده او خلک اړ کېږي چې ترې چاپېر تېر شي. هلک هڅه وکړه ډبره له لارې لرې کړي، خو ډبره درنه وه.

ده یو بل هلک راوغوښت. دواړو په ګډه هڅه وکړه، خو ډبره لا هم نه خوځېده. بیا یې له یوه لوی سړي څخه مرسته وغوښته. درې واړو ډبره له لارې لرې کړه.

څه وخت وروسته یو سپین‌ږیری له همدې لارې تېر شو. که ډبره پر ځای پاتې وای، ښایي هغه پرې ښوېدلی وای. سپین‌ږیري د لارې له پاکېدو خوښي څرګنده کړه او له هلکانو یې مننه وکړه.

هلکانو پوه شول چې د خلکو د ګټې لپاره هر کار، که کوچنی هم وي، ارزښت لري. له هغې ورځې وروسته به یې د کلي په پاکوالي او د عامو لارو په سم ساتلو کې هم مرسته کوله.

عبرتونه

۱. کوچني ښه کارونه هم لویه ګټه لرلای شي.

۲. د ټولنې د ستونزو حل د ټولو ګډ مسؤلیت دی.

۳. په ګډه کار کول ستونزې اسانه کوي.

۴. د نورو د خوندیتوب خیال ساتل ښه اخلاق دي.

۵. د خلکو خدمت یوازې په لویو کارونو پورې ترلی نه دی.

د وعدې پوره کول

په یوه کلي کې یو هلک اوسېده چې نوم یې بلال و. یوه ورځ یې له خپل ګاونډي ملګري سره وعده وکړه چې د ښوونځي له رخصتۍ وروسته به ورسره د باغ د پاکولو په کار کې مرسته کوي.

د ښوونځي له رخصتۍ وروسته د بلال ملګرو هغه د لوبو لپاره راوبالله. بلال هم لوبې کول غوښتل، خو د خپل ملګري وعده یې ورپه یاد شوه.

هغه له ملګرو سره په درناوي خبرې وکړې او ورته ویې ویل: «ما له خپل ملګري سره وعده کړې ده چې نن به ورسره مرسته کوم. کله چې خپل کار بشپړ کړم، بیا به درسره لوبې وکړم.»

بلال د خپل ملګري کور ته ولاړ او دواړو باغ پاک کړ. کار یې تر تمې لږ ژر پای ته ورسېد، نو بلال وروسته له خپلو ملګرو سره لوبو ته هم ورسېد.

د بلال ملګري د هغه له وفاداري خوښ شول. د کلي خلکو هم پر هغه باور درلود، ځکه پوهېدل چې بلال خپلې خبرې بېځایه نه کوي.

بلال زده کړل چې وعده یوازې خبرې نه دي؛ وعده د انسان د باور او شخصیت یوه مهمه برخه ده.

عبرتونه

۱. وعده باید تر وسه پوره شي.

۲. د نورو وخت او تمه باید په پام کې ونیول شي.

۳. د وعدې پوره کول د باور سبب ګرځي.

۴. د ساتېرۍ تر څنګ مسؤلیتونه هم مهم دي.

۵. انسان باید د خبرو او عمل ترمنځ برابري وساتي.

د ښوال صبر

یو ښوال د خپل کور تر څنګ څو نیالګي وکرل. هره ورځ به یې اوبه ورکولې، خاوره به یې ورته نرمه کوله او د زیان رسوونکو واښو مخه به یې نیوله.

د ښوال کوچنی زوی به هره ورځ پوښتنه کوله: «پلاره! زمونږ نیالګي به کله لویږي او مېوې به کوي؟»

پلار به یې ورته ویل: «زویه! هر کار خپل وخت لري. نیالګي په یوه ورځ ونه کښږي او ونه په یوه شپه مېوه نه نیسي.»

زوی یې له دې ځواب څخه ډېر خوښ نه و. غوښتل یې چې ژر تر ژره مېوې وویني. خو پلار یې ورته د نیالګیو د ساتنې طریقه وښوده او ویې ویل چې که په بیړه او بېحوصلګۍ کار وکړي، نیالګي به زیانمن شي.

میاشتې تېرې شوې. نیالګي ورو ورو لوی شول او پانې یې وکړې. څو کاله وروسته ځینو ونو مېوې ونیولې. زوی یې د بڼ له ښکلا او مېوو ډېر خوشحاله شو.

پلار ورته وویل: «اوس پوه شوې چې صبر یوازې انتظار نه دی؛ صبر دا دی چې د خپل هدف لپاره په دوامداره توګه سم کار وکړې.»

عبرتونه

۱. لویې پایلې وخت او هڅې غواړي.

۲. صبر د کار پرېښودل نه، بلکې دوام ورکول دي.

۳. د طبیعت ساتنه د راتلونکو نسلونو لپاره ګټوره ده.

۴. په بیړه کې باید د کار کیفیت خراب نه کړو.

۵. دوامداره هڅه په پای کې ښې پایلې ورکوي.

د ناپوهۍ پرځای پوښتنه

په یوه ښوونځي کې یو زده‌کوونکی و چې نوم یې سمیع و. هغه کله ناکله د درس په ځینو برخو نه پوهیده، خو له دې وېرې یې پوښتنه نه کوله چې نور زده‌کوونکي به پرې وخاندي.

یوه ورځ ښوونکي د ریاضي یوه ستونزمنه مسئله تشریح کړه. سمیع په مسئله پوه نه شو، خو غلی پاتې شو. کله چې کور ته ولاړ، د کورنۍ دندې په حل کې له ستونزې سره مخ شو.

بله ورځ ښوونکي له ټولګي وپوښتل چې ایا څوک د درس په کومه برخه کې پوښتنه لري. سمیع زړه وکړ او خپل مشکل یې بیان کړ. ښوونکي په مهربانۍ سره مسئله بیا تشریح کړه او له نورو زده‌کوونکو یې هم وغوښتل چې خپل نظرونه شریک کړي. سمیع په پای کې مسئله زده کړه.

وروسته هغه پوه شو چې پوښتنه کول د کمزورۍ نښه نه ده؛ بلکې د زده کړې یوه مهمه لاره ده. له هغې ورځې وروسته به یې چې په کوم درس نه پوهیده، په ادب به یې پوښتنه کوله.

عبرتونه

۱. د پوهېدو لپاره پوښتنه کول مهم دي.

۲. باید د نورو له خندا څخه د زده کړې مخه ونه نیسو.

۳. ښوونکي او پوه خلک د زده کړې په لاره کې مرسته کوي.

۴. د خپل ناپوهۍ منل د پوهې لومړی ګام دی.

۵. په ادب پوښتنه کول د علم د زیاتېدو سبب ګرځي.

د انصاف تله

په یوه بازار کې دوه سوداګر دوکانونه لرل. یو سوداګر به د خپلو توکو وزن په دقت کتل او پېرودونکو ته به یې پوره حق ورکاوه. بل سوداګر به کله ناکله د ترازو په وسیله خلکو ته لږ توکي ورکول، خو د بشپړ وزن پیسې به یې اخیستې.

یوه ورځ یوه ښځه د خپل کور لپاره اوړه واخیستل. کله چې کور ته ورسېده، پوه شوه چې د اوړو اندازه د معمول په پرتله کمه ده. بله ورځ بازار ته راغله او له سوداګر څخه یې د وزن په اړه پوښتنه وکړه. سوداګر لومړی خپله تېروتنه نه منله، خو کله چې وزن یې بیا وکوت، پوه شو چې ترازو یې سمه نه ده. هغه د ښځې حق ورپوره کړ او د ترازو د سمولو پرېکړه یې وکړه.

د بازار نورو خلکو هم ورته وویل چې د پېرودونکو حق باید په بشپړ ډول ورکړي. سوداګر د هغوی خبرې ومنلې او وروسته یې په وزن او بیه کې انصاف کاوه.

د وخت په تېرېدو خلک پر هغه ببرته باورمن شول، ځکه پوه شول چې هغه خپله تېروتنه اصلاح کړې ده.

عبرتونه

۱. په راکړه ورکړه کې انصاف ډېر مهم دی.

۲. د نورو حق خوړل د باور د له منځه تلو سبب کېږي.

۳. تېروتنه باید ومنل شي او اصلاح شي.

۴. سوداګري باید د رښتینولۍ او امانت پر بنسټ وي.

۵. د خلکو باور په ښه چلند ترلاسه کېږي.

د کتاب پټه خزانه

په یوه کلي کې یو هلک و چې نوم یې فهیم و. هغه به فکر کاوه چې کتابونه یوازې د ښوونځي لپاره دي او له کتابونو پرته هم انسان ډېر څه زده کولای شي.

یوه ورځ د هغه تره له سفره راستون شو او فهیم ته یې یو ښکلی کتاب ډالۍ کړ. فهیم کتاب په الماری کې کېښود، خو لوستل یې نه پیلول. څو ورځې وروسته د ښوونځي ښوونکي د یوې سیالۍ اعلان وکړ. زده‌کوونکو ته یې وویل چې د طبیعت، تاریخ او ساینس په اړه به پوښتنې کېږي. فهیم غوښتل چې په سیالۍ کې برخه واخلي، خو د ډېرو پوښتنو ځوابونه یې نه شوای ویلای.

هغه د خپل تره ډالۍ شوی کتاب راواخیست او لوستل یې پیل کړل. هره ورځ به یې څو پاڼې لوستلې او نوي معلومات به یې په یوه کتابچه کې لیکل.

کله چې سیالي پیل شوه، فهیم د کتابونو له لارې زده کړي معلومات په ځوابونو کې وکارول. که څه هم هغه ټولې پوښتنې ځواب نه کړې، خو ډېر څه یې زده کړل او په راتلونکو سیالیو کې یې لا ښه ګډون وکړ.

هغه پوه شو چې کتاب د پوهې خزانه ده، خو خزانه هغه وخت ګټه کوي چې انسان ترې استفاده وکړي.

عبرتونه

۱. کتاب د پوهې او زده کړې مهمه وسیله ده.
۲. یوازې د کتاب لرل بسنه نه کوي؛ لوستل یې هم ضروري دي.
۳. هره ورځ لږه مطالعه د پوهې په زیاتېدو کې مرسته کوي.
۴. نوي معلومات باید په غور زده او په عمل کې وکارول شي.
۵. د زده کړې لپاره باید دوامداره هڅه وکړو.

د مهربانۍ ببرته راستنېدل

په یوه کلي کې یوه نجلۍ اوسېده چې نوم یې مریم و. هغه به له خلکو سره په مهربانۍ چلند کاوه او که به یې د چا ستونزه ولیده، تر خپلې وسې به یې مرسته ورسره کوله.

یوه ورځ مریم ښوونځي ته روانه وه چې د لارې پر غاړه یې یوه بوډۍ ښځه ولیده. ښځه له بازاره د سبزیو یوه درنه کڅوړه راوړې وه او د سټرۍ له امله یې دمه کوله.

مریم ورنږدې شوه، سلام یې وکړ او د کڅوړې د وړلو مرسته یې ورسره وکړه. بوډۍ ښځې تر خپل کوره د مریم ملتیا وغوښته. مریم په خوښۍ ورسره ولاړه او بیا ښوونځي ته لاړه.

څو ورځې وروسته مریم د ښوونځي له لارې کور ته راستنېده چې باران پیل شو. د لارې خټې ډېرې شوې او د هغې د کتابونو کڅوړه لمده کېدله. یوه ښځه چې له هماغې لارې تېرېده، مریم یې ولیده او د باران له څاڅکو څخه یې د ساتنې لپاره تر خپل چتر لاندې ونیوله.

مریم وروسته پوه شوه چې هغه هماغه بوډۍ ښځه وه چې څو ورځې مخکې یې مرسته ورسره کړې وه.

بوډۍ ښځې ورته وویل: «لورې! ستا هغه مرسته مې هېره نه ده. نن چې زه درسره مرسته کوم، ځکه پوهېږم چې د انسانانو ترمنځ مهرباني څومره ارزښت لري.»

مریم خوشحاله شوه. هغې زده کړل چې مهرباني باید یوازې د دې لپاره ونه شي چې په بدل کې یې څه ترلاسه کړو؛ مهرباني په خپله یو ښه کار دی او د خلکو ترمنځ مینه زیاتوي.

عبرتونه

۱. له ارمنو خلکو سره مرسته کول ښه اخلاق دي.

۲. مهرباني د خلکو ترمنځ مینه او باور پیاوړی کوي.

۳. د ښه کار ارزښت په دې کې نه دی چې حتماً بدل یې ترلاسه شي.

۴. د نورو ستونزو ته پام کول د مهربانۍ نښه ده.

۵. هر څوک کولای شي په یوه کوچني کار د بل چا ورځ ښه کړي.

د دروغو پایله

په یوه کلي کې یو هلک اوسېده چې نوم یې سلیم و. هغه عادت درلود چې د خپلو تېروتنو د پټولو لپاره به یې دروغ ویل.
یوه ورځ یې د کور د کړکۍ شیشه ماته کړه. مور یې ترې وپوښتل: «زویه! دا شیشه چا ماته کړې ده؟»
سلیم وویل: «ما نه ده ماته کړې، ښایي د باد له امله ماته شوې وي.» مور یې څه ونه ویل، خو سلیم پوهېده چې دروغ یې ویلي دي.
څو ورځې وروسته یې د خپل ملګري کتاب ورک کړ. کله چې ملګري یې د کتاب پوښتنه وکړه، سلیم بیا هم دروغ وویل. ملګري یې پر خبرو باور ونه کړ او له هغه څخه خپه شو.
وروسته سلیم په رښتیا یوه مهمه خبره ولیده او غوښتل یې چې نورو ته یې ووایي، خو چا یې خبره په اسانۍ نه منله. هغه پوه شو چې د خپلو پخوانیو دروغو له امله یې د خلکو باور له لاسه ورکړی دی.
سلیم له خپلې مور سره مشوره وکړه. مور یې ورته وویل: «زویه! د انسان باور په ډېر وخت جوړېږي، خو په څو دروغو له منځه تللای شي.»
سلیم خپلې تېروتنې ومنلې، له ملګري یې بښنه وغوښته او پرېکړه یې وکړه چې نور به رښتیا وایي. خلکو ورو ورو بېرته پر هغه باور پیدا کړ.

عبرتونه

۱. دروغ د انسان باور له منځه وړي.
۲. د تېروتنې منل د زړورتیا نښه ده.
۳. رښتینولي د ښو اړیکو بنسټ دی.
۴. د خلکو باور بېرته ترلاسه کول وخت غواړي.
۵. د یوې تېروتنې پټول کله ناکله ستونزه نوره هم لویوي.

د دوو ورونو یووالی

په یوه کلي کې دوه ورونه اوسېدل. مشر ورور یې نعمت نومېده او کشر ورور یې رحمت. دواړو له خپل پلار څخه یوه کوچنۍ ځمکه په میراث اخیستې وه.

په پیل کې دواړه په مینه ژوند کاوه، خو کله چې د ځمکې د وېش خبره راغله، اختلاف یې پیدا شو. هر یوه غوښتل چې د ځمکې غوره برخه د ده شي.

د دوی ترمنځ خبرې ترخې شوې او دواړو له یو بل سره تګ راتګ کم کړ. د کورنۍ نور غړي هم د دې حالت له امله خپه وو.

یوه ورځ په کلي کې سخت باران وشو او د دوی د ځمکې د اوبو لاره بنده شوه. که دواړو په ګډه کار نه وای کړی، د ځمکې فصل به زیانمن شوی وای.

دوی اړ شول چې سره کښېني او د ستونزې د حل لپاره مشوره وکړي. په ګډه یې د اوبو لاره پاکه کړه او فصل یې وژغوره.

د کار پر مهال مشر ورور کشر ته وویل: «موږ د ځمکې پر یوې برخې دومره اختلاف وکړ، چې خپل ورورولي مو له خطر سره مخ کړه.» رحمت هم ومنله چې د دوی ترمنځ مینه د ځمکې تر ارزښت ډېره ده. دواړو د ځمکې د عادلانه وېش لپاره د کورنۍ له مشرانو سره مشوره وکړه او اختلاف یې حل کړ.

عبرتونه

۱. د کورنۍ مینه باید د مال له امله زیانمنه نه شي.
۲. اختلافونه د خبرو او مشورې له لارې حل کېدای شي.
۳. یووالی د ستونزو په حل کې مرسته کوي.
۴. د نورو حق باید په انصاف ورکړل شي.
۵. بخښنه او تفاهم د اړیکو د پیاوړتیا سبب کېږي.

د کوچني خدمت ارزښت

په یوه ښوونځي کې یو زده‌کوونکی و چې نوم یې جاوېد و. هغه فکر کاوه چې یوازې لوی کارونه ارزښت لري او کوچني کارونه د پام وړ نه دي.

یوه ورځ ښوونکي زده‌کوونکو ته وویل چې د ټولګي پاک ساتل د ټولو ګډ مسؤلیت دی. ځینو زده‌کوونکو د ټولګي پاکولو ته زړه ښه نه کړ، ځکه هغوی فکر کاوه چې دا کار د ښوونځي د کارکوونکو دنده ده.

جاوېد هم په لومړي سر کې له هغوی سره کښېناست، خو کله یې چې ولیدل د ټولګي په کونج کې کاغذونه پراته دي او د تګ لاره یې بنده کړې ده، پورته شو او کاغذونه یې راټول کړل.

ورو ورو دوه نور زده‌کوونکي هم ورسره یوځای شول. هغوی ټولګی پاک کړ، کتابونه یې منظم کړل او میزونه یې سم کړل.

کله چې ښوونکی ټولګي ته راغی، د زده‌کوونکو له کاره خوښ شو. هغه ورته وویل: «د ښو کارونو ارزښت په دې کې نه دی چې څومره لوی وي؛ ارزښت یې په دې کې دی چې څومره ګټه رسوي.»

جاوېد پوه شو چې یو کوچنی خدمت هم د ډېرو خلکو لپاره اسانتیا رامنځته کولای شي.

له هغې ورځې وروسته به یې د ښوونځي او کور په پاک ساتلو کې برخه اخیسته.

عبرتونه

۱. هر حلال او ګټور کار ارزښت لري.
۲. د خپل چاپېریال پاک ساتل د ټولو مسؤلیت دی.
۳. د یوه کس ښه عمل نور هم هڅولای شي.
۴. د کار ارزښت یوازې په لویوالي نه اندازه کېږي.
۵. د ګډ کار په وسیله ښې پایلې ترلاسه کېدای شي.

د زغم ځواک

په یوه ښار کې یو ځوان اوسېده چې نوم یې فرید و. هغه ډېر ژر غوسه کېده. که به چا ورسره مخالفت وکړ، سمدستي به یې توند ځواب ورکاوه.

یوه ورځ فرید له خپل ملګري سره د لوبې پر مهال اختلاف پیدا کړ. ملګري یې په تېروتنه د فرید توپ بلې خوا ته وغورځاوه. فرید دومره په غوسه شو چې له ملګري سره یې بدې خبرې وکړې.

ملګری یې خپه شو او له هغه ځایه ولاړ. فرید وروسته پښېمانه شو، خو ملګري یې د هغه له چلنده زړه بدی کړی و.

د فرید پلار چې له دې پېښې خبر شو، ورته ویې ویل: «زویه! غوسه کله ناکله انسان داسې خبرې کولو ته اړ باسي چې وروسته یې پښېماني وي. د غوسې پر وخت لږ تم کېدل او فکر کول ډېر مهم دي.»

فرید د پلار خبره په پام کې ونیوله. له هغې وروسته به یې چې غوسه احساس کړه، سمدستي به یې ځواب نه ورکاوه. لږ به غلی شو، ژوره ساه به یې واخیسته او بیا به یې په ارامه خبرې کولې.

ورو ورو یې له خلکو سره اړیکې ښې شوې او ملګري یې هم ببرته ورسره نږدې شول.

عبرتونه

۱. د غوسې کنټرول د پیاوړي شخصیت نښه ده.

۲. د خبرو تر مخه فکر کول د پښېمانۍ مخه نیسي.

۳. په اختلاف کې باید د بل انسان درناوی وساتل شي.

۴. له تېروتنې وروسته ښېنه غوښتل ښه کار دی.

۵. زغم د ستونزو په ارامه حل کې مرسته کوي.

د ښوونکی درناوی

په یوه ښوونځي کې یو زده‌کوونکی و چې نوم یې نعیم و. هغه ډېر هوښیار و، خو کله ناکله به یې د ښوونکي خبرې په بې‌پروایی اوربدې او د ټولګي پر مهال به یې له ملګرو سره خبرې کولې.

یوه ورځ ښوونکي د یوې مهمې موضوع تشریح پیل کړه. نعیم د درس پر ځای له خپل ملګري سره خبرې کولې، نو د درس ډېره برخه ترې پاتې شوه.

کله چې ښوونکي د موضوع په اړه پوښتنې وکړې، نعیم ځوابونه نه شوای ورکولای. هغه پوه شو چې د خپل بې‌پروا چلند له امله یې د زده کړې فرصت له لاسه ورکړی دی.

د رخصتی پر مهال نعیم له ښوونکي څخه ښښنه وغوښته او ویې ویل: «استاده! ما باید ستاسو خبرې په غور اوربدلې وای.»

ښوونکي ورته وویل: «زویه! ښوونکی یوازې معلومات نه درښیي؛ هغه هڅه کوي چې ته پوه، باادبه او د ژوند لپاره چمتو شې. د درس پر مهال پام کول ستا خپله ګټه ده.»

نعیم له هغې ورځې وروسته د درس پر مهال پام کاوه، د اړتیا پر وخت یې پوښتنې کولې او د ښوونکي خبرې یې په درناوي اوربدې. د هغه په زده کړه کې هم ښه والی راغی.

عبرتونه

۱. د ښوونکي درناوی د زده کړې یوه مهمه برخه ده.

۲. د درس پر مهال پام کول د پوهې د زیاتېدو سبب کېږي.

۳. له تېروتنې وروسته ښښنه غوښتل ښه اخلاق دي.

۴. د زده کړې فرصتونه باید ضایع نه شي.

۵. ادب او پوهه باید یوځای وده وکړي.

د بزګر هوښیاري

په یوه کلي کې یو بزګر اوسېده چې د غنمو یوه کوچنۍ ځمکه یې لرله. هغه به هر کال خپل فصل په ښه ډول ساته او د حاصلاتو یوه برخه به یې د راتلونکو ورځو لپاره زېرمه کوله.

د کلي یو بل بزګر به د حاصل له راټولولو وروسته ټول غنم پلورل او پیسې به یې ژر مصرفولې. هغه فکر کاوه چې راتلونکی کال به هم همدومره حاصل وکړي.

یو کال په سیمه کې بارانونه کم شول او د ډېرو بزګرانو فصلونه ښه ونه شول. هغه بزګر چې خپل ټول غنم یې پلورلي او پیسې یې مصرف کړې وې، له ستونزو سره مخ شو.

خو هوښیار بزګر د خپلو زېرمه کړو غنمو یوه برخه د خپلې کورنۍ لپاره وساتله او بله برخه یې په مناسبه بیه هغو خلکو ته ورکړه چې اړتیا یې لرله.

بل بزګر تري وپوښتل: «ته څنګه له دې ستونزې سره مقابله کوې؟»

هغه ورته وویل: «ما د ښه حاصل په وخت کې د سختو ورځو فکر هم کړی و. انسان باید د نن اړتیاوې پوره کړي، خو د سبا لپاره هم تدبیر ولري.»

بل بزګر له دې خبرې زده کړه وکړه او پرېکړه یې وکړه چې له دې وروسته به د خپل حاصل یوه برخه د اړتیا وړ وخت لپاره ساتي.

عبرتونه

۱. د راتلونکي لپاره تدبیر کول هوښیاري ده.

۲. د عاید یوه برخه باید د اړتیا وړ ورځو لپاره وساتل شي.

۳. طبیعي ستونزې د انسان له ژوند سره تړلې دي.

۴. له نورو سره مرسته کول د ښه اخلاقو نښه ده.

۵. د نن ورځې په خوښۍ کې باید د سبا اړتیاوې هېرې نه شي.

د ګاونډي حق

په یوه کلي کې دوه ګاونډیان اوسېدل. د یوه نوم کریم و او د بل نوم حامد. کریم د خپل کور مخې ته د اوبو یو نالی جوړ کړی و، خو د هغه د پاک ساتلو خیال یې نه کاوه.

ورو ورو په نالي کې خځلې او خټې راټولې شوې او د اوبو جریان یې بند کړ. د باران پر مهال اوبه د حامد د کور مخې ته ودرېدې او د تګ راتګ لاره یې خرابه کړه.

حامد څو ځله له کریم څخه وغوښتل چې نالی پاکه کړي، خو کریم هر ځل ورته ویل: «دا زما کار نه دی، اوبه به خپله لاره پیدا کړي.»

یوه ورځ سخت باران وشو او اوبه د کریم د کور مخې ته هم راټولې شوې. هغه پوه شو چې د نالي نه پاکول یوازې د ګاونډي، بلکې د ده خپله ستونزه هم وه.

کریم له حامد څخه بښنه وغوښته او دواړو په ګډه نالی پاکه کړه.

وروسته یې پرېکړه وکړه چې د بارانونو له موسم مخکې به د سیمې لارې او نالۍ پاکوي.

دوی زده کړل چې د ګاونډي حق یوازې په خبرو نه ادا کېږي؛ د هغه د ارامۍ او اسانتیا خیال ساتل هم مهم دي.

عبرتونه

۱. له ګاونډیانو سره ښه چلند د ښه ژوند برخه ده.

۲. د ګډ چاپېریال پاک ساتل د ټولو مسؤلیت دی.

۳. د نورو ستونزې باید بې‌اهمیته ونه ګڼل شي.

۴. ګډ کار د ستونزو په حل کې مرسته کوي.

۵. د خپلې تېروتنې منل د اصلاح لومړی ګام دی.

د زده کړې دوام

په یوه کلي کې یو سړی اوسېده چې نوم یې ظاهر و. هغه د ماشومتوب پر مهال ښوونځي ته تللی و، خو د کورنیو ستونزو له امله یې زده کړې نیمګړې پاتې شوې وې.

ظاهر له کلونو وروسته د لوستلو او لیکلو د زده کړې پرېکړه وکړه. ځینو خلکو ورته وویل: «ته اوس لوی شوی یې؛ نور نو ولې زده کړه کوې؟»

خو ظاهر د هغوی خبرو ته پام ونه کړ. د ورځې به یې کار کاوه او ماښام به یې د زده کړې لپاره وخت ځانګړی کاوه.

په پیل کې ورته د تورو پېژندل او د کلمو لوستل ستونزمن وو. کله ناکله به یې یوه کلمه څو ځله لوستله، خو نه به پرې پوهېده. بیا به یې له ښوونکي مرسته وغوښته او ببرته به یې هڅه کوله.

څو میاشتې وروسته ظاهر وکولای شول چې لنډې لیکنې ولولي او خپل نوم ولیکي. وروسته یې د حساب ځینې بنسټیز مهارتونه هم زده کړل.

ظاهر خوشحاله و، ځکه پوه شو چې د زده کړې لپاره یوازې د ماشومتوب وخت نه دی مهم؛ اراده، هڅه او دوام هم ارزښت لري.

عبرتونه

۱. د زده کړې لپاره د عمر په هر پړاو کې هڅه کېدای شي.

۲. ستونزې باید د پرمختګ مخه ونه نیسي.

۳. دوامداره هڅه د مهارتونو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي.

۴. د مرستې غوښتل د کمزورۍ نښه نه ده.

۵. پوهه د انسان د ژوند په ښه کولو کې مرسته کوي.

د ونې سیوری

په یوه کلي کې یوه لویه ونه وه چې د کلي خلک به یې تر سیوري لاندې کښیناستل. ماشومان به یې تر څنګ لوبې کولې او مسافر به د سفر پر مهال دمه پکې کوله.

یوه ورځ یو هلک د ونې څانګې ماتولې او پر تنې یې نښې جوړولې. یوه بوډۍ ښځه چې دا کار یې ولید، ورته ویې ویل: «زویه! دا ونه د ډېرو خلکو لپاره سیوری برابروي. که ته یې زیانمنوې، نو د نورو خلکو ګټه هم له خطر سره مخ کوې.»

هلک ورته وویل: «یوه څانګه خو ده، په دې کې څه زیان دی؟»

بوډۍ ښځې ورته وویل: «که هر څوک یوه څانګه ماته کړي، نو ونه به ورو ورو کمزورې شي. د یوه کوچني زیان تکرار کله ناکله لویه ستونزه جوړوي.»

هلک د هغې خبره ومنله او نور یې د ونې څانګې نه ماتولې. څو ورځې وروسته یې له خپلو ملګرو سره د ونې شاوخوا خټلې هم پاکې کړې.

د کلي خلکو د ماشومانو له دې کاره خوښي څرګنده کړه. هلک پوه شو چې د طبیعت ساتنه یوازې د لویانو دنده نه ده؛ ماشومان هم په دې برخه کې مهم رول لري.

عبرتونه

۱. ونې د انسانانو او نورو ژوو لپاره ګټورې دي.

۲. د طبیعت ساتنه د ټولو مسؤلیت دی.

۳. کوچني زیانونه که تکرار شي، لویې ستونزې جوړوي.

۴. عامه شتمني باید د ټولو د ګټې لپاره وساتل شي.

۵. د ښه کار لپاره عمر شرط نه دی.

د غرور پرځای عاجزي

په یوه ښوونځي کې یو زده‌کوونکی و چې نوم یې فهیم و. هغه په ازموینو کې تل ښې نمرې اخیستې، نو ورو ورو یې فکر وکړ چې تر ټولو هوښیار دی او د نورو زده‌کوونکو مرستې ته اړتیا نه لري.

یوه ورځ ښوونکي ټولګي ته یوه ستونزمنه مسئله ورکړه. فهیم ډاډه و چې په اسانۍ به یې حل کړي، خو له څو هڅو وروسته یې هم ځواب پیدا نه کړ.

د ټولګي یوه بل زده‌کوونکي، چې فهیم به یې ډېر عادي ګڼلو، د مسئلې حل وړاندې کړ. د هغه ځواب سم و.

فهیم حیران شو او له هغه څخه یې وپوښتل چې څنګه یې مسئله حل کړې ده. زده‌کوونکي په مهربانۍ سره د حل طریقه ورته تشریح کړه.

فهیم پوه شو چې ښه نمرې اخیستل د دې معنا نه لري چې انسان په هر څه پوهېږي. هغه له خپل ټولګیوال څخه مننه وکړه او وروسته یې د نورو زده‌کوونکو نظرونو ته هم پام کاوه.

د وخت په تېرېدو فهیم نه یوازې په زده کړه کې ښه شو، بلکې له نورو سره یې چلند هم بدل شو.

عبرتونه

۱. غرور د انسان د زده کړې مخه نیولای شي.

۲. هر انسان داسې څه پوهېږي چې مور ترې زده کړه کولای شو.

۳. د نورو د وړتیاوو منل ښه اخلاق دي.

۴. عاجزي د پوهې او شخصیت ښکلا ده.

۵. بریا باید انسان له نورو څخه لرې نه کړي.

د یوه کتاب ساتنه

په یوه ښوونځي کې یو زده‌کوونکي ته د کتابتون کتاب د څو ورځو لپاره په امانت ورکړل شو. هغه کتاب له ځانه سره کور ته یووړ، خو د ساتنې خیال یې ونه کړ. کتاب یې پر ځمکه پرېښود او د اوبو یو ګیلاس پرې توی شو.

کله چې یې ولیدل کتاب لوند شوی، وارخطا شو. په لومړي سر کې یې فکر وکړ چې کتاب ببرته کتابتون ته یوسي او څه ونه وایي، خو وروسته پوه شو چې دا کار به د امانت خلاف وي.

هغه کتاب په احتیاط وچ کړ او د کتابتون مسؤل ته یې خپله تېروتنه بیان کړه. مسؤل یې له رښتینولۍ خوښ شو، خو ورته ویې ویل چې د نورو د شتمنۍ ساتنه هم د امانت برخه ده.

زده‌کوونکي د کتاب د خرابېدو له امله ښېنه وغوښته او د کتاب د ترمیم په کار کې یې مرسته وکړه.

له هغې ورځې وروسته به یې هر کتاب په پاک ځای کې ساته او نورو زده‌کوونکو ته به یې هم ویل چې د کتابونو ساتنه د ټولو مسؤلیت دی.

عبرتونه



۱. امانت باید په پوره پاملرنه وساتل شي.

۲. د تېروتنې پټول ستونزه نه حل کوي.

۳. رښتینولي د باور د ساتلو لپاره مهمه ده.

۴. د عامه شتمنۍ ساتنه د هر چا مسؤلیت دی.

۵. د خپلو تېروتنو د اصلاح هڅه باید وشي.

د زحمت خوړه پایله

په یوه کلي کې یو ځوان اوسېده چې نوم یې اکرم و. هغه غوښتل چې د لرګیو د کار ماهر جوړ شي. د ده په کلي کې یو تجربه‌لرونکی ترکان و چې د لرګیو ښکلي مېزونه، څوکۍ او الماري یې جوړولې.

اکرم له هغه څخه وغوښتل چې د ترکانۍ هنر ورزده کړي. ترکان ورسره ومنله، خو ورته ویې ویل چې د دې کار لپاره صبر، دقت او ډېر تمرین ته اړتیا ده.

په لومړیو ورځو کې اکرم د لرګیو په اندازه کولو کې تېروتنې کولې. کله به یې لرګی کږه پرې کړ او کله به یې د مېز یوه برخه ناسمه جوړه کړه. هغه څو ځله د کار پرېښودو فکر وکړ، خو استاد یې هڅاوه چې له تېروتنو زده کړه وکړي.

اکرم هره ورځ تمرین کاوه او د استاد لارښوونې یې په پام کې نیولې. ورو ورو یې کار ښه شو او بالاخره یې یو ساده خو ښکلی مېز جوړ کړ. استاد یې مېز وکوت او ویې ویل: «دا ستا د هڅو لومړۍ ښه پایله ده. که همداسې دوام ورکړې، لا ډېر مهارت به ترلاسه کړې.»

اکرم پوه شو چې مهارت په یوه ورځ نه ترلاسه کېږي؛ د هڅې او تمرین په وسیله وده کوي.

عبرتونه

۱. هر هنر زده کولو ته وخت او تمرین پکار دی.

۲. تېروتنې د زده کړې یوه برخه ده.

۳. د تجربه‌لرونکو خلکو مشورې ګټورې وي.

۴. د ستونزې په لیدلو باید ژر مایوسه نه شو.

۵. دوامداره هڅه انسان خپل هدف ته نږدې کوي.

د بې ځایه سیالۍ زیان

په یوه ښوونځي کې دوه زده‌کوونکي، ساجد او بلال، تل هڅه کوله چې په هر کار کې یو له بل څخه مخکې شي. که یوه به لوړې نمرې واخیستې، بل به خپه شو. که یوه به د لوبې جایزه وګټله، بل به یې بریا نه منله.

د دوی ترمنځ سیالي دومره زیاته شوه چې کله به یې یو بل ته د درس په اړه پوښتنه کوله، له مرستې به یې ډډه کوله. په دې توګه دواړه د زده کړې له ګټو فرصتونو بې‌برخې شول.

یوه ورځ ښوونکي هغوی په یوه ډله کې د پروژې د جوړولو لپاره وټاکل. په لومړي سر کې دواړو غوښتل چې یوازې خپل نظر ومنل شي، خو کار یې مخته نه تله.

ښوونکي ورته وویل: «سیالي هغه وخت ګټوره ده چې انسان هڅوي ښه شي؛ خو که د بل د کمزورۍ غوښتلو سبب شي، نو زیانمنه ده.»

ساجد او بلال د یو بل نظرونه واورېدل، دندې یې سره ووېشلې او په ګډه یې پروژه بشپړه کړه. د دوی کار ډېر ښه شو، ځکه هر یوه خپل مهارت د ګډ هدف لپاره وکاراوه.

دوی زده کړل چې د بل بریا د خپل ناکامۍ معنا نه لري او انسان کولای شي له نورو سره په همکارۍ هم پرمختګ وکړي.

عبرتونه

۱. سالمه سیالي انسان هڅوي چې ښه کار وکړي.

۲. د نورو د بریا منل د ښه شخصیت نښه ده.

۳. حسد د زده کړې او ملګرتیا مخه نیسي.

۴. ګډ کار د بېلابېلو وړتیاوو د کارولو فرصت برابروي.

۵. د نورو له بریا څخه هم زده کړه کېدای شي.

د مور او پلار د هڅو قدر

په یوه کلي کې یو هلک اوسېده چې نوم یې شفیق و. پلار یې د کورنۍ د اړتیاوو د پوره کولو لپاره هره ورځ سخت کار کاوه او مور یې د کور د چارو تر څنګ د ماشومانو پالنه کوله.

شفیق کله ناکله د خپلو غوښتنو د نه پوره کېدو له امله خپه کېده. که به یې نوی قلم یا نوی کالي غوښتل او مور او پلار به یې د پیسو د کمښت له امله ورته نه شوای اخیستلای، نو په غوسه به شو.

یوه ورځ ښوونکي زده‌کوونکو ته د کورنۍ د مسؤلیتونو په اړه خبرې وکړې. هغه وویل چې ډېرې کورنۍ د خپلو ماشومانو د ښې راتلونکې لپاره له ستونزو سره مبارزه کوي.

شفیق د ښوونکي خبرې واورېدې او د خپل پلار او مور د ورځنیو هڅو په اړه یې فکر وکړ. هغه پوه شو چې مور او پلار یې د هغه د آرامۍ او زده کړې لپاره ډېر زحمت باسي.

کور ته له راستنېدو وروسته یې له مور سره د کور په ځینو کارونو کې مرسته وکړه او له پلاره یې د هغه د کار په اړه پوښتنې وکړې. له هغې ورځې وروسته به یې د خپلو غوښتنو تر څنګ د کورنۍ شرایط هم په پام کې نیول.

عبرتونه

۱. د مور او پلار د هڅو قدر باید وشي.

۲. د کورنۍ په کارونو کې مرسته کول ښه عمل دی.

۳. هره غوښتنه سمدستي نه شي پوره کېدای.

۴. د نورو د زحمتونو درک کول د مننې احساس پیاوړی کوي.

۵. د کورنۍ غړي باید د یو بل ملاتړ وکړي.

د ښه نوم ارزښت

په یوه ښار کې دوه سوداګر اوسېدل. یو سوداګر به له خلکو سره په رښتینولۍ چلند کاوه، د توکو عیبونه به یې پېرودونکو ته ویل او د خپلو ژمنو خیال به یې ساته. بل سوداګر به د ګټې لپاره کله ناکله د توکو عیبونه پټول.

په لومړیو کې دویم سوداګر ډېرې پیسې ګټلې، ځکه ځینې خلک د هغه د ښکلو خبرو تر اغېز لاندې راتلل. خو کله چې پېرودونکو د توکو عیبونه ولیدل، پر هغه یې باور کم شو.

د رښتیني سوداګر دوکان ته به خلک بیا بیا راتلل. هغوی پوهېدل چې که څه ستونزه هم پیدا شي، سوداګر به یې په رښتینولۍ حل کړي.

یوه ورځ یو ځوان له دواړو سوداګرو څخه د یوه مهم توکي د اخیستلو لپاره مشوره وغوښته. رښتیني سوداګر ورته د توکي ګټې او نیمګړتیاوې دواړه بیان کړې، څو ځوان سمه پرېکړه وکړي.

ځوان د هغه له رښتینولۍ اغېزمن شو او له هماغه سوداګر څخه یې توکی واخیست. وروسته یې نورو خلکو ته هم د هغه د ښه چلند یادونه وکړه.

د رښتیني سوداګر شهرت ورځ تر بلې زیات شو. هغه پوهېده چې پیسې د ژوند اړتیاوې پوره کوي، خو ښه نوم او د خلکو باور هم ډېر ارزښت لري.

عبرتونه

۱. ښه نوم د رښتینولۍ او ښو کړنو په وسیله جوړېږي.

۲. د ګټې لپاره باید د خلکو حق ضایع نه شي.

۳. د توکو عیبونه پټول د باور د له منځه تلو سبب ګرځي.

۴. رښتینولي د اوږدمهاله بریا لپاره مهمه ده.

۵. د انسان ښه شهرت د هغه له شتمنۍ څخه هم ډېر ارزښت لرلای شي.

د حسد پر ځای د ملګري هڅول

په یوه کلي کې دوه ملګري اوسېدل چې نومونه یې نعمان او حسیب وو. دواړه ښوونځي ته تلل، خو حسیب په ریاضي کې ډېر ښه و او نعمان په لیکلو او لوستلو کې پیاوړی و.

کله چې ښوونکي حسیب ته د ریاضي په یوه سیالۍ کې جایزه ورکړه، نعمان خپه شو. هغه فکر کاوه چې ولې دی جایزه نه اخلي. د دې پر ځای چې د خپل ملګري مبارکي ورکړي، غلی پاتې شو.

کور ته چې ولاړ، پلار یې د خپګان پوښتنه ترې وکړه. نعمان ورته وویل: «زما ملګري جایزه واخیسته، خو زه یې وانخیستم.»

پلار یې ورته وویل: «زویه! د بل انسان بریا ستا د ناکامۍ معنا نه لري. ته هم خپل استعداد لرې. که د ملګري له بریا څخه زده کړه وکړې، خپله هم پرمختګ کولای شې.»

نعمان د پلار خبره ومنله. بله ورځ یې حسیب ته مبارکي ورکړه او ترې ویې غوښتل چې د ریاضي په ستونزمنو پوښتنو کې ورسره مرسته وکړي. حسیب هم په خوښۍ ورسره مرسته وکړه.

نعمان د ریاضي تمرین پیل کړ او حسیب هم د نعمان په مرسته د لیکلو مهارت ښه کړ. دواړه ورو ورو په خپلو کمزورو برخو کې پیاوړي شول.

عبرتونه

۱. د نورو بریا باید زموږ د حسد سبب نه شي.

۲. هر انسان ببلابېل استعدادونه لري.

۳. د ملګرو ترمنځ مرسته دواړو ته ګټه رسوي.

۴. د پرمختګ لپاره باید هڅه او تمرین وشي.

۵. د بل انسان مبارکي ورکول د ښه اخلاقو نښه ده.

د بې‌احتیاطۍ تاوان

په یوه کلي کې یو هلک اوسېده چې نوم یې فرید و. هغه به خپل کتابونه، قلمونه او د ښوونځي نور وسایل بې‌نظمه پرېښودل. کله به یې کتاب د مېز لاندې و، کله به یې قلم په انګړ کې پاتې و او کله به یې د کورنۍ دندې پانې ورکې شوې وې.

مور به یې ورته ویل: «زویه! خپل شیان په ټاکلي ځای کې کېږده، څو د اړتیا پر وخت یې ژر پیدا کړې.»

خو فرید به ویل: «زه به یې وروسته منظم کړم.»

یوه ورځ ښوونکي اعلان وکړ چې زده‌کوونکي باید د سبا لپاره یوه ځانګړې دنده بشپړه کړي. فرید دنده لیکلې وه، خو پانه یې نه شوه پیدا کولای. هغه خپل کتابونه او کاغذونه ټول وپلټل، خو پانه ورکه وه. فرید مجبور شو چې دنده له سره ولیکي. دې ځل وخت یې ضایع شو او د نورو کارونو لپاره یې وخت پاتې نه شو.

هغه پوه شو چې بې‌نظمي یوازې د شیانو د ورکېدو سبب نه کېږي، بلکې د وخت ضایع کېدو او د کارونو د ځنډېدو لامل هم ګرځي.

له هغې ورځې وروسته یې د کتابونو، قلمونو او نورو وسایلو لپاره ځانګړی ځای وټاکه. هر ماښام به یې د راتلونکې ورځې د ښوونځي سامان چمتو کاوه.

عبرتونه

۱. د شیانو منظم ساتل د وخت سپما کوي.

۲. بې‌نظمي د کارونو د ځنډېدو سبب کېږي.

۳. د خپلو وسایلو ساتنه د انسان مسؤلیت دی.

۴. د راتلونکې ورځې لپاره چمتووالی ګټور دی.

۵. کوچني منظم عادتونه د ژوند چارې اسانه کوي.

د مسافر مرسته

یو مسافر له یوه لیرې کلي څخه بل ښار ته روان و. له ځان سره یې لږ خوراک او اوبه لرلې. د لارې په اوږدو کې هوا ګرمه شوه او د هغه اوبه خلاصې شوې.

مسافر ستړی شو او د لارې پر غاړه کښېناست. لږ وروسته یو بزګر له خپلې ځمکې څخه کور ته روان و. هغه مسافر ولید چې ستړی او تږی دی.

بزګر ورنږدې شو او پوښتنه یې ترې وکړه: «وروره! څه ستونزه لرې؟» مسافر ورته وویل چې اوبه یې خلاصې شوې او د اوږدې لارې له امله ستړی شوی دی.

بزګر له خپل لوښي څخه اوبه ورکړې، دمه کولو ته یې ځای برابر کړ او لږ خواړه یې هم ورسره شریک کړل. کله چې مسافر د سفر توان پیدا کړ، د بزګر له مرستې یې مننه وکړه.

مسافر ورته وویل: «ستا مرسته به هېره نه کړم. ته ما نه پېژنې، خو بیا دې هم مرسته راسره وکړه.»

بزګر ورته وویل: «د مرستې لپاره دا شرط نه دی چې یو څوک دې له پخوا وپېژنې. کله چې یو انسان اړتیا ولري او موږ یې مرسته کولای شو، باید د خپلې وسې مطابق ورسره مرسته وکړو.»

مسافر په خوښۍ خپل سفر ته دوام ورکړ او د بزګر د مهربانۍ یاد یې له ځان سره وساته.

عبرتونه

۱. له اړمنو خلکو سره مرسته کول ښه عمل دی.

۲. د مرستې لپاره د پېژندګلوۍ شرط نشته.

۳. د انسان اړتیا باید په پام کې ونیول شي.

۴. د لږې مرستې ارزښت هم ډېر کېدای شي.

۵. له خلکو سره مهرباني د انسان د ښه شخصیت نښه ده.

د ژمنې دروند مسؤلیت

په یوه کلي کې یو ځوان اوسېده چې نوم یې سمیع و. هغه له خپل تره سره ژمنه کړې وه چې د رخصتۍ په ورځ به د هغه د دوکان په پاکولو کې مرسته کوي.

د رخصتۍ په سهار د سمیع ملګري راغلل او هغه یې د لوبو لپاره راوبالله. سمیع هم له لوبو سره مینه لرله، خو د تره ژمنه یې ورپه یاد شوه.

هغه ملګرو ته وویل: «زه له خپل تره سره ژمنه کړې ده چې نن به ورسره مرسته کوم. لومړی به خپله ژمنه پوره کړم، بیا به درسره لوبو ته راشم.»

سمیع د تره دوکان ته ولاړ. دواړو دوکان پاک کړ، توکي یې منظم کړل او د کار له پای ته رسېدو وروسته یې چای وڅښل.

تره یې د سمیع له وفاداري خوښ شو او ورته ویې ویل: «زویه! هغه ځوک چې خپلې ژمنې پوره کوي، خلک پرې باور کولای شي.»

سمیع وروسته له خپلو ملګرو سره لوبو ته ولاړ. هغه په دې ورځ پوه شو چې د مسؤلیتونو پوره کول د انسان د وخت او اړیکو دواړو لپاره ګټور دي.

عبرتونه

۱. ژمنې باید بېځایه ونه شي.
۲. د تفریح تر څنګ مسؤلیتونه هم مهم دي.
۳. پر خپلې خبرې درېدل د باور سبب ګرځي.
۴. د نورو وخت او اړتیاوو ته درناوی پکار دی.
۵. د کارونو منظم ترتیب د ژوند چارې اسانه کوي.

د ونې د یوې مېوې ارزښت

په یوه بڼ کې د مېوو ډېرې ونې وې. د بڼ خاوند به د ونو پالنه کوله او د مېوو د پخېدو انتظار به یې ایست.

یوه ورځ یو هلک بڼ ته ورغی. هغه ولیدل چې پر یوې ونې څو پخې مېوې پرتې دي. هلک فکر وکړ چې د یوې مېوې اخیستل به کوم زیان ونه لري، نو یوه مېوه یې واخیسته او پرته له دې چې د بڼ له خاوند څخه اجازه وغواړي، روان شو.

د بڼ خاوند هغه ولید او په ارامه یې ورته وویل: «زویه! که مېوه دې غوښتې وای، ما به درکړې وه. ستونزه په مېوه کې نه ده، بلکې په دې کې ده چې ته دې له اجازې پرته واخیسته.»

هلک شرمنده شو او ښښنه یې وغوښته. د بڼ خاوند ورته یوه بله مېوه هم ورکړه او ویې ویل: «د نورو د مال درناوی باید وشي، که هغه شی لوی وي او که کوچنی.»

هلک کور ته ولاړ او د دې پېښې په اړه یې له خپل پلار سره خبرې وکړې. پلار یې هم ورته وویل چې د بل چا د مال اخیستل، که لږ هم وي، سم کار نه دی.

له هغې ورځې وروسته هلک د هر چا د مال او حق درناوی کاوه.

عبرتونه

۱. د نورو د مال اجازه باید واخیستل شي.

۲. د حق درناوی یوازې په لویو شیانو پورې تړلی نه دی.

۳. تېروتنه باید ومنل شي او ښښنه وغوښتل شي.

۴. مهرباني د ناسم کار د سم ګڼلو معنا نه لري.

۵. رښتینی اخلاق په کوچنیو کارونو کې هم څرګندېږي.

د بې ځایه لګښت پایله

په یوه ښار کې یو هلک اوسېده چې نوم یې جمیل و. هغه به هره ورځ خپلې پیسې په خوږو، لوبو او هغو شیانو مصرفولې چې ډېر ورته اړین نه وو.

پلار یې څو ځله ورته وویل: «زویه! پیسې باید په فکر ولګول شي. د اړتیاوو او غوښتنو ترمنځ توپیر زده کړه.»

جمیل به د پلار خبرې اوریدې، خو عملي کول به یې ورته ستونزمن وو.

یوه ورځ ښوونکي اعلان وکړ چې زده‌کوونکي باید د یوه علمي فعالیت لپاره ځانګړی کتاب واخلي. جمیل له خپل پلار څخه د کتاب د اخیستلو پیسې وغوښتې، خو هغه ورته وویل چې دا میاشت د کور لګښتونه ډېر دي او باید لږ انتظار وکړي.

جمیل خپه شو. وروسته یې خپلې پخوانۍ لګښتونه په یاد کړل او پوه شو چې که یې پیسې سپمولې وای، اوس به یې د کتاب د اخیستلو لپاره پیسې لرلې.

هغه پرېکړه وکړه چې له دې وروسته به خپلې پیسې په درې برخو وېشي: د اړتیاوو لپاره، د راتلونکي لپاره د سپما په موخه او د مناسبو شخصي غوښتنو لپاره.

څو اوونۍ وروسته یې د سپما په مرسته کتاب واخیست او په علمي فعالیت کې یې ګډون وکړ.

عبرتونه

۱. پیسې باید په فکر او تدبیر ولګول شي.
۲. اړتیاوې باید تر غیرضروري غوښتنو لومړیتوب ولري.
۳. سپما د راتلونکو اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته کوي.
۴. د خپلو لګښتونو حساب ساتل ګټور عادت دی.
۵. د پیسو ارزښت په سم استعمال کې دی.

د خاموش انسان پوهه

په یوه کلي کې یو سپین‌ږیری اوسېده چې ډېر کم به یې خبرې کولې. د کلي ځینو ځوانانو فکر کاوه چې هغه ځکه غلی دی چې د ویلو لپاره څه نه لري.

یوه ورځ د کلي خلکو غوښتل چې د اوبو د وېش په اړه پرېکړه وکړي. د کلي په یوه برخه کې اوبه ډېرې وې، خو بله برخه یې له کمښت سره مخ وه. هر چا خپل نظر وړاندې کاوه او بحث ورځ تر بلې اوږدېده.

سپین‌ږیری تر ډېره غلی ناست و. کله چې د هغه د نظر پوښتنه وشوه، ویې ویل: «راځئ لومړی د اوبو د لارې حالت وګورو، بیا پرېکړه وکړو.»

خلک ورسره د اوبو سرچینې ته ولاړل. هلته څرګنده شوه چې د اوبو یوه برخه د یوې خرابې ویالې له امله ضایع کېږي.

سپین‌ږیري وړاندیز وکړ چې لومړی دې ویاله ترمیم شي او بیا دې اوبه په منظم ډول ووېشل شي.

خلکو د هغه وړاندیز ومانه. ویاله ترمیم شوه او د کلي دواړو برخو ته اوبه ورسېدې.

ځوانانو پوه شول چې د انسان ارزښت یوازې په ډېرو خبرو کې نه دی. کله ناکله د فکر، مشاهدې او مناسبې مشورې ارزښت تر اوږدو خبرو ډېر وي.

عبرتونه

۱. د پرېکړې تر مخه باید ستونزه په سمه توګه وپېژندل شي.
۲. د هر انسان خبرې باید په درناوي واورېدل شي.
۳. ډېرې خبرې تل د پوهې نښه نه وي.
۴. ښه مشوره د ستونزو په حل کې مهم رول لري.
۵. د نورو تجربې او پوهه باید بې‌ارزښته ونه ګڼل شي.

د حسد له اوره ځان ساتل

په یوه ښوونځي کې دوه زده‌کوونکي وو چې نومونه یې عارف او کامران وو. عارف په انځورګرۍ کې ښه مهارت درلود، خو کامران په دې برخه کې کمزوری و.

یوه ورځ ښوونکي د انځورګرۍ سیالي جوړه کړه. عارف یو ښکلی انځور جوړ کړ او لومړی مقام یې ترلاسه کړ. کامران چې خپل انځور یې دومره ښه نه و، د عارف بریا ته خپه شو.

هغه په زړه کې فکر وکړ چې که د عارف انځور خراب کړي، ښایي خپله بریالی شي. خو لږ وروسته یې د دې فکر له املـه شرم احساس کړ. هغه پوه شو چې د بل چا د زیانمنولو هڅه به د ده خپل مهارت زیات نه کړي.

کامران له عارف څخه د انځورګرۍ د زده کړې غوښتنه وکړه. عارف په خوښۍ ورسره مرسته وکړه او د رنګونو د کارولو او د انځور د جوړولو طریقې یې ورته وښودلې.

کامران هره ورځ تمرین پیل کړ. په راتلونکې سیالۍ کې یې هم ښه انځور جوړ کړ، که څه هم لومړی مقام یې ترلاسه نه کړ. خو دا ځل یې د خپل پرمختګ له املـه خوشحالي احساسوله.

هغه زده کړل چې د نورو د بریا پر وړاندې حسد کول د انسان پرمختګ نه کوي؛ خو له هغوی څخه زده کړه کول انسان پیاوړی کوي.

عبرتونه

۱. حسد د انسان فکر او اړیکې زیانمنوي.
۲. د بل د زیانمنولو پر ځای باید خپل مهارتونه پیاوړي کړو.
۳. له تکړه خلکو څخه زده کړه کول ګټور دي.
۴. د پرمختګ لپاره دوامداره تمرین اړین دی.
۵. د خپل پرمختګ قدر کول د خوښۍ سبب ګرځي.

د پاک چاپېریال ساتنه

په یوه کلي کې یو کوچنی سیند بهیده. د کلي خلک به تړې د کروندو د اوبو لګولو او د نورو اړتیاوو لپاره ګټه اخیسته. خو ورو ورو ځینو خلکو د سیند پر غاړه کثافات اچول پیل کړل. د سیند اوبه ناپاکې شوې او د غاړې منظره هم خرابه شوه. د کلي ماشومان چې پخوا به د سیند تر څنګ لوبې کولې، نور هلته په ارامۍ نه شوای پاتې کېدای.

یوه ورځ د ښوونځي ښوونکي زده‌کوونکو ته د چاپېریال د ساتنې په اړه خبرې وکړې. هغه وویل چې د طبیعت پاکوالی د ټولو خلکو ګډ مسؤلیت دی.

زده‌کوونکو پریکړه وکړه چې د کلي له مشرانو سره په همکارۍ د سیند شاوخوا کثافات راټول کړي. هغوی خلکو ته هم وویل چې خځلې دې په ټاکلو ځایونو کې واچوي.

ورو ورو د کلي خلکو د پاکوالي خیال ساتل پیل کړل. د سیند غاړه پاکه شوه او ماشومان ببرته په پاک چاپېریال کې لوبې کولای شول.

د کلي خلکو پوه شول چې که هر څوک خپل مسؤلیت ادا کړي، د ټولنې چاپېریال به پاک او د ژوند لپاره به مناسب وي.

عبرتونه

۱. پاک چاپېریال د روغ او ارام ژوند لپاره مهم دی.
۲. کثافات باید په ټاکلو ځایونو کې واچول شي.
۳. د طبیعت ساتنه د ټولو ګډ مسؤلیت دی.
۴. ماشومان هم د ټولنې په ښه کولو کې ونډه لرلای شي.
۵. د ګډې هڅې په وسیله لوی بدلون رامنځته کېدای شي.

د ملنډو زیان او تاوان

په یوه ښوونځي کې یو نوی زده‌کوونکی راغی چې نوم یې نعیم و. هغه د نورو زده‌کوونکو په پرتله لږ ورو خبرې کولې او د ټولګي له ډېرو ماشومانو سره بلد نه و.

ځینو زده‌کوونکو به د هغه د خبرو له طرز سره ملنډې وهلې. نعیم به خپه کېده او د ټولګي په فعالیتونو کې به یې لږ ګډون کاوه.

یوه ورځ ښوونکي زده‌کوونکو ته یوه ډله‌ییزه دنده ورکړه. نعیم د یوې موضوع په اړه ډېر ښه معلومات لرل، خو د ملنډو له وېرې یې نه غوښتل چې خبرې وکړي.

ښوونکي د هغه د نظر پوښتنه وکړه. نعیم په لومړي سر کې غلی و، خو وروسته یې خپل معلومات شریک کړل. د هغه خبرې ګټورې وې او ټولګیوال یې حیران شول.

ښوونکي وویل: «موږ باید د خلکو خبرې په غور واورو، نه دا چې د هغوی د خبرو له طرز سره ملنډې ووهو. هر انسان د درناوي وړ دی او هر څوک ببلابېلې وړتیاوې لري.»

هغه زده‌کوونکي چې ملنډې یې وهلې وې، له نعیم څخه بښنه وغوښته. نعیم هم د هغوی بښنه ومنله او ورو ورو یې له ټولګي سره ښه اړیکې پیدا کړې.

عبرتونه

۱. د نورو ملنډې وهل د هغوی احساسات زیانمنوي.
۲. هر انسان د درناوي وړ دی.
۳. د خلکو د ظاهري ځانګړنو له مخې باید پرېکړه ونه شي.
۴. هر څوک ببلابېل استعدادونه او وړتیاوې لري.
۵. بښنه غوښتل او د نورو بښل اړیکې ښې کوي.

د لارې د نښې ارزښت

یو مسافر په یوه پراخه سیمه کې د بل ښار پر لور روان و. د لارې پر سر څو نښې لګېدلې وې چې مسافرو ته یې د سمې لارې لارښوونه کوله.

مسافر فکر وکړ چې دی په خپله لاره پوهېږي، نو د یوې نښې لوستلو ته یې پام ونه کړ. هغه له اصلي لارې واوښت او یوې ناپېژندل شوې لارې ته داخل شو.

له لږ مزل وروسته پوه شو چې لاره یې ناسمه نیولې ده. د لارې په اوږدو کې یې له یوه بزګر څخه پوښتنه وکړه. بزګر ورته وویل چې ببرته دې اصلي لارې ته ستون شي او د نښو لارښوونې دې په پام کې ونیسي.

مسافر ببرته راستون شو، نښې یې په غور ولوستې او په سمه لاره روان شو. په پای کې خپل منزل ته ورسېد.

هغه پوه شو چې لارښوونې یوازې هغه وخت ګټه کوي چې انسان ورته پام وکړي. که څوک د خپلې پوهې پر بنسټ هره مشوره رد کړي، ښایي د بېځایه ستونزو سره مخ شي.

عبرتونه

۱. د سفر پر مهال د لارې نښو ته پام کول مهم دي.

۲. د اړتیا پر وخت له تجربه‌لرونکو خلکو پوښتنه کول ګټور دي.

۳. د خپلې تېروتنې منل انسان له لویو ستونزو ژغوري.

۴. د سمو لارښوونو منل د بریا لاره اسانه کوي.

۵. بېځایه ځان‌باوري کله ناکله د ستونزو سبب کېږي.

د انصاف غوښتنه

په یوه کلي کې څو ماشومان په یوه میدان کې لوبې کولې. هغوی یو توپ درلود او پربکړه یې کړې وه چې هر ماشوم به په وار وار د لوبې مشري کوي.

کله چې د مشرتابه وار د یوه ماشوم، حارث، شو، هغه غوښتل چې تل دی د لوبې پربکړې وکړي او د نورو ماشومانو وارونه یې په پام کې نه نیول.

نور ماشومان خپه شول او لوبه یې پربښوده. حارث په میدان کې یوازې پاتې شو. هغه پوه شو چې د نورو د حقونو نه مراعتولو له امله یې د لوبې ملګري له لاسه ورکړي دي.

حارث له ماشومانو وغوښتل چې بېرته راشي. هغه ومنله چې د لوبې مشري یې په ناحقه یوازې د ځان لپاره غوښتله. ماشومانو بیا د ټولو په خوښه اصول وټاکل: هر څوک به په وار مشري کوي او د پربکړې پر مهال به د ټولو نظرونه اوربدل کېږي.

لوبه بېرته پیل شوه او دا ځل ټول ماشومان خوشحاله وو.

حارث زده کړل چې انصاف یوازې د لویانو په چارو کې نه، بلکې په لوبو او ورځني ژوند کې هم مهم دی.

عبرتونه

۱. انصاف باید په کوچنیو او لویو چارو کې مراعت شي.

۲. د نورو حقونه باید له پامه ونه غورځول شي.

۳. ښه مشر د ټولو نظرونو ته غوږ نیسي.

۴. د ګډو اصولو مراعتول د شخړو مخه نیسي.

۵. تېروتنه منل د ښه بدلون پیل دی.

د طبیعت د بدلون نښې

یو بزګر هر کال په خپله ځمکه کې غنم کرل. هغه به د هوا، باران او خاورې حالت ته پام کاوه، ځکه پوهیده چې د فصل ښه والی له دې شیانو سره تړاو لري.

یوه ورځ یې ولیدل چې د ځمکې خاوره ډېره وچه شوې ده او د باران د نشتوالي له امله د غنمو نیالګي کمزوري کېږي. هغه د کلي له نورو بزګرانو سره مشوره وکړه.

دوی پرېکړه وکړه چې د اوبو له موجودې سرچینې څخه په منظم ډول ګټه واخلي، د اوبو ضایع کېدل کم کړي او د ځمکې رطوبت وساتي. همدارنګه یې د راتلونکي فصل لپاره داسې لارې چارې وټاکلې چې د اوبو د کمښت په وخت کې ورسره مرسته وکړي.

د دوی په ګډو هڅو د ځمکې یوه برخه له وچیدو وژغورل شوه. که څه هم حاصل د عادي کلونو په څېر نه و، خو د تدبیر له امله یې زیان کم شو.

بزګرانو زده کړل چې د طبیعت نښو ته پام کول او له مخکې چمتووالی نیول د ستونزو په کمولو کې مرسته کوي.

عبرتونه

۱. د طبیعت بدلونونو ته باید پام وشي.

۲. د اوبو سپما د هر انسان مسؤلیت دی.

۳. د ستونزو پر مهال مشوره او ګډ کار ګټور دي.

۴. له مخکې تدبیر کول د زیانونو په کمولو کې مرسته کوي.

۵. د ځمکې او طبیعي سرچینو ساتنه د راتلونکي لپاره مهمه ده.

د بخښنې ځواک

په یوه کلي کې دوه ملګري، ساجد او بلال، له ډېرې مودې راهیسې یوځای اوسېدل. یوه ورځ د یوې وړې خبرې له امله د دوی ترمنځ اختلاف پیدا شو. دواړو په غوسه خبرې وکړې او له یو بل څخه لرې شول.

څو ورځې تېرې شوې، خو هیڅ یوه د پخلاینې لپاره لومړی ګام نه اخیست. دواړه د پخوانۍ ملګرتیا یادونه کوله، خو د خپل غرور له امله یې د بښنې غوښتلو جرئت نه کاوه.

یوه ورځ په ښوونځي کې ښوونکي د بښنې او د شخړو د حل په اړه خبرې وکړې. هغه وویل چې کله انسان خپله تېروتنه ومني او د اصلاح هڅه وکړي، د اړیکو د بېرته ښه کېدو امکان پیدا کېږي.

د ښوونکي له خبرو وروسته ساجد فکر وکړ چې هغه هم په شخړه کې تېروتنه کړې وه. هغه بلال ته ورغی او ورته ویې ویل: «ما هم په غوسه کې ناسمې خبرې کړې وې. بښنه راته وکړه.»

بلال هم خپله تېروتنه ومنله او له ساجد څخه یې بښنه وغوښته.

دواړه بېرته سره پخلا شول او پرېکړه یې وکړه چې راتلونکې کې به د اختلاف پر مهال په ارامه خبرې کوي.

عبرتونه

۱. بښنه غوښتل د کمزورۍ نښه نه ده.

۲. د شخړې د حل لپاره باید دواړه لوري د خپل چلند مسؤلیت ومني.

۳. غرور کله ناکله ښې اړیکې خرابوي.

۴. په ارامه خبرو د ډېرو ستونزو حل موندل کېدای شي.

۵. د ملګرتیا ساتلو لپاره زغم او تفاهم مهم دي.

د پوهې او عمل اړیکه

په یوه کلي کې یو ځوان اوسېده چې نوم یې کامران و. هغه ډېر کتابونه لوستل او د ښو اخلاقو په اړه یې ډېر معلومات لرل. خو په ورځني ژوند کې یې تل خپلې زده کړې نه عملي کولې.

کامران به خلکو ته د نظم، رښتینولۍ او مرستې په اړه خبرې کولې، خو کله ناکله به یې خپل کارونه ځنډول، د نورو خبرې به یې نه اوربدې او د مرستې غوښتنه به یې له پامه غورځوله.

یوه ورځ د کلي ښوونکي له هغه څخه وپوښتل: «ته د ښو اخلاقو په اړه ډېر معلومات لرې؛ خو ستا په اند پوهه څه وخت ګټوره ده؟»

کامران وویل: «کله چې انسان له هغې څخه ګټه واخلي.»

ښوونکي ورته وویل: «سمه ده. که موږ د ښه کار په اړه پوهېږو، خو عمل پرې نه کوو، نو زموږ پوهه په ورځني ژوند کې خپل بشپړ ارزښت نه شي ښودلای.»

د دې خبرو له اوربدو وروسته کامران پرېکړه وکړه چې د خپلو معلوماتو عملي کولو ته پام وکړي. هغه خپل کارونه پر وخت ترسره کړل، د نورو خبرو ته یې غوږ ونیو او د ارامنو خلکو په مرسته کې یې برخه واخیسته.

ورو ورو خلکو د هغه په چلند کې بدلون ولید. کامران پوه شو چې پوهه هغه وخت لا ارزښتناکه کېږي چې د ښو کړنو لامل شي.

عبرتونه

۱. پوهه باید په ښو کړنو کې څرګنده شي.

۲. یوازې خبرې کول د ښه اخلاقو لپاره بسنه نه کوي.

۳. د خپلو عادتونو اصلاح د انسان له خپله ځانه پیلېږي.

۴. د نورو مرسته او درناوی باید په عمل کې ثابت شي.

۵. د پوهې او عمل یوځای کېدل د شخصیت د ودې سبب کېږي.

د رښتینولی انعام

په یوه کلي کې یو هلک اوسېده چې نوم یې حمزه و. هغه به هره ورځ ښوونځي ته تله او له خپل پلار سره به یې د کور په کارونو کې هم مرسته کوله.

یوه ورځ حمزه له ښوونځي څخه کور ته روان و چې د لارې پر غاړه یې یوه بټوه پیدا کړه. بټوه یې پرانیسته او ویې لیدل چې پیسې او ځینې مهم کاغذونه پکې دي.

حمزه له ځان سره وویل: «دا پیسې زما نه دي. ښایي د کوم چا د اړتیا لپاره وي. باید خاوند یې پیدا کړم.»

هغه بټوه د کلي مشر ته یووړه او د پېښې کیسه یې ورته وکړه. د کلي مشر د بټوې دننه د یوه کاغذ له مخې د خاوند پته پیدا کړه.

د بټوې خاوند یو بوډا سړی و. کله چې هغه خبر شو چې بټوه یې پیدا شوې ده، ډېر خوشحاله شو. هغه حمزه ته وویل: «زویه! په دې بټوه کې زما د کور د اړتیاوو پیسې وې. ستا رښتینولي زما لپاره ډېره مهمه وه.»

بوډا غوښتل چې حمزه ته انعام ورکړي، خو حمزه ورته وویل: «ما یوازې د بل چا حق ښېرته خپل خاوند ته سپارلی دی.»

د حمزه پلار چې له دې پېښې خبر شو، پر خپل زوی ویاړ وکړ. هغه ورته وویل چې رښتینولي د انسان تر ټولو ارزښتناکو ځانګړنو څخه ده.

عبرتونه

۱. د نورو مال باید په امانت وساتل شي.

۲. رښتینولي د خلکو باور زیاتوي.

۳. د بل چا حق ښېرته سپارل ښه عمل دی.

۴. انسان باید د ګټې لپاره د نورو حق ضایع نه کړي.

۵. ښه اخلاق د انسان د شخصیت ارزښت لوړوي.

د لټې تاوان

په یوه کلي کې یو هلک اوسېده چې نوم یې بختیار و. هغه هوښیار و، خو ډېر لټ و. که به یې مور د کور په کارونو کې د مرستې غوښتنه تړې وکړه، ویل به یې: «وروسته به یې وکړم.»

که به ښوونکي د کورنۍ دنده ورکړه، بختیار به یې هم تر وروستۍ شېبې ځنډوله.

یوه ورځ ښوونکي زده‌کوونکو ته وویل چې د راتلونکې ورځې لپاره باید یوه لیکنه چمتو کړي. بختیار فکر وکړ چې لیکنه اسانه ده او هر وخت یې لیکلای شي. هغه ټوله ورځ په لوبو تېره کړه.

ماښام چې کور ته راغی، ستړی و او خوب یې ورغی. لیکنه یې پاتې شوه. سهار ښوونځي ته له تلو مخکې یې په بیړه لیکل پیل کړل، خو لیکنه یې نیمګړې پاتې شوه.

کله چې ښوونکي دندې وکتلې، بختیار ته یې وویل: «ته د ښه کار کولو وړتیا لرې، خو لټې دې د پرمختګ مخه نیسي.»

بختیار د ښوونکي خبره ومنله. له هغې ورځې وروسته یې د ورځې د کارونو لپاره مهال‌وېش جوړ کړ. لومړی به یې مهم کارونه بشپړول او وروسته به یې لوبې کولې.

ورو ورو یې په زده کړو کې پرمختګ وکړ او پوه شو چې د کارونو پر وخت ترسره کول د انسان ژوند اسانه کوي.

عبرتونه

۱. لټې د انسان د پرمختګ مخه نیسي.

۲. کارونه باید تر وروستۍ شېبې ونه ځنډول شي.

۳. د وخت منظم استعمال د بریا لپاره مهم دی.

۴. د مسؤلیتونو تر پوره کولو وروسته تفریح کول غوره دي.

۵. ښه عادتونه په دوامداره هڅه جوړېږي.

د زغم پایله

په یوه کلي کې یو بزګر اوسېده چې د انګورو یو کوچنی بڼ یې درلود. هغه به هر کال د انګورو د ونو پالنه کوله، خو د مېوو د پخېدو لپاره به یې ډېر انتظار ایست.

د بزګر زوی به هره ورځ بڼ ته تله او د انګورو د پخېدو پوښتنه به یې کوله.

یوه ورځ زوی یې وویل: «پلاره! ولې انګور ژر نه پخېږي؟ زه غواړم چې همدا اوس یې وخورو.»

پلار یې ورته وویل: «زویه! که د انګورو د پخېدو لپاره صبر ونه کړو، خوند به یې ښه نه وي. هر شی خپل وخت لري.»

خو زوی یې د انتظار حوصله نه لرله. یوه ورځ یې له یوې ونې څخه ناپخې دانې وشکولې. کله یې چې وخوړلې، ترخې او تروې وې.

هغه له پلار څخه وښښته وغوښته او ویې ویل: «اوس پوه شوم چې ولې دې د انتظار خبره کوله.»

څو ورځې وروسته انګور پخې شول. پلار او زوی یې په ګډه راټول کړل او له خپل حاصل څخه یې خوند واخیست.

زوی یې زده کړل چې د ښه پایلې لپاره کله ناکله انتظار او پرله‌پسې هڅه ضروري وي.

عبرتونه

۱. د هر کار لپاره مناسب وخت شته.

۲. بې‌صبري کله ناکله د زیان سبب کېږي.

۳. د طبیعت له بهیر سره باید بې‌ځایه بېړه ونه شي.

۴. له خپلې تېروتنې څخه زده کړه کول مهم دي.

۵. صبر او هڅه د ښې پایلې په ترلاسه کولو کې مرسته کوي.

د یوه ښوونکي مهرباني

په یوه ښوونځي کې یو زده‌کوونکی و چې نوم یې شفیق و. هغه د خپلې کورنۍ د ستونزو له امله کله ناکله ښوونځي ته ناوخته رسېده او د درسونو په بشپړولو کې هم له ستونزو سره مخ و.

ځینو زده‌کوونکو فکر کاوه چې شفیق لټ دی، خو د هغه ښوونکي پام شوی و چې شفیق هڅه کوي، خو د کور مسؤلیتونه یې ډېر دي.

یوه ورځ ښوونکي شفیق له ټولګي وروسته له ځانه سره کښېناوه او په ارامه یې ترې د ستونزو پوښتنه وکړه. شفیق ورته وویل چې سهار له خپل پلار سره د کار په ځینو چارو کې مرسته کوي، له همدې امله کله ناکله ښوونځي ته ناوخته رسېږي.

ښوونکي د شفیق حالت درک کړ. هغه د ښوونځي له مسؤلینو سره مشوره وکړه او د شفیق لپاره یې د درسونو د جبران مناسب ترتیب جوړ کړ.

ښوونکي همدارنګه له نورو زده‌کوونکو وغوښتل چې له شفیق سره د یادښتونو او درسونو په برابرولو کې مرسته وکړي.

شفیق د دې مرستې له امله ډېر خوشحاله شو. هغه خپلو زده کړو ته لا ډېره پاملرنه وکړه او ورو ورو یې په درسونو کې پرمختګ وکړ.

عبرتونه

۱. د خلکو د ستونزو له پوهېدو پرته باید پرېکړه ونه شي.
۲. مهرباني او مرسته د انسانانو ژوند اسانه کوي.
۳. ښوونکی د زده کوونکو په پرمختګ کې مهم رول لري.
۴. د ستونزو پر مهال د مرستې غوښتل ګټور دي.
۵. د نورو حالت درک کول د ښه اخلاقو نښه ده.

د یوې تېروتنې اصلاح

په یوه ښار کې یو ځوان اوسېده چې نوم یې فهیم و. هغه د یوه دوکان په کار کې له خپل تره سره مرسته کوله.

یوه ورځ فهیم د توکو د حساب پر مهال تېروتنه وکړه. د یوه پېرودونکي له پیسو څخه یې له حساب سره سم زیاتې پیسې واخیستې، خو هغه وخت یې پام ورته نه شو.

کله چې د ورځې په پای کې یې حساب وکوت، پوه شو چې د پیسو په اندازه کې توپیر شته. هغه د حساب پاڼې بیا وکتلې او د پېرودونکي تېروتنه یې ومونډله.

فهیم کولای شول چې پیسې له ځانه سره وساتي او هېڅوک هم خبر نه وای، خو وجدان یې ورته اجازه نه ورکوله. هغه د پېرودونکي د پېژندلو لپاره هڅه وکړه او په پای کې یې هغه پیدا کړ.

فهیم اضافي پیسې بېرته ورکړې او د تېروتنې له املې یې بښنه وغوښته. پېرودونکی د هغه له رښتینولې خوښ شو.

د فهیم تره ورته وویل: «انسان کله ناکله تېروتنه کوي، خو مهمه دا ده چې تېروتنه وپېژني او د اصلاح لپاره یې هڅه وکړي.»

فهیم له هغې ورځې وروسته د حساب پر مهال لا ډېر پام کاوه.

عبرتونه

۱. انسان باید خپلې تېروتنې ومني.

۲. د نورو حق باید بېرته ورکړل شي.

۳. د تېروتنې اصلاح د مسؤلیت نښه ده.

۴. په کارونو کې دقت د ستونزو مخه نیسي.

۵. رښتینولي د انسان د شخصیت ارزښت لوړوي.

د کتابتون کوچنی خدمت

په یوه ښوونځي کې یو کوچنی کتابتون و. زده‌کوونکو به تړې کتابونه اخیستل او له لوستلو وروسته به یې بېرته سپارل.

د کتابتون مسؤل یو زوړ سړی و چې د کتابونو په تنظیمولو کې به یې ډېر زحمت ایست. یوه ورځ یو زده‌کوونکی، چې نوم یې عادل و، کتابتون ته ولاړ او ویې لیدل چې ځینې کتابونه پر میزونو او ځینې پر ځمکه پراته دي.

عادل د کتابتون مسؤل ته وویل: «که اجازه وي، زه به له تاسو سره د کتابونو په منظمولو کې مرسته وکړم.»

مسؤل یې په خوښۍ اجازه ورکړه. عادل کتابونه د موضوعاتو له مخې سره جلا کړل، د کتابونو نومونه یې وکتل او په الماریو کې یې په ترتیب کېښودل.

کله چې نورو زده‌کوونکو دا کار ولید، هغوی هم ورسره مرسته پیل کړه. په لږ وخت کې کتابتون منظم شو او د کتابونو پیدا کول اسانه شول.

د کتابتون مسؤل له ټولو زده‌کوونکو مننه وکړه او ورته ویې ویل چې د علم د ځای ساتنه د هر زده‌کوونکي مسؤلیت دی.

عادل پوه شو چې د یوه کوچني خدمت له لارې هم د ډېرو خلکو لپاره اسانتیا رامنځته کېدای شي.

عبرتونه

۱. د علمي ځایونو ساتنه د ټولو مسؤلیت دی.
۲. منظم چاپېریال د کارونو په اسانه کولو کې مرسته کوي.
۳. د نورو په کارونو کې مرسته کول ښه عمل دی.
۴. ښه عمل نور خلک هم هڅولای شي.
۵. کتابونه باید په احتیاط وساتل شي.

د وعدې او باور اړیکه

په یوه کلي کې یو ځوان اوسېده چې نوم یې بلال و. هغه له خپل ګاونډي سره ژمنه کړې وه چې د هغه د سفر پر مهال به د کور د باغ ساتنه کوي.

ګاونډي د سفر پر مهال بلال ته وویل چې هره ورځ به د بوټو حالت ګوري او که اړتیا وي، اوبه به ورکوي. بلال ژمنه وکړه چې دا کار به ترسره کوي.

په لومړیو ورځو کې بلال د باغ خیال ساته، خو وروسته له خپلو ملګرو سره په لوبو بوخت شو او د باغ د اوبو ورکولو خبره یې هېره کړه.

څو ورځې وروسته ځینې بوټي د اوبو د کمښت له امله کمزوري شول. کله چې ګاونډی ببرته راغی، د باغ حالت یې ولید او خپه شو.

بلال خپله تېروتنه ومنله او بښنه یې وغوښته. هغه د بوټو د بېرته ښه کولو لپاره له ګاونډي سره مرسته وکړه او د راتلونکي لپاره یې د کارونو د یادولو یوه لاره جوړه کړه.

ګاونډي ورته وویل: «باور هغه وخت ساتل کېږي چې انسان خپلې ژمنې په عمل کې پوره کړي.»

بلال پوه شو چې ژمنه یوازې د خبرو خبره نه ده؛ د بل چا د باور ساتل هم ورسره تړلي دي.

عبرتونه

۱. د نورو باور باید په پام کې ونیول شي.
۲. ژمنې باید په عمل کې پوره شي.
۳. د کارونو هېرول د نورو لپاره ستونزې جوړولای شي.
۴. تېروتنه باید ومنل شي او د اصلاح هڅه یې وشي.
۵. د مسؤلیت لپاره منظم پلان جوړول ګټور دي.

د خپل کار قدر

په یوه ښار کې یو هلک اوسېده چې نوم یې زبیر و. هغه د یوه ترکان زوی و. پلار یې د لرګیو له کاره د کور اړتیاوې پوره کولې، خو زبیر کله ناکله د خپل پلار د کار په اړه شرم احساساوه.

یوه ورځ په ښوونځي کې زده‌کوونکو د خپلو کورنیو د کارونو په اړه خبرې کولې. ځینو ماشومانو د خپلو پلرونو د دندو یادونه وکړه. زبیر د خپل پلار د کار یادونه ونه کړه، ځکه فکر یې کاوه چې د ترکانۍ کار دومره مهم نه دی.

ښوونکي د زبیر د خاموشۍ پوښتنه وکړه. زبیر ورته وویل چې د خپل پلار د کار په اړه خبرې کول نه غواړي.

ښوونکي ورته وویل: «هر هغه کار چې حلال وي، خلکو ته ګټه رسوي او په رښتینولۍ ترسره کېږي، د درناوي وړ دی. ترکان د خلکو لپاره دروازې، میږونه، څوکۍ او نور اړین شیان جوړوي.»

زبیر د ښوونکي خبرې واورېدې او د خپل پلار د کار ارزښت یې درک کړ. کور ته چې ولاړ، له پلار څخه یې د ترکانۍ د کار په اړه پوښتنې وکړې او د هغه په کار کې یې مرسته هم پیل کړه.

وروسته زبیر د خپل پلار له مهارتونو سره مینه پیدا کړه او پوه شو چې د انسان عزت په کار کې د رښتینولۍ او ګټې رسولو له مخې ارزول کېږي.

عبرتونه

۱. هر حلال او ګټور کار د درناوي وړ دی.
۲. د نورو د کارونو سپکاوی مناسب نه دی.
۳. د کورنۍ د غړو د هڅو قدر باید وشي.
۴. مهارتونه د تمرین او تجربې له لارې ترلاسه کېږي.
۵. د انسان ارزښت یوازې په دنده او شتمنۍ نه اندازه کېږي.

د ګډې هڅې بریا

په یوه کلي کې د ښوونځي انګړ د بارانونو له امله خراب شوی و. د انګړ په یوه برخه کې اوبه درېدې او زده‌کوونکي به د لوبو پر مهال له ستونزو سره مخ کېدل.

ښوونکي له زده‌کوونکو سره مشوره وکړه چې څنګه انګړ پاک او د اوبو د درېدو ستونزه حل کړي. ځینو وویل چې دا کار ډېر لوی دی او یوازې د لویانو له وسه پوره دی.

خو څو زده‌کوونکو پرېکړه وکړه چې لږ تر لږه د انګړ خټلې به راټولې کړي او د ستونزې په اړه به د ښوونځي له مسؤلینو سره خبرې وکړي.

هغوی په ګډه کاغذونه او نور کثافات راټول کړل، د انګړ ځینې برخې یې پاکې کړې او د اوبو د ایستلو لپاره یې د ښوونځي مسؤلینو ته وړاندیز وکړ.

د ښوونځي مسؤلینو د هغوی هڅه ولیده او د انګړ د ترمیم لپاره یې کار پیل کړ. په دې توګه د زده‌کوونکو کوچنۍ هڅه د یوې لویې ستونزې د حل پیل وګرځېده.

زده‌کوونکو په شول چې که هر څوک د خپلې وسې مطابق کار وکړي، د ټولنې ډېرې ستونزې حل کېدای شي.

عبرتونه

۱. د ستونزو د حل لپاره ګډ کار مهم دی.
۲. کوچنۍ هڅې د لوی بدلون پیل کېدای شي.
۳. د خپل چاپېریال ساتنه د هر چا مسؤلیت دی.
۴. د ستونزې د حل لپاره وړاندیز کول ګټور دي.
۵. د ګډ کار په وسیله د خلکو ژوند اسانه کېږي.

د ښه اخلاقو ښکلا

په یوه کلي کې یو هلک اوسېده چې نوم یې یاسر و. هغه ښکلې جامې اغوستلې او د ښوونځي سامانونه یې هم ډېر ښه وو، خو له نورو ماشومانو سره یې کله ناکله په توندۍ خبرې کولې.

په هماغه ښوونځي کې یو بل هلک و چې نوم یې سلیم و. د سلیم جامې ساده وې او د ښوونځي سامانونه یې هم لږ وو، خو له ټولو سره یې په درناوي چلند کاوه. که به کوم زده‌کوونکي مرسته غوښتله، سلیم به تر خپلې وسې ورسره مرسته کوله.

یوه ورځ ښوونکي زده‌کوونکو ته ډله‌ییز کار ورکړ. هر زده‌کوونکي باید له نورو سره په همکارۍ خپله برخه ترسره کړې وای. د یاسر ځینو ملګرو نه غوښتل چې له هغه سره په ډله کې کار وکړي، ځکه د هغه له توند چلند څخه خپه وو.

خو سلیم د خپلې ډلې له ټولو غړو سره په مینه او درناوي چلند وکړ. هغوی په ګډه کار بشپړ کړ او ښوونکي یې د همکارۍ ستاینه وکړه.

یاسر د دې پېښې په لیدلو پوه شو چې یوازې ښکلې جامې او ښه سامانونه انسان د خلکو په زړونو کې ځای نه شي پیدا کولای. د خلکو مینه د ښو اخلاقو، درناوي او مرستې له لارې ترلاسه کېږي. له هغې ورځې وروسته یاسر هڅه وکړه چې له نورو سره په نرمه ژبه خبرې وکړي او د هغوی حقونه مراعت کړي.

عبرتونه

۱. ښه اخلاق د انسان د شخصیت ښکلا ده.

۲. د خلکو درناوی د ښو اړیکو بنسټ دی.

۳. ظاهري ښکلا د ښو اخلاقو ځای نه شي نیولای.

۴. له نورو سره همکاري د بریا سبب کېږي.

۵. انسان کولای شي خپل ناسم عادتونه اصلاح کړي.

د ناپوهۍ منل

په یوه کلي کي یو هلک اوسېدی چي نوم یې حامد وو. حامد ډېر تکړه هلک وو، خو یوه ستونزه یې لرله؛ ده نه غوښتل چي څوک پوه سي چي دی په یو څه نه پوهېږي. که به چا پوښتنه ځني وکړه، نو بې له فکره به یې جواب ورکاوه، که څه هم جواب به یې غلط وو.

یوه ورځ ښوونکي په ټولګي کي د یوې موضوع په اړه پوښتنه وکړه. حامد جواب ورنه کړای سو، خو بیا یې هم ځان ناپوه ونه ښود او یو غلط جواب یې ورکړ. ټولګیوال یې وخندل او ښوونکي ورته وویل: «زویه! په نه پوهېدو کي شرم نسته، خو په نه پوهېدو کي د پوهېدو دعوه کول انسان له زده کړي څخه لیري کوي.»

حامد د ښوونکي خبره په زړه کي کښېنوله. له هغه وروسته چي به په یو څه نه پوهېدی، په زړورتیا به یې ویل: «استاده! زه په دې خبره نه پوهېږم، مهرباني وکړئ راته یې تشریح کړئ.»

ورو ورو یې علم ډېر سو او په درسونو کي تر پخوا لا ښه سو. هغه پوه سو چي د علم لومړی قدم دا دی چي انسان خپله ناپوهي ومني.

عبرتونه

۱. په نه پوهېدو کي شرم نسته.
۲. پوښتنه کول د علم د ترلاسه کولو لاره ده.
۳. د ناپوهۍ پټول د زده کړي مخه نیسي.
۴. هوښیار انسان د خپل علم تر څنګ د خپل ناپوهۍ اندازه هم پېژني.
۵. د نورو له خبرو څخه زده کړه د پرمختګ سبب کېږي.

د موندل سوي کتاب خاوند

یوه ورځ بلال له ښوونځي څخه کور ته روان وو. په لاره کي یې د سړک پر غاړه یو ښکلی کتاب ولید. کتاب یې راواخیست، ویې کتل او پوه سو چي د یوه زده کوونکي د ښوونځي کتاب دی.

بلال کتاب کور ته یووړ، خو د ځان لپاره یې ساتل نه غوښتل. بله ورځ یې ښوونکي ته یووړ او ورته ویې ویل: «استاده! دا کتاب مي په لاره کي پیدا کړی دی، کښدای سي د کوم زده کوونکي ورک سوی وي.»

ښوونکي کتاب ټولگي ته راوښود. لږ وروسته یو هلک پورته سو او ویې ویل: «دا زما کتاب دی! پرون مي په لاره کي ورک کړی وو. ما ډېر لټولی دی.»

هلک د خپل کتاب په بېرته موندلو خوشحاله سو. بلال ته یې مننه وکړه. ښوونکي هم بلال وستایه، خو بلال وویل: «ما یوازي هغه کار وکړ چي باید مي کړی وای.»

بلال پوهېدی چي د بل چا د مال ساتنه او بېرته سپارل د امانتداری برخه ده.

عبرتونه

۱. د بل چا موندل سوی شی باید بېرته خپل خاوند ته وسپارل سي.

۲. امانتداري د انسان ارزښت لوړوي.

۳. د نورو د خوښۍ سبب جوړېدل ښه کار دی.

۴. ښه کار د ستاینې لپاره نه، بلکي د سمون لپاره وکړئ.

۵. د نورو د مال احترام وکړئ.

د کوچني بوټي ساتنه

د یوه ښوونځي په انګړ کي یوه وړه ونه کرل سوې وه. په لومړیو ورځو کي ډېرو زده کوونکو ورته پام نه کاوه. ځینو به د هغې څانګې راکشولې او ځینو به یې شاوخوا خاوره خرابه کړې وه.

یوه زده کوونکي، نعیم، ولیدل چي د ونې پانې ژېړي سوي دي. ده له ښوونکي څخه پوښتنه وکړه چي څنګه یې ساتنه کولای سي. ښوونکي ورته وویل: «بوټی اوبه، مناسبه خاوره او ساتني ته اړتیا لري. که هره ورځ ورته پام وسي، لویه ونه به سي.»

نعیم له خپلو ملګرو سره خبري وکړې. دوی پرېکړه وکړه چي هره ورځ به یو زده کوونکی بوټي ته اوبه ورکوي او نور به یې د زیان څخه ساتي.

څو میاشتي وروسته بوټی شین او پیاوړی سو. زده کوونکي د هغه تر سیوري لاندي کښېناستل او د خپلي هڅي پایله یې ولیده.

نعیم خپلو ملګرو ته وویل: «که موږ د کوچني بوټي ساتنه نه وای کړې، نن به مو دا شینوالی نه لید.»

عبرتونه

۱. د طبیعت ساتنه د ټولو ګډ مسؤلیت دی.

۲. کوچني کارونه د وخت په تېرېدو لویه پایله ورکوي.

۳. ګډه هڅه ستونزي اسانه کوي.

۴. ژوندي موجودات پاملرني ته اړتیا لري.

۵. د راتلونکي لپاره نن ښه کار وکړئ.

د زړې دروازې راز

په یوه کلي کي د یوه کور دروازه ډېره زړه سوې وه. د کور خاوند غوښتل چي دروازه وغورځوي او نوې دروازه واخلي. د هغه زوی، سمیع، ورته وویل: «پلاره! که اجازه وي، لومړی یې وګورم.»

سمیع دروازه په غور وکتله. ولیدل چي لرګي یې لا پیاوړي دي، یوازي ځیني برخې یې خرابې سوي او زنګ وهلي میخونه یې نرم سوي دي. ده له خپل پلار څخه وسایل وغوښتل او دروازه یې پاکه کړه، خراب ځایونه یې ورغول او بیا یې رنګ کړه.

کله چي کار خلاص سو، دروازه د پخوا په شان ښکلې او د استعمال وړ سوه. پلار یې خوشحاله سو او ویې ویل: «ما فکر کاوه چي دا نور د کار نه ده، خو تا راته وښودل چي کله ناکله د غورځولو پر ځای ترمیم هم ښه حل وي.»

سمیع زده کړل چي د هر شي د غورځولو یا بدلولو مخکي باید وکتل سي چي ایا په لږ کار سره بېرته ګټه ځني اخیستل کېدای سي که نه.

عبرتونه

۱. د پریکړې مخکي د ستونزې اصلي علت معلوم کړئ.
۲. د شیانو ترمیمول د بېځایه لګښت مخه نیسي.
۳. زحمت او مهارت د ستونزو د حل لارې پیدا کوي.
۴. هر زوړ شی بې ګټې نه وي.
۵. له موجودو امکاناتو څخه سمه ګټه واخلئ.

د بریا شریک

په یوه ښوونځي کي د علمي سیالۍ اعلان وسو. درې ملګرو، فرید، جمال او سلیم، پریکړه وکړه چي په ګډه به ځانونه ورته چمتو کوي.

فرید به کتابونه لوستل، جمال به مهم معلومات لیکل او سلیم به له هغوی څخه پوښتني کولې. هر یوه خپل کار په ښه ډول ترسره کاوه. د سیالۍ په ورځ دوی په ډاډه زړه ګډون وکړ او لومړی مقام یې ترلاسه کړ.

کله چي ښوونکي د دوی د بریا مبارکي ورکړه، فرید د ټولو په مخکي وویل: «دا بریا یوازي زما نه ده. جمال معلومات منظم کړل او سلیم زموږ پوهه وازمویله. موږ ټولو یو ځای کار وکړ.» د فرید ملګري د ده له خبرو خوشحاله سول. دوی پوه سول چي په ګډ کار کي د هر چا ونډه ارزښت لري او د بل چا هڅه نه باید له پامه وغورځول سي.

عبرتونه

۱. د ګډ کار بریا د ټولو د هڅو پایله وي.

۲. د نورو د ونډې منل د انصاف نښه ده.

۳. د ملګرو هڅي باید وستایل سي.

۴. بریا باید د غرور سبب نه سي.

۵. یو بل ته درناوی د ملګرتیا اړیکي پیاوړې کوي.

د خاموش ملګري خبره

په یوه ښوونځي کي یو هلک وو چي نوم یې مصطفی وو.
هغه ډېر کمي خبري کولې او اکثره وخت به یې د ټولګي په بحثونو کي چوپتیا غوره کوله. ځینو زده کوونکو فکر کاوه چي مصطفی هېڅ ځانګړی استعداد نه لري.
یوه ورځ ښوونکي ټولګي ته یوه ستونزمنه مسئله ورکړه او له زده کوونکو یې وغوښتل چي د حل لاره پیدا کړي. ډېرو زده کوونکو هڅه وکړه، خو ستونزه یې حل نه کړه.
مصطفی په خاموشۍ سره لاس پورته کړ او ښوونکي ته یې خپله د حل لاره تشریح کړه. د هغه ځواب سم وو او په ساده ډول یې د ستونزي ټول اړخونه روښانه کړل.
ټولګیوال حیران سول. ښوونکي ورته وویل: «د انسان وړتیا یوازي په ډېرو خبرو نه معلومېږي. ځیني کسان تر خبرو مخکي ډېر فکر کوي.»
له هغه وروسته زده کوونکو د مصطفی خبرو ته په غور غوږ نیوه او هغه ته یې د خپل ملګري په توګه ډېر درناوی ورکاوه.

عبرتونه

۱. د انسان ارزښت د خبرو په ډېروالي نه معلومېږي.
۲. د هر چا د وړتیاوو د پېژندلو لپاره وخت ورکړئ.
۳. د نورو خبرو ته په غور غوږ نیول مهم دي.
۴. چوپ انسان هم ډېر څه پوهېدای سي.
۵. د چا په اړه بې له پېژندلو قضاوت مه کوئ.

یادونه: پورتني کیسه د لیکوال د ژوند سره تړاو لري.

د زحمت خوړه پایله

په یوه کلي کي دوه ملګري اوسېدل. یو یې هره ورځ د باغ د جوړولو لپاره کار کاوه، خاوره یې برابروله، تخمونه یې کرل او اوبه یې ورکولې. بل ملګري به ویل: «دا دومره زحمت څه ګټه لري؟ تر اوسه خو دي هېڅ حاصل نه دی لیدلی.»

لومړي ملګري به په صبر خپل کار ته دوام ورکاوه. څو میاشتي وروسته یې په باغ کي شنه بوټي راشنه سول او وروسته یې مېوې هم ورکړې. دوهم ملګری چي باغ یې نه وو جوړ کړی، د لومړي باغ ته راغی او د مېوو په لیدلو حیران سو. ده وویل: «اوس پوه سوم چي ستا زحمت بې ګټي نه وو. ما یوازي د نن ورځې په اړه فکر کاوه، خو تا د راتلونکي لپاره کار کاوه.»

لومړي ملګري ورته وویل: «د ډېرو شو کارونو پایله سمدستي نه شکاري. انسان باید خپل کار په حوصله او دوام ترسره کړي.»

عبرتونه

۱. د بریا لپاره زحمت او دوام اړین دي.
۲. د هر کار پایله سمدستي نه څرګندېږي.
۳. د راتلونکي لپاره پلان جوړول ګټور دي.
۴. د نورو پر هڅو ببڅایه ملنډي مه وهئ.
۵. صبر او کار د شو پایلو لاره هواروي.

د حیواناتو حق

په یوه کلي کي یو هلک اوسېدی چي د کورنۍ له وزو سره به یې کله ناکله بې پروایي کوله. که به وزې له رمې څخه لیري سوې، دی به یې په لټون کي وخت نه ضایع کاوه او ویل به یې: «ببرته به خپله راسي.»

یوه ورځ یوه وړه وزه له رمې څخه ورکه سوه. هلک په لومړي سر کي ورته پام ونه کړ، خو ماښام چي کورنۍ یې د وزې پوښتنه وکړه، دی وارخطا سو. له خپل پلار سره یې د وزې په لټون پیل وکړ. هغوی تر ډېره وخته وروسته وزه د یوې ډبریني غونډۍ تر څنګ پیدا کړه.

پلار یې ورته وویل: «حیوانات خبري نه سي کولای، خو زموږ پر ساتنه تکیه لري. که موږ یې مسؤلیت واخلو، باید په پوره پام یې وساتو.»

هلک د پلار خبره ومنله. له هغه وروسته یې د حیواناتو خوراک، اوبه او ساتنه په خپل وخت ترسره کول.

عبرتونه

۱. د حیواناتو ساتنه مسؤلیت دی.

۲. د ژوندي موجود په اړه بې پروایي ستونزي پیدا کوي.

۳. د خپلو دندو پر وخت ترسره کول مهم دي.

۴. له حیواناتو سره باید په مهربانۍ چلند وسي.

۵. د مسؤلیت منل د ښه شخصیت نښه ده.

د ناسم خبر پایله

یوه ورځ په یوه کلي کي یو هلک له بازاره کور ته راغی او ویې ویل: «ما واورېدل چي سبا به ښوونځی تړلی وي.» هغه د دې خبري د رښتینولی په اړه پوښتنه نه وه کړې.

خبر له یوه زده کوونکي څخه بل ته ورسېد. ډېرو ماشومانو د کور کارونه پرېښودل او د ښوونځي لپاره یې چمتووالی ونه نیوی. سبا چي ټول ښوونځي ته ولاړل، معلومه سوه چي ښوونځی عادي پرانیستی دی.

ښوونکي له زده کوونکو څخه پوښتنه وکړه چي دا خبر چا خپور کړی وو. هلک پورته سو او خپله تېروتنه یې ومنله. ده وویل: «ما خبر بې له ډاډه خپور کړ. نه مي غوښتل چي څوک وغولوم، خو زما بې احتیاطي ستونزه جوړه کړه.»

ښوونکي ورته وویل: «د ښه نیت لرل مهم دي، خو د خبر د رښتینولی معلومول هم اړین دي.»

له هغې ورځي وروسته هلک هڅه کوله چي تر خبر خپرولو مخکي یې سرچینه معلومه کړي.

عبرتونه

۱. هر اورېدلی خبر رښتیا نه وي.

۲. د خبر تر خپرولو مخکي یې رښتینولي معلومه کړئ.

۳. بې احتیاطي هم نورو ته ستونزي جوړولای سي.

۴. خپله تېروتنه منل د اصلاح لومړی قدم دی.

۵. د نورو وخت او کار ته درناوی وکړئ.

د رښتیا ویلو جرئت

په یوه ښوونځي کي د ټولګي د کړکۍ ښیښه ماته سوه. په هغه وخت کي څو زده کوونکي په انګړ کي لوبې کولې. یو توپ د کړکۍ له ښیښې سره ولګېد او ښیښه ماته سوه.

هغه زده کوونکی چي توپ یې غورځولی وو، ووېرېد او غوښتل یې چي پټه خوله پاته سي. نور ملګري یې هم چوپ سول. کله چي ښوونکی راغی، له ټولو څخه یې پوښتنه وکړه چي څه پېښه سوې ده.

یو زده کوونکي، نعمان، مخکي ولاړ او ویې ویل: «استاده! توپ زما له لاسه د کړکۍ ښیښې ته ولګېد. ما قصداً دا کار نه دی کړی، خو مسؤلیت یې زما دی.»

ښوونکي د نعمان رښتینولي وستایله. ده ورسره د ښیښې د بدلولو په اړه له کورنۍ سره د خبرو کولو پرېکړه وکړه.

ښوونکي ورته وویل چي تېروتنه کېدای سي له هر چا څخه وسي، خو مهمه دا ده چي انسان یې ومني او د اصلاح هڅه یې وکړي.

عبرتونه

۱. د تېروتني منل جرئت غواړي.

۲. رښتینولي د باور ساتلو سبب کېږي.

۳. د تېروتني پټول ستونزه نوره هم لویولای سي.

۴. د خپل عمل مسؤلیت پر غاړه واخلئ.

۵. له تېروتنو څخه زده کړه وکړئ.

د پلار د وسایلو صندوق

د یوه ترکانۍ پلار په کور کي د لرګیو د کار لپاره یو صندوق درلود. په صندوق کي مېخونه، چکش، اره او نور وسایل وو. د هغه زوی، بختیار، به کله ناکله وسایل اخیستل او له کار وروسته به یې په هر ځای کي پرېښودل.

یوه ورځ پلار یې غوښتل چي یو مهم کار بشپړ کړي، خو چکش یې پیدا نه کړ. ډېر وخت یې په لټون تېر کړ او کار یې وځنډېد. پلار یې بختیار ته وویل: «وسایل یوازي د کار لپاره نه دي؛ ساتنه او منظم ځای هم غواړي.»

بختیار پوه سو چي د ده بې نظمي د پلار وخت ضایع کړی وو. ده د وسایلو صندوق پاک کړ، هر شی یې په خپل ځای کښېښود او د وسایلو لپاره یې جلا ځایونه برابر کړل.

له هغه وروسته چي به یې کوم وسیله استعمال کړه، بېرته به یې خپل ځای ته اچوله. پلار یې هم په اسانۍ خپل کارونه ترسره کول.

عبرتونه

۱. د وسایلو ساتنه د کار برخه ده.

۲. بې نظمي د وخت د ضایع کېدو سبب کېږي.

۳. د هر شي لپاره ټاکلی ځای لرل ګټور دي.

۴. د نورو د کار وسایلو ته درناوی وکړئ.

۵. د خپل کار وروسته ځای پاک او منظم پرېږدئ.

د ملګري د بریا خوښي

په یوه ټولګي کي دوه زده کوونکي وو، سهراب او جاوېد. دواړو د یوې سیالۍ لپاره چمتووالی نیولی وو. سهراب ډېر تمرین وکړ، خو جاوېد تر ده ښه نتیجه ترلاسه کړه.

سهراب په لومړي سر کي خپه سو. ده فکر کاوه چي د جاوېد بریا د ده د ناکامۍ معنا لري. خو کله چي جاوېد ورته راغی او د خپلي بریا خبره یې ورسره شریکه کړه، سهراب لږ فکر وکړ او ورته ویې ویل: «مبارک دي سه! ستا هڅه بریالۍ سوې ده.» وروسته سهراب له جاوېد څخه وپوښتل چي څنګه یې دومره ښه چمتووالی نیولی وو. جاوېد خپل د تمرین طریقه ور وښوده. سهراب هم هغه طریقه وازمویله او د راتلونکې سیالۍ لپاره یې ځان ښه چمتو کړ.

سهراب پوه سو چي د بل چا بریا د خپلي زده کړي فرصت هم کېدای سي.

عبرتونه

۱. د نورو په بریا خوشحاله کېدل ښه اخلاق دي.

۲. حسد د انسان زړه ناارامه کوي.

۳. د بریالیو کسانو له تجربو څخه زده کړه وکړئ.

۴. د بل چا بریا ستاسي د پرمختګ مخه نه نیسي.

۵. د سالم رقابت موخه زده کړه او پرمختګ دی.

د ګاونډي د کور څراغ

په یوه کلي کي د ژمي یوه سړه شپه وه. د یوه بوډا سړي د کور څراغ مړ سوی وو او د ده په کور کي د رڼا لپاره بله وسیله نه وه. د ګاونډي زوی، یاسر، د خپل کور له کړکۍ څخه ولیدل چي بوډا په تیاره کي د څه شي په لټه کي دی.

یاسر خپل پلار ته وویل: «پلاره! زموږ ګاونډی په تیاره کي دی. کېدای سي مرستي ته اړتیا ولري.»

پلار یې ورسره د بوډا کور ته ولاړ. هغوی څراغ ورروښانه کړ او د کور د رڼا ستونزه یې حل کړه. بوډا د هغوی مننه وکړه او ویې ویل: «ستاسي کوچني خدمت زما لپاره ډېر ارزښت لري.»

یاسر په دې پوه سو چي کله ناکله د یوه انسان کوچنۍ مرسته د بل چا لپاره لویه اسانتیا جوړوي. له هغه وروسته به یې د ګاونډیانو حال هم پوښت او که به یې د مرستي اړتیا لرله، مرسته به یې ورسره کوله.

عبرتونه

۱. د ګاونډیانو د حال پوښتنه ښه عادت دی.

۲. کوچنۍ مرسته هم د چا لپاره لوی ارزښت لرلای سي.

۳. د اړتیا پر وخت د نورو لاسنیوی وکړئ.

۴. مهرباني د خلکو تر منځ مینه زیاتوي.

۵. د ټولني د غړو یو بل ته پام کول مهم دي.

د کار د وېش ګټه

د یوه ښوونځي زده کوونکو ته د ټولګي د کتابونو د الماری د پاکولو دنده وسپارل سوه. په پیل کي ټولو غوښتل چي یوازي هغه کار وکړي چي اسانه وو. ځینو غوښتل کتابونه یوازي پر الماری کښېږدي، خو هیڅوا د دوړو پاکولو ته زړه نه ښه کاوه. وروسته د ټولګي یوې زده کوونکې، مریم، وړاندیز وکړ چي کارونه دي ووېشل سي. هغې وویل: «یو کس دي دوړي پاکي کړي، بل دي کتابونه سره جلا کړي، درېیم دي د کتابونو نومونه ولیکي او نور دي کتابونه په ترتیب کښېږدي.»

ټولو د مریم خبره ومنله. هر زده کوونکي خپل کار ترسره کړ او په لږ وخت کي الماری پاکه او منظمه سوه. زده کوونکي حیران سول چي هغه کار چي په ګډوډۍ کي یې ډېر وخت نیوی، د کار په وېشلو سره ژر بشپړ سو.

ښوونکي د دوی هڅه وستایله او ویې ویل: «کله چي هر څوک خپله برخه ترسره کړي، ګډ کار اسانه کېږي.»

عبرتونه

۱. د کارونو وېشل د وخت د سپما سبب کېږي.

۲. هر څوک باید خپله برخه په مسؤلیت ترسره کړي.

۳. ګډ کار نظم او همغږي غواړي.

۴. د ښه پلان په مرسته ستونزمن کارونه اسانه کېږي.

۵. د نورو له وړتیاوو څخه سمه ګټه واخلئ.

د اوبو د ځاځکي ارزښت

په یوه کلي کي د اوبو یوه عامه نلکه وه. ځینو ماشومانو به له نلکي څخه اوبه اخیستې، خو وروسته به یې نلکه خلاصه پرېښوده. اوبه به پر ځمکه بهېدلې او د کلي لاره به لمده سوې وه.

یوه ورځ یو ماشوم، شفیق، ولیدل چې نلکه خلاصه پاته ده. ده نلکه بنده کړه او خپلو ملګرو ته یې وویل: «که هر څوک فکر وکړي چې یوازي یو څو څاځکي اوبه ضایع کوي، نو د ټولو خلکو په ګډه به ډېري اوبه ضایع سي.»

ملګرو یې خبره ومنله. دوی پرېکړه وکړه چې د اوبو د استعمال وروسته به نلکه بندوي او که به یې نلکه خرابه ولیدله، مشرانو ته به خبر ورکوي.

له هغه وروسته د اوبو د ضایع کېدو اندازه کمه سوه. د کلي خلکو هم د ماشومانو له دې ښه عادت څخه ملاتړ وکړ.

عبرتونه

۱. اوبه د ژوند لپاره ضروري نعمت دی.

۲. د اوبو بېځایه ضایع کول باید مخنیوی سي.

۳. کوچني ښه عادتونه لوی بدلون راوستلای سي.

۴. د عامه شتمنیو ساتنه د ټولو مسؤلیت دی.

۵. د ستونزي د لیدلو تر څنګ د حل لپاره هم ګام واخلئ.

د امانت ساتونکی ماشوم

په یوه کلي کي یو هلک اوسېدی چي نوم یې نعمت وو. یوه ورځ د ښوونځي له لاري کور ته روان وو چي د سړک پر غاړه یې یوه کوچنۍ بټوه پیدا کړه. بټوه یې راواخیسته او ویې کتل. په هغې کي یو څه پیسې او څو کاغذونه وو.

نعمت کولای سوای چي بټوه له ځانه سره وساتي، خو ده فکر وکړ چي کېدای سي د چا د کور ضروري پیسې وي. هغه بټوه خپل پلار ته یووړه او ټوله کیسه یې ورته وکړه.

پلار یې ورته وویل: «زویه! مونږ باید د بټوې خاوند پیدا کړو او خپل امانت ورته وسپارو.» دوی د بټوې په کاغذونو کي د خاوند د پېژندلو نښه پیدا کړه او د کلي له یوه مشر سره یې مشوره وکړه. په پای کي د بټوې خاوند معلوم سو.

کله چي سړي خپله بټوه بېرته ترلاسه کړه، ډېر خوشحاله سو. هغه نعمت ته د انعام ورکولو هڅه وکړه، خو نعمت په ادب ورته وویل: «ما دا کار د انعام لپاره نه دی کړی؛ دا ستا حق وو.»

سړي د نعمت د ښو اخلاقو ستاینه وکړه او ویې ویل چي داسي ماشومان د ټولني لپاره لوی نعمت دي.

عبرتونه

۱. د بل چا مال امانت دی او باید بېرته وسپارل سي.

۲. رښتینولي د انسان عزت لوړوي.

۳. ښه کار د انعام په تمه مه کوئ.

۴. د کورنۍ ښه لارښوونه د ماشومانو په روزنه کي مهمه ده.

۵. امانتداري د باور بنسټ دی.

د دوو ورونو پخلاینه

په یوه کلي کي دوه ورونه اوسېدل، مشر ورور یې فرید او کشر یې حمید نومېدی. دوی به ډېری وخت په کوچنیو خبرو سره خوابدي کېدل. کله به د لوبو پر سر جنجال سو او کله به د کور د کارونو پر وېش اختلاف پیدا سو.

یوه ورځ دوی د کور د انګړ د پاکولو پر سر سره خوابدي سول. هر یوه ویل چې بل ورور باید ډېر کار وکړي. د دوی مور دواړه راوغوښتل او ورته ویې ویل: «تاسي دواړه د یوې کورنۍ غړي یاست. که هر یو یوازي د خپل حق خبره کوي او د خپل مسؤلیت څخه تښتي، نو کور به مو څنګه سم وي؟»

ورونو د مور خبره واورېده. دوی پرېکړه وکړه چې کار به په خپل منځ کي ووېشي. فرید د انګړ د پاکولو کار واخیست او حمید د سامانونو د منظمولو مسؤلیت پر غاړه واخیست.

کله چې کار خلاص سو، دواړه پوه سول چې په شخړه کي یې وخت ضایع کړی وو، حال دا چې په ګډ کار سره یې ستونزه ژر حل کولای سوای.

له هغې ورځې وروسته به یې د اختلاف پر وخت خبري کولې او د حل لاره به یې پیدا کوله.

عبرتونه

۱. د کورنۍ د غړو تر منځ مینه او همکاري مهمه ده.

۲. شخړه د ستونزې حل نه دی.

۳. د مسؤلیتونو منصفانه وېش د اختلاف مخه نیسي.

۴. د مشرانو نصیحت په غور واورئ.

۵. بخښنه او پخلاینه د اړیکو د پیاوړتیا سبب کېږي.

د نیمګړي کار زیان

په یوه ښوونځي کي یو زده کوونکی وو چي نوم یې سلیم وو. هغه ډېر هوښیار وو، خو د کارونو په بشپړولو کي یې ډېره کوله. کله به یې د کور کار نیمګړی پرېښود او کله به یې د لیکلو پر وخت د جملو او کلمو سمون ته پام نه کاوه.

یوه ورځ ښوونکي زده کوونکو ته د یوې موضوع په اړه لیکنه ورکړه. سلیم لیکنه ژر بشپړه کړه او بې له بیا کتنې یې ښوونکي ته وسپارله. کله چي ښوونکي کتابچې ډېرته ورکړې، سلیم ولیدل چي په لیکنه کي یې ډېرې تېروتنې وې او څو مهمي خبرې یې هم نه وې لیکلي.

سلیم خپه سو او له ښوونکي څخه یې وپوښتل: «استاده! ما خو ډېر ژر کار بشپړ کړی وو، بیا ولي نمرې کمي دي؟»

ښوونکي ورته وویل: «ژر کار کول تل د ښه کار معنا نه لري. مهمه دا ده چي کار سم، بشپړ او په غور ترسره سي.»

له هغې ورځې وروسته سلیم د هر کار له بشپړولو وروسته هغه بیا لوست او خپلې تېروتنې یې اصلاح کولې. په لږ وخت کي یې د لیکنې کیفیت ډېر ښه سو.

عبرتونه

۱. د کار بشپړول تر ښځایه ښېرې مهم دي.

۲. د خپل کار بیا کتنه د تېروتنو مخه نیسي.

۳. له تېروتنو څخه زده کړه وکړئ.

۴. د ښه کار لپاره حوصله او غور اړین دي.

۵. کیفیت د کار په ارزښت کي مهم رول لري.

د مسافر لارښوونه

یوه ورځ یو مسافر یوه ناپېژندل سوي کلي ته راغی. هغه غوښتل چې د کلي روغتیایي مرکز ته ځان ورسوي، خو لاره یې نه پېژندله. له څو کسانو څخه یې پوښتنه وکړه، خو ځینو ورته په ببړه جواب ورکړ او ځینو ورته پام ونه کړ.

په همدې وخت کې یو هلک، طاهر، له ښوونځي څخه روان وو. هغه د مسافر ستونزه ولیده او ورڅخه یې پوښتنه وکړه چې کوم ځای ته ځي. مسافر د روغتیایي مرکز نوم ورته واخیست.

طاهر هغه ته لاره په روښانه ډول تشریح کړه. خو کله چې په سو چې مسافر د کلي لاري نه پېژني او مرکز لږ لیرې دی، نو پربېکړه یې وکړه چې د لارې تر یوې نښاني پورې به ورسره ولاړ سي.

مسافر د طاهر له مرستې مننه وکړه او ورته ویې ویل: «ستا دا لږ وخت زما لپاره ډېر ارزښت لري. که ته نه وای، کېدای سي زه ډېر وخت په لاره کې ورک ګرځېدلی وای.»

طاهر په خوشحالۍ کور ته ولاړ. هغه پوه سو چې له ناپېژندل سوي انسان سره هم په ادب او مهربانۍ مرسته کول د ښه اخلاقو برخه ده.

عبرتونه

۱. له اړمنو کسانو سره مرسته وکړئ.

۲. د لارښوونې پر وخت خبرې روښانه او په ادب وکړئ.

۳. د نورو ستونزې په پام کې نیول ښه اخلاق دي.

۴. د انسانانو مرسته باید یوازې د پېژندګلوۍ پر بنسټ نه وي.

۵. کوچنی خدمت هم د بل چا لپاره لویه اسانتیا جوړولای سي.

د پیسو سمه کارونه

په یوه کور کي یو هلک اوسېدی چي نوم یې وحید وو. پلار به یې کله ناکله د کوچنیو اړتیاوو لپاره لږ پیسې ورکولې. وحید به ډېری وخت پیسې پر بېلابېلو شیانو لګولې او کله چي به یې رښتیا یو اړین شی ته اړتیا پیدا کړه، پیسې به ورسره نه وې. یوه ورځ ښوونکي زده کوونکو ته د سپما په اړه خبري وکړې. هغه ورته وویل چي پیسې باید د اړتیا، ګټې او راتلونکي پلان له مخي ولګول سي.

وحید د ښوونکي خبره په پام کي ونیوله. له هغه وروسته یې پیسې په درې برخو ووېشلې: یوه برخه یې د ورځنیو اړتیاوو لپاره، یوه برخه یې د سپما لپاره او بله کوچنۍ برخه یې د هغو شیانو لپاره ساتله چي غوښتل یې په راتلونکي کي یې واخلي. څو میاشتي وروسته یې دومره پیسې سپما کړې چي د ښوونځي لپاره یې اړین کتابونه پرې واخیستل. پلار یې د ده له نظم څخه خوشحاله سو.

وحید پوه سو چي د پیسو ارزښت یوازي په ډېروالي کي نه دی، بلکي په سمه کارونه کي هم دی.

عبرتونه

۱. پیسې په غور او د اړتیا له مخي ولګوئ.
۲. سپما د راتلونکي اړتیاوو لپاره ګټوره ده.
۳. د پیسو د کارولو لپاره پلان جوړول مهم دي.
۴. هره غوښتنه سمدستي پوره کول اړین نه دي.
۵. د نعمتونو سمه کارونه د مسؤلیت نښه ده.

د اوربدلو هنر

په یوه ښوونځي کي د دوو زده کوونکو تر منځ اختلاف پیدا سو. یو یې ویل چي د ټولګي د پروژې ډېره برخه ده ترسره کړې ده، بل ویل چي د ده هڅي له پامه غورځول سوي دي. دوی دواړه په قهر سول او یو د بل خبري یې نه اورېدې.

ښوونکي چي دا حالت ولید، دواړه یې کښېنول او ورته ویې ویل: «اوس به هر یو په خپل وار خبري کوئ. بل کس به په منځ کي خبري نه درباندې پرې کوي.»

لومړي زده کوونکي خپله خبره وکړه. وروسته دوهم زده کوونکي د خپل کار په اړه معلومات ورکړل. کله چي دواړو د یو بل خبري په ارامه واورېدې، معلومه سوه چي دواړو د پروژې مهمه برخه ترسره کړې وه، خو د کارونو وېش یې له پیله روښانه نه وو.

دوی د یو بل هڅي ومنلې او پربکړه یې وکړه چي په راتلونکي کي به د کار له پیل څخه مخکي خپل مسؤلیتونه معلوموي.

ښوونکي ورته وویل: «ځینې اختلافونه ځکه لویږي چي خلک د جواب ورکولو لپاره غوږ نیسي، نه د پوهېدو لپاره.»

عبرتونه

۱. د نورو خبرو ته په غور غوږ ونیسئ.

۲. د اختلاف پر وخت ارامي د حل لاره اسانه کوي.

۳. د بل چا خبره تر پایه واورئ.

۴. د کارونو د مسؤلیتونو روښانه کول د شخړو مخه نیسي.

۵. د یو بل د هڅو منل د درناوي نښه ده.

د ورک سوي سپي لټون

په یوه کلي کي یو سپی وو چي د یوه کورنۍ له ماشومانو سره به یې ډېر وخت تېراوه. یوه ورځ سپی له کوره ورک سو. ماشومان یې خپه سول او د کورنۍ له مشرانو سره یې په لټون پیل وکړ.

د کلي یو هلک، ناصر، خبر سو چي سپی ورک دی. ده د کلي په بېلابېلو کوڅو کي پوښتنې وکړې او د سپي د رنګ او نښو په اړه یې خلکو ته معلومات ورکړل. یوه سپین ږیري ورته وویل چي د کلي په څنډه کي یې ورته یو سپی لیدلی دی.

ناصر د کورنۍ له یوه مشر سره هغه ځای ته ولاړ. هغوی سپی پیدا کړ او په احتیاط یې کور ته راوست. ماشومان ډېر خوشحاله سول او له ناصر څخه یې مننه وکړه.

ناصر ورته وویل: «کله چي موږ د یوه ژوندي موجود ساتنه پر غاړه اخلو، باید د هغه په اړه مسؤلیت هم احساس کړو.»

له هغې وروسته کورنۍ د سپي د ساتنې لپاره د کور دروازه ښه ترلې او پام یې کاوه چي سپی په خطرناکو ځایونو کي ونه ګرځي.

عبرتونه

۱. د حیواناتو ساتنه پاملرنه او مسؤلیت غواړي.

۲. د ستونزې د حل لپاره له نورو سره همکاري وکړئ.

۳. د اړینو معلوماتو شریکول د لټون په اسانه کولو کي مرسته کوي.

۴. د ژوندي موجوداتو خوندیتوب ته پام وکړئ.

۵. د مسؤلیت منل د ښه چلند برخه ده.

د ونډې انصاف

د یوه ښوونځي زده کوونکو د نندارتون لپاره یوه لویه تخته جوړه کړه. په دې کار کي څو زده کوونکو برخه واخیسته. چا انځورونه جوړ کړل، چا معلومات ولیکل او چا د تختې د ښکلا لپاره رنګونه برابر کړل.

کله چې کار بشپړ سو، د ډلې مشر غوښتل چې د نندارتون پر وخت یوازي د خپلو هڅو یادونه وکړي. خو د ډلې یوه غړي ورته وویل: «مورږ ټولو په دې کار کي برخه اخیستې ده. که زمورږ د ملګرو هڅې یادې نه کړې، انصاف به نه وي.»

د ډلې مشر لږ فکر وکړ او پوه سو چې د نورو ونډه له پامه غورځول سم کار نه دی. د نندارتون پر وخت یې د هر زده کوونکي کار په جلا ډول یاد کړ او له ټولو څخه یې مننه وکړه. ښوونکي د ډلې د کار ستاینه وکړه او ویې ویل چې د یوې بریا تر شا ډېر وخت د څو کسانو هڅې وي.

د ډلې مشر زده کړل چې مشري یوازي د کار د مخته وړلو نوم نه دی؛ بلکي د نورو د هڅو پېژندل هم دي.

عبرتونه

۱. د هر چا د هڅو قدر وکړئ.

۲. د ګډ کار بریا یوازي د یوه کس نه وي.

۳. د نورو د ونډې منل انصاف دی.

۴. ښه مشر د خپل ټیم غړي نه هېروي.

۵. د مننې څرګندول د ښو اړیکو سبب کېږي.

د کتاب د ساتني عادت

په یوه ښوونځي کي یو زده کوونکی وو چي نوم یې بلال وو. هغه کتابونه ډېر خوښول، خو د کتابونو د ساتني عادت یې نه درلود. کتابونه به یې بې له پوښ څخه په بکس کي اچول او کله به یې د پاڼو پر سر خوراکي شیان هم ایښوول.

یوه ورځ یې د خوښي کتاب پاڼي وشلېدې او څو مخونه یې چټل سول. بلال ډېر خپه سو، ځکه کتاب یې نور په پخواني حالت نه وو پاته.

هغه له خپل ښوونکي څخه د کتابونو د ساتني په اړه مشوره وغوښته. ښوونکي ورته وویل: «کتاب د پوهې وسیله ده. که مونږ یې ساتنه وکړو، ډېر وخت به راته ګټه راورسوي او نور کسان به هم تري استفاده وکړای سي.»

بلال د کتاب لپاره پوښ واخیست، پاڼي یې په احتیاط برابرې کړې او د کتابونو لپاره یې په بکس کي جلا ځای جوړ کړ. له هغه وروسته یې د خپلو کتابونو ساتنه په ښه ډول کوله.

کله چي یې کشر ورور د کتاب ساتنه ولیده، هغه هم له بلال څخه دا عادت زده کړ.

عبرتونه

۱. د علمي وسایلو ساتنه مهمه ده.
۲. کتابونه د پوهې ارزښتناکي سرچینې دي.
۳. د خپلو شیانو ساتنه د مسؤلیت نښه ده.
۴. ښه عادتونه نورو ته هم لېږدېدای سي.
۵. د شیانو سمه ساتنه د هغوی عمر زیاتوي.

د ښه ګاونډي ارزښت

په یوه کلي کي دوه کورنۍ څنګ په څنګ اوسېدې. یوه کورنۍ به له ګاونډیانو سره په مینه چلند کاوه، خو بله کورنۍ به اکثره وخت د خپلو کارونو په فکر کي وه او د ګاونډیانو حال ته به یې پام نه کاوه. یوه ورځ د کلي په یوه کور کي د باران له امله د انګړ یوه برخه له اوبو ډکه سوه. د کورنۍ غړي نه پوهېدل چي څنګه اوبه وباسي. د هغوی ګاونډي، رحیم، ستونزه ولیده او له خپلو زامنو سره یې د مرستي لپاره ورغلل.

دوی د اوبو د ایستلو لاره جوړه کړه او د کورنۍ د سامانونو په خوندي کولو کي یې هم مرسته وکړه. د کور خاوند د رحیم له مرستي ډېر خوشحاله سو او ویې ویل: «موږ ستاسي له مهربانۍ څخه ډېر څه زده کړل.»

څو ورځي وروسته رحیم د خپل کور د یوې ستونزي له امله مرستي ته اړتیا پیدا کړه. هماغه ګاونډي چي ده ورسره مرسته کړې وه، ژر ورغی او د ده لاسنیوی یې وکړ.

دواړو کورنیو پوهه ترلاسه کړه چي ښه ګاونډیتوب یوازي په سلام اچولو نه بشپړېږي؛ بلکي د اړتیا پر وخت د یو بل لاسنیوی هم غواړي.

عبرتونه

۱. له ګاونډیانو سره په درناوي او مهربانۍ چلند وکړئ.

۲. د اړتیا پر وخت مرسته کول د ښه ګاونډیتوب نښه ده.

۳. ښه اړیکي د باور او همکارۍ سبب کېږي.

۴. د نورو لپاره ښه کار وکړئ، بې له دې چي د بدل تمه ولرئ.

۵. یوه مهرباني کولای سي د خلکو تر منځ اوږدمهاله مینه پیدا کړي.

ساعت

په یوه زاړه ښار کي یو ساعت جوړوونکی اوسېدی چي نوم یې استاد کریم وو. د ده دوکان د ښار په یوه تنګه کوڅه کي وو او د ساعتونو د ټک ټک غږ به تل ورڅخه اورېدل کېدی.

یوه ورځ یو شتمن سوداګر خپل قیمتي ساعت استاد کریم ته راوړ او ورته ویې ویل: «دا ساعت راته جوړ کړه، ځکه له څو ورځو راهیسي وخت غلط ښیي.»

استاد کریم ساعت خلاص کړ، ویې کتل او پوه سو چي د ساعت دننه یوه کوچنۍ پرزه ماته سوې ده. ده سوداګر ته وویل: «دا پرزه باید بدله سي، خو لږ وخت غواړي.»

سوداګر په قهر سو او ورته ویې ویل: «ته خو د ساعتونو مشهور جوړوونکی یې، دومره کوچنۍ ستونزه ولي نه شې حل کولای؟»

استاد کریم په ارامه جواب ورکړ: «د ستونزي کوچنیوالی د هغې د حل کولو معنا نه لري. کله ناکله یوه کوچنۍ تېروتنه د ټول کار نظام خرابوي.»

څو ورځي وروسته ساعت جوړ سو. سوداګر چي ساعت ولید، حیران سو. استاد کریم ورته وښودل چي څنګه یوه کوچنۍ پرزه د ساعت د ټولو ستنو حرکت اغېزمنوي.

سوداګر د استاد کریم له خبرو څخه زده کړه وکړه چي په ژوند کي هم کوچنۍ تېروتني باید له پامه ونه غورځول سي، ځکه کله ناکله لویي ستونزي له هماغو څخه پیدا کېږي.

عبرتونه

۱. کوچنۍ ستونزي هم باید په پام کي ونیول سي.
۲. د کار د سمولو لپاره صبر او مهارت اړین دي.
۳. د نورو په اړه له ببړني قضاوت څخه ډډه وکړئ.
۴. د هر کار تر شا خپل اصول او نظام وي.
۵. د ستونزي د حل لپاره باید لومړی علت معلوم سي.

کوهی (څاه)

په یوه غرنی سیمه کي یو کلی وو چي خلک یې د څښلو اوبو لپاره له یوه لیري ځای څخه اوبه راوړلې. د کلي اوسېدونکو به هره ورځ اوږده لاره وهله او له ډېرو ستونزو سره به مخ کېدل.

یوه ورځ یو مسافر کلي ته راغی. هغه د خلکو ستونزه ولیده او ورته ویې ویل: «ستاسي په کلي کي د اوبو لپاره کوهی کېندل کېدای سي، خو دا کار ګډ زحمت غواړي.»

ځینو خلکو وویل: «دا ډېر سخت کار دی، موږ یې نه سو کولای.» ځینو نورو بیا ویل چي کېدای سي ډېر لګښت ولري. په دې خبرو سره د کوهي فکر همداسي پاته سو.

د کلي یوه ځوان، نادر، پرېکړه وکړه چي د کار د امکان په اړه به له تجربه لرونکو کسانو سره مشوره کوي. هغه د کلي له مشرانو سره خبري وکړې او د اوبو د ځای معلومولو لپاره یې د ماهرو کسانو مرسته وغوښته.

کله چي معلومه سوه چي د کوهي کېندل ممکن دي، د کلي خلکو خپل وس برابر کړ. چا کار وکړ، چا وسایل برابر کړل او چا د کارګرو لپاره خواړه تیار کړل.

له څو ورځو هڅو وروسته کوهی بشپړ سو او اوبه پکي راښکاره سوې.

هغه خلک چي پخوا یې د کار ناممکن والی یاداوه، اوس د بریا په لیدلو خوشحاله وو.

نادر ټولو ته وویل: «موږ هغه وخت بریالي سوو چي یوازي د ستونزي په یادولو مو بسنه ونه کړه، بلکي د حل لپاره مو هم ګام واخیست.»

عبرتونه

۱. د ستونزي په لیدلو سره باید د حل لاره هم ولټول سي.
۲. ګډ کار ډېر سخت کارونه اسانه کوي.
۳. د ماهرو کسانو مشوره د بریا لاره هواروي.
۴. له هڅې پرته د یوه کار ناممکن بلل سم نه دي.
۵. د ټولني د ګډو اړتیاوو پوره کول د ټولو ګډ مسؤلیت دی.

نیمګړی انځور

په یوه ښوونځي کي د انځورګرۍ سیالي اعلان سوه. ټولو زده کوونکو غوښتل چي تر نورو ښایسته انځور جوړ کړي. په دوی کي یوه زده کوونکې، شګوفه، ډېره تکړه وه او د طبیعت ښکلي انځورونه یې جوړول. شګوفې د یوه لوی باغ انځور پیل کړ. هغې د ونو، ګلونو او مرغانو لپاره ډېر ښکلي رنګونه ټاکلي وو. خو کله چي یې د بل زده کوونکي انځور ولید، چي ډېر ژر یې بشپړ کړی وو، شګوفه وارخطا سوه.

هغې خپل انځور په ښېړه رنګ کړ، خو د رنګونو تر منځ یې توازن له لاسه ورکړ او ځینې مهم ځایونه یې نیمګړي پرېښودل. کله چي یې انځور بشپړ سو، هغه د خپل لومړني فکر په اندازه ښکلی نه وو.

ښوونکي له هغې څخه پوښتنه وکړه: «ته خو ښه انځور جوړولای سې، نو دا ځل څه پېښ سول؟»

شګوفې خپله تېروتنه ومنله او ویې ویل: «ما د خپل کار پر ځای د نورو کارونو ته ډېر پام وکړ. د هغوی په لیدلو مي خپله حوصله له لاسه ورکړه.»

ښوونکي ورته وویل: «د نورو کارونه د زده کړي لپاره وګوره، نه د دې لپاره چي خپل کار په ښېړه خراب کړې.»

شګوفې له دې پېښې زده کړه وکړه. په راتلونکو سیالیو کي به یې د نورو له کارونو څخه الهام اخیست، خو خپل تمرکز به یې ساته.

عبرتونه

۱. د نورو سره ښځایه پرتله کول د خپل کار کیفیت خرابولای سي.

۲. د خپل کار پر وخت تمرکز مهم دی.

۳. له نورو څخه زده کړه وکړئ، خو خپل استعداد هم وپېژنئ.

۴. ښېړه کله ناکله د ښه کار پایله خرابوي.

۵. تېروتنه هغه وخت ګټوره ده چي انسان ورڅخه زده کړه وکړي.

دکاندار او ترازو

د یوه ښار په زاړه بازار کي یو دوکاندار مېوې پلورلې. د ده په دوکان کي یوه پخوانۍ ترازو وه چې د یوې خوا کاسه یې لږ درنه وه. دوکاندار د ترازو دې ستونزي ته پام نه وو کړی او د مېوو وزنونه یې سم نه راتلل.

یوه ورځ یو ځیرک هلک، سمیع، له خپل پلار سره دوکان ته راغی. پلار یې مېوې واخیستې، خو سمیع ولیدل چې د ترازو کاسه یوه خوا ته کښته کېږي. ده په ادب دوکاندار ته وویل: «کاکا! کېدای سي ستاسي ترازو سم وزن نه ښیي.»

دوکاندار په لومړي سر کي فکر وکړ چې هلک غواړي د مېوو په اخیستلو کي ستونزه جوړه کړي. خو سمیع ورته وڼاندیز وکړ چې ترازو په بل ځای کي هم وازمویي.

دوکاندار ترازو وازمویله او پوه سو چې رښتیا هم وزن یې سم نه وو. هغه له سمیع څخه مننه وکړه او ترازو یې د ترمیم لپاره یووړه.

وروسته دوکاندار د بازار نورو پلورونکو ته هم وویل چې خپل وسایل په وخت وازمویي، ځکه د یوې کوچنۍ ستونزي له امله د خلکو حقونه اغېزمنېدای سي.

عبرتونه

۱. د خلکو حقونه باید په پوره پام وساتل سي.

۲. د ستونزي په لیدلو سره په ادب خبرداری ورکول ښه کار دی.

۳. د کار وسایل باید په وخت وازمویل سي.

۴. د ټېروتني اصلاح کول د اعتبار د ساتلو سبب کېږي.

۵. رښتینی سوداګري پر انصاف او امانتداری ولاړه وي.

د کتاب پانې چا اړولي وي؟

د یوه ښار په عامه کتابتون کي یو زوړ کتاب وو چي د سیمي د تاریخ په اړه مهم معلومات پکي لیکل سوي وو. کتابتونوال به د کتابونو ساتنه کوله او غوښتل یې چي هر څوک په احتیاط ورڅخه استفاده وکړي.

یوه ورځ کتابتونوال ولیدل چي د کتاب څو پانې له خپل ځای څخه بې ترتیبه سوي دي. هغه فکر وکړ چي کېدای سي چا کتاب په بې احتیاطۍ استعمال کړی وي. په کتابتون کي څو زده کوونکي ناست وو او د یوه بل په اړه یې شکونه پیل کړل.

کتابتونوال ټولو ته وویل: «تر څو چي حقیقت معلوم نه وي، پر چا تور مه لګوئ.»

هغه کتاب په غور وکوت. معلومه سوه چي د کتاب د ګنډلو تار زوړ سوی وو او د پانو ترون یې کمزوری سوی وو. د کتابتونوال په مرسته کتاب د ترمیم لپاره واستول سو.

زده کوونکي حیران سول چي ستونزه د چا د بې احتیاطۍ له امله نه، بلکي د کتاب د زړېدو له امله پیدا سوې وه.

کتابتونوال ورته وویل: «که موږ د ثبوت له پیدا کولو مخکي پر یو چا تور ولګوو، کېدای سي د یوه بې ګناه انسان زړه مات کړو.»

له هغې ورځي وروسته زده کوونکو د هرې پېښې په اړه لومړی د حقیقت معلومولو عادت جوړ کړ.

عبرتونه

۱. له ثبوت پرته پر چا تور مه لګوئ.

۲. د هرې پېښې تر شا اصلي علت معلوم کړئ.

۳. بېړنی قضاوت د بې ګناه انسان د خپګان سبب کېدای سي.

۴. د کتابونو او عامه شتمنیو ساتنه مهمه ده.

۵. انصاف د حقیقت معلومولو غوښتنه کوي.

کښتي او نقشه

د یوه سیند پر غاړه په یوه کوچني ښار کي یو ځوان کښتۍ چلوونکی اوسېدی. هغه غوښتل چي د سیند له یوې برخي څخه بلې برخي ته خلک ورسوي. د کښتۍ چلولو تجربه یې لرله، خو د سیند د یوې نوې لارې په اړه یې پوره معلومات نه لرل.

یوه ورځ هغه پرېکړه وکړه چي د سیند له یوې لنډې لارې به سفر کوي. یوه تجربه لرونکي کښتۍ چلوونکي ورته وویل: «دا لاره له بهره لنډه ښکاري، خو په منځ کي یې ډبري او کم ژور ځایونه دي. تر سفر مخکي یې معلومات پیدا کړه.»

ځوان فکر وکړ چي دی خپله هم تجربه لري او د بل چا مشورې ته اړتیا نه لري. هغه کښتۍ روانه کړه، خو لږ وروسته یې ولیدل چي اوبه کم ژوري دي او کښتۍ مخته نه سي تللای.

ځوان اړ سو چي له یوه بل کښتۍ چلوونکي څخه مرسته وغواړي. هغه ورغی او کښتۍ یې له خطرناک ځای څخه راووېستله.

ځوان د خپلي بې غورۍ له امله شرمنده سو. وروسته یې د سیند د لارو نقشه پیدا کړه او د سفر تر مخه به یې د نوي ځای په اړه معلومات راټولول.

عبرتونه

۱. تجربه لرل د نوو معلوماتو اړتیا نه ختموي.

۲. د خطرناکو کارونو مخکي تیاری اړین دی.

۳. د ماهرو کسانو مشوره په غور واورئ.

۴. د ستونزي پر وخت مرسته غوښتل کمزوري نه ده.

۵. د بې غورۍ پر ځای له پخوا پلان جوړول غوره دي.

د واورو تر شا پټه لاره

په یوه غرنۍ سیمه کي د ژمي په موسم کي ډېره واوره اوربدلې وه. د کلي یوه تنګه لاره د واورو تر منځ پټه سوې وه. د کلي ماشومان ښوونځي ته نه سوای تللای او خلک هم د بازار پر لور په سختۍ تګ راتګ کاوه.

د کلي یو ځوان، عارف، فکر وکړ چي که هر څوک د لاري د پاکولو په تمه کښېني، نو ستونزه به ژر حل نه سي. هغه له څو ګاونډیانو سره خبري وکړې او د لاري د پاکولو لپاره یې د خلکو د همکارۍ وړاندیز وکړ.

ځینو خلکو ویل چي لاره ډېره اوږده ده او د پاکولو کار یې سخت دی. خو عارف ورته وویل: «که موږ هر یو د خپلي وسې مطابق لږ کار وکړو، د ټولو کار به اسانه سي.»

د کلي اوسېدونکو ببلچې او نور وسایل راوړل. ځینو واوره لیري کوله، ځینو پاکه سوې واوره د لاري له غاړې سره ټولوله او ځینو د ماشومانو لپاره خوندي تګ لاره برابروله.

د څو ساعتونو کار وروسته لاره د تګ راتګ لپاره خلاصه سوه. د کلي خلکو د عارف د نوښت ستاینه وکړه.

عبرتونه

۱. د ستونزي د حل لپاره نوښت او هڅه مهم دي.

۲. ګډ کار د سختو شرایطو اغېز کموي.

۳. هر څوک د خپلي وسې مطابق مرسته کولای سي.

۴. د ټولني د اړتیاوو پوره کول ګډ مسؤلیت دی.

۵. د ستونزي په وړاندي یوازې شکایت کول کافي نه دي.

د نصیحت عملي کول

د یوه ښار په بازار کي یو کوچنی دوکان وو چي د ښوونځي سامانونه یې پلورل. د دوکان خاوند هره ورځ د کړکۍ شاته د ورځي یو لنډ نصیحت لیکه. کله به یې لیکل: «رښتیا ووایه»، کله به یې لیکل: «د نورو حق مه خوره».

یوه ورځ یو زده کوونکی، مبین، د قلم اخیستلو لپاره دوکان ته ورغی. هغه د پیسو له ورکولو وروسته قلم واخیست او کور ته روان سو. په لاره کي یې ولیدل چي دوکاندار ورته تر ټاکلي حساب لږ زیاتي پیسې بېرته ورکړي دي.

مبین لږ ودرېد. په لومړي سر کي یې فکر وکړ چي دا پیسې به له ځان سره وساتي، ځکه دوکاندار به یې ښایي هېري کړي وي. خو بیا یې د دوکان د کړکۍ پر لیکلي نصیحت فکر وکړ.

هغه بېرته دوکان ته ولاړ او زیاتي پیسې یې دوکاندار ته وسپارلې.

دوکاندار حیران سو او ورته ویې ویل: «ستا دا کار راته وښودل چي نصیحت هغه وخت ارزښت لري چي انسان یې په خپل ژوند کي عملي کړي.»

مبین په خوشحالۍ کور ته ولاړ. هغه پوه سو چي د ښو خبرو اوریدل اسانه دي، خو په عمل کي یې ثابتول رښتینی ارزښت لري.

عبرتونه

۱. ښه نصیحت هغه وخت ارزښت لري چي عملي سي.

۲. د بل چا زیاتي پیسې باید بېرته ورکړل سي.

۳. رښتینولي په کوچنیو کارونو کي هم څرګندېږي.

۴. د انسان کردار تر خبرو ډېر څه ښیي.

۵. د نورو د حقونو ساتنه د ښه اخلاقو بنسټ دی.

بېړني حالت کي مرسته

په یوه ښار کي د اور وژني د مرکز څنګ ته یو زوړ زنګ ځوړند وو. د ښار خلکو ته معلومه وه چي د بېړني حالت پر وخت به دا زنګ وهل کېږي، څو خلک خبر سي او د مرستي لپاره چمتووالی ونیسي.

یوه ورځ د ښار په یوه ګودام کي لوګي پورته سول. د ګودام ساتونکي ولیدل چي دننه د اور نښي ښکاري. هغه سمدستي د اور وژني مرکز ته خبر ورکړ، خو د ګودام تر څنګ د خلکو ګڼه ګوڼه وه او لاره بنده سوې وه.

د مرکز مسؤل د زنګ غږ وکړ. د زنګ په اورېدو خلکو خپل موټرونه له لاري لیري کړل، د ګودام شاوخوا ځای یې خالي کړ او د مرستي لپاره یې د اور وژونکو لاره خلاصه کړه.

اور وژونکي ژر ورسېدل او د اور د خپرېدو مخه یې ونیوله. د ښار اوسېدونکو پوهه ترلاسه کړه چي د بېړني حالت پر وخت د خبر اورېدل او د مسؤلو کسانو لارښووني منل څومره مهم دي.

د ښار مشر وروسته له خلکو سره خبري وکړې او ورته ویې ویل: «کله چي د ټولني خوندیتوب په خطر کي وي، هر څوک باید په مسؤلیت عمل وکړي او د مرستي کوونکو مخه ونه نیسي.»

عبرتونه

۱. د بېړني حالت پر وخت ارامي او چټک اقدام مهم دي.

۲. د مسؤلو کسانو لارښووني په پام کي ونیسئ.

۳. د مرستي کوونکو لپاره لاره خلاصه پرېږدئ.

۴. د ټولني خوندیتوب د ټولو ګډ مسؤلیت دی.

۵. د خبر په اورېدو سره باید په مسؤلیت عمل وسي.

د ختو لوښي

په یوه زاړه ښار کي یو غریب لوښي جوړوونکی اوسېدی. د هغه نوم رحمت وو او د ختو ښکلي لوښي به یې جوړول. که څه هم د ده لوښي ډېر قیمتي نه وو، خو په مینه او پوره مهارت به یې جوړول.

یوه ورځ د ښار په بازار کي د پاچا د مانۍ یو کارکوونکی راغی. هغه غوښتل چي د مانۍ لپاره څو ښکلي لوښي واخلي. د ډېرو دوکاندارانو له لیدلو وروسته د رحمت دوکان ته ورسېد.

رحمت خپل لوښي ورته وښودل. په هغو کي یو لوښی لږ کږه ښه لرله، خو د هغه پر مخ یې ډېر ښکلی نقش جوړ کړی وو. کارکوونکي هغه لوښی خوښ کړ او له ځان سره یې مانۍ ته یووړ.

کله چي پاچا لوښی ولید، د هغه د نقش په اړه یې پوښتنه وکړه.

کارکوونکي ورته وویل چي دا د یوه غریب کسبګر کار دی چي خپل ټول هنر یې پکي کارولی دی.

پاچا رحمت مانۍ ته راوغوښت او پوښتنه یې ځني وکړه چي ولي یې لوښی لږ کږه ښه لري. رحمت په رښتینولۍ جواب ورکړ: «پاچا صیب! د ختو د وچېدو پر وخت لوښی لږ کږ سوی دی، خو ما وغوښتل چي د هغه پر مخ ښکلی نقش جوړ کړم. ما د خپلي تېروتني د پټولو پر ځای هڅه وکړه چي له هغه څخه یو ښکلی شی جوړ کړم.»

پاچا د رحمت رښتینولي او هنر خوښ کړ. هغه ورته د کار لپاره ښه ځای برابر کړ، څو خپل هنر ته دوام ورکړي.

رحمت پوه سو چي د انسان ارزښت یوازي په ظاهري بڼې والي کي نه دی، بلکي په رښتینولۍ، مهارت او هڅه کي هم دی.

عبرتونه

۱. رښتینولي د انسان عزت لوړوي.
۲. تېروتني د زده کړي او پرمختګ فرصت کېدای سي.
۳. د خپل هنر او کار قدر وکړئ.
۴. د انسان وړتیا باید د هغه د ظاهري حالت له مخي ونه ارزول سي.
۵. په هر کار کي هڅه او مهارت مهم دي.

ښه پوښتنه

په یوه ښوونځي کي یو ښوونکی د ځمکي او چاپېریال په اړه درس ورکاوه. هغه زده کوونکو ته وویل چي د ونو پرې کول د چاپېریال لپاره زیان لري، خو په ځینو ځایونو کي خلک د کورونو او سړکونو جوړولو لپاره ونې پرې کوي.

ټول زده کوونکي چوپ ناست وو. په پای کي یوه کوچني زده کوونکي، امان، لاس پورته کړ او ویې ویل: «استاده! که موږ د سړک جوړولو لپاره ونې پرې کوو، نو ولي د سړک تر جوړېدو وروسته نوي نیالګي نه کرو؟»

ښوونکی لږ غلی سو. بیا یې موسکی سو او ویې ویل: «دا ډېره ښه پوښتنه ده. په رښتیا، د ودانیزو کارونو تر څنګ باید د چاپېریال ساتني ته هم پام وسي.»

ښوونکي له زده کوونکو وغوښتل چي د ښوونځي په انګړ کي د نیالګیو د کرلو لپاره یوه طرحه جوړه کړي. ماشومانو د ښوونځي له اداري سره مشوره وکړه او د ونو د کرلو لپاره یې مناسب ځایونه وټاکل.

څو ورځي وروسته یې نیالګي وکرل او د ساتني لپاره یې خپل منځ کي دندې ووېشلې.

د امان یوه ساده پوښتنه د ښوونځي د یوه ګټور کار د پیل سبب سوه.

عبرتونه

۱. ښه پوښتنه د نوي فکر دروازه پرانیزي.

۲. د چاپېریال ساتنه د ټولو مسؤلیت دی.

۳. کوچنی انسان هم لوی او ګټور فکر لرلای سي.

۴. د ستونزو د حل لپاره نوښت مهم دی.

۵. علم هغه وخت ډېر ګټور وي چي په عمل بدل سي.

هغه صندوق چې دوي کیلي یي لرلي

په یوه بازار کي دوه ورونه د جامو دوکان درلود. مشر ورور یې نعیم او کشر یې کریم نومېدی. دوی له ډېرو کلونو راهیسي په ګډه کار کاوه، خو د پیسو د حساب په اړه یې کله ناکله اختلاف پیدا کېدی.

نعیم غوښتل چې د دوکان ټول حسابونه یوازي له ځان سره وساتي.

کریم بیا ویل چې دواړه باید د پیسو د حساب په اړه معلومات ولري.

یوه ورځ د دوی پلار دوکان ته راغی او د پیسو لپاره یې یو نوی صندوق راوړ. صندوق دوه کیلي لرلې. پلار یې ورته وویل: «دا صندوق د دې لپاره دی چې دواړه ورونه د حساب په ساتنه کي ونډه ولري. پیسې یوازي په ساتلو نه خوندي کېږي؛ روښانه حساب او متقابل باور هم اړین دي.»

ورونو د پلار خبره ومنله. دوی د پیسو د داخلېدو او وتلو لپاره یو کتاب جوړ کړ. هره ورځ به یې حساب لیکه او دواړو به کتل.

څو میاشتي وروسته د دوی اختلافونه کم سول. دوی پوه سول چې په ګډ کاروبار کي د پیسو تر څنګ رونوالی او باور هم مهم دي.

عبرتونه

۱. په ګډ کار کي رونوالی د باور سبب کېږي.

۲. د پیسو حساب باید په منظم ډول وساتل سي.

۳. د اختلاف د حل لپاره د دواړو خواوو ګډون مهم دی.

۴. د کورنۍ غړي باید یو د بل حقونو ته درناوی وکړي.

۵. باور د رښتینولۍ او روښانه چلند له لارې پیاوړی کېږي.

په ژمي کي د خلکو لاسنیوي

په یوه غرنۍ سیمه کي د ژمي سخته واوره وربدلې وه. د یوه کلي لاري بندي سوې وې او خلک د بازار له تګ راتګ څخه پاتې سوي وو.

د کلي په یوه کور کي د یوې کورنۍ لپاره یوازي دومره اوړه پاته وو چي د شپې ډوډۍ پرې پخه کړي. په همدې وخت کي د کور مشر خبر سو چي د دوی ګاونډۍ بوډۍ ښځه ناروغه ده او په کور کي یې د خوراک لپاره څه نه لري.

د کورنۍ غړي په دې فکر کي سول چي خپلي لږې اوړه وساتي که له ګاونډۍ سره مرسته وکړي. د کور مور وویل: «مورږ که لږه ډوډۍ وخورو، بیا هم د هغې لپاره یوه برخه برابرولای سو. په سخت وخت کي د انسانانو مهرباني تر ټولو ډېر ارزښت لري.»

دوی ډوډۍ پخه کړه او یوه برخه یې بوډۍ ښځې ته یووړه. ګاونډۍ د دوی له مهربانۍ څخه ډېره مننه وکړه.

بله ورځ د کلي څو نورو کورنیو هم د هغو کسانو لپاره خواړه برابر کړل چي اړتیا یې لرله. د خلکو تر منځ د مرستي یوه ښه لړۍ پیل سوه. که څه هم د ژمي سړې ورځې لا پاته وې، خو د کلي خلکو د یو بل د لاسنیوي له امله ځانونه یوازې نه احساسول.

عبرتونه

۱. د سختۍ پر وخت د مرستي ارزښت زیاتېږي.

۲. د اړمنو خلکو اړتیاوي په پام کي ونیسئ.

۳. لږه مرسته هم د بل چا لپاره ډېره مهمه کېدای سي.

۴. مهرباني د ټولنې تر منځ مینه پیاوړې کوي.

۵. د ستونزو پر وخت یووالی د خلکو قوت دی.

د انځور تر شا پټ حقیقت

په یوه ښوونځي کي د نقاشۍ نندارتون جوړ سو. د زده کوونکو انځورونه د تالار پر دېوالونو ځوړند سوي وو. په هغو کي یو انځور د یوه ښکلي باغ وو چي د لیدونکو پام یې ځان ته رااړاوه.

د ښوونځي یو مېلمه د انځور ستاینه وکړه او ویې ویل: «دا باغ ښایي د یوه ډېر ښکلي ځای انځور وي.»

د انځور جوړوونکې، ملالۍ، ورته وویل: «دا د یوه واقعي باغ انځور نه دی. ما دا باغ په خپل فکر کي جوړ کړی دی. ما غوښتل چي وښیم، که خلک ونې وکري او د طبیعت ساتنه وکړي، زمونږ ښارونه هم داسي ښایسته کېدای سي.»

مېلمه د هغې له فکر څخه اغېزمن سو. د ښوونځي مدیر هم د انځور له موضوع څخه په الهام اخیستلو د زده کوونکو لپاره د چاپېریال د ساتني یوه ورځ اعلان کړه.

زده کوونکو د ښوونځي انګړ پاک کړ، نیالګي یې وکرل او د ونو د ساتني په اړه یې د معلوماتو پاڼي ووېشلې.

ملالۍ پوه سوه چي هنر یوازي د ښکلا لپاره نه دی؛ هنر کولای سي خلکو ته یو مهم پیغام هم ورسوي.

عبرتونه

۱. هنر د ښو پیغامونو د رسولو وسیله کېدای سي.

۲. د طبیعت ساتنه د راتلونکي نسل لپاره مهمه ده.

۳. یو ښه فکر د نورو د هڅوني سبب کېدای سي.

۴. ښکلا هغه وخت ارزښتناکه ده چي له ګټې سره مل وي.

۵. د خپل استعداد څخه د ټولنې د ښېګڼې لپاره استفاده وکړئ.

د دوولارو مسافر

په یوه ښار کي یو ځوان د کار په لټه کي وو. یوه ورځ یې دوه وړاندیزونه ترلاسه کړل. لومړی کار یې اسانه وو او پیسې یې ژر ورکولې، خو د کار په اړه یې معلومات روښانه نه وو. دوهم کار لږ ستونزمن وو، خو د زده کړي او پرمختګ فرصت یې درلود.

ځوان په لومړي سر کي غوښتل چي اسانه کار غوره کړي، ځکه فکر یې کاوه چي ژر به پیسې ترلاسه کړي. خو د هغه تره ورته وویل: «د کار د انتخاب پر وخت یوازي ننني ګټه مه ګوره. د کار د خوندیتوب، رښتینولی او راتلونکي ارزښت په اړه هم فکر وکړه.»

ځوان د دواړو کارونو په اړه پوښتني وکړې. معلومه سوه چي لومړی کار د روښانه ټرون او خوندي شرایطو له پلوه ستونزي لري، خو دوهم کار قانوني او د زده کړي لپاره مناسب دی.

هغه دوهم کار غوره کړ. په پیل کي ورته ستونزمن وو، خو د کار په جریان کي یې نوي مهارتونه زده کړل او ورو ورو یې تجربه زیاته سوه.

څو کاله وروسته هغه د خپل کار په برخه کي تکړه کس سو. ده پوهه ترلاسه کړه چي هر اسانه انتخاب تر ټولو ښه نه وي او د پرېکړي مخکي معلومات راټولول اړین دي.

عبرتونه

۱. د پرېکړي مخکي د انتخابونو په اړه معلومات راټول کړئ.

۲. یوازي لنډمهاله ګټه د ښه انتخاب معیار نه دی.

۳. د کار خوندیتوب او رښتینولي مهم دي.

۴. ستونزمن کارونه کله ناکله د پرمختګ ښه فرصتونه برابروي.

۵. د تجربه لرونکو کسانو مشوره په غور واورئ.

د کار مخکي معلومات کول

په یوه کوچني ورکشاپ کي یو استاد د بربښنایي وسایلو ترمیم کاوه. د ده شاګرد، فهیم، له څو میاشتو راهیسي ورسره کار کاوه. فهیم غوښتل چي ژر ماهر سي، خو کله ناکله به یې د استاد له لارښووني پرته د وسایلو د ترمیم هڅه کوله.

یوه ورځ یو زوړ راډیو د ترمیم لپاره ورکشاپ ته راوړل سو. فهیم فکر وکړ چي ستونزه به یې ډېره ساده وي. هغه راډیو خلاصه کړه او بې له دې چي د ستونزي په اړه پوره معلومات پیدا کړي، څو برخې یې بدلي کړې.

خو راډیو لا هم کار نه کاوه. استاد راغی او د راډیو حالت یې وکوت. هغه له فهیم څخه پوښتنه وکړه چي ترمیم یې په کوم دلیل کړی دی.

فهیم ومنله چي د ستونزي علت یې په پوره ډول نه وو معلوم کړی.

استاد ورته وویل: «د یوه شي د خلاصولو او د هغه د جوړولو تر منځ توپیر دی. ماهر کس لومړی فکر کوي، بیا کار کوي.»

استاد د راډیو د ستونزي د معلومولو طریقه ورته وښودله. معلومه سوه چي ستونزه په یوه کوچنۍ برخه کي وه، چي فهیم ورته پام نه وو کړی.

له هغې ورځي وروسته فهیم د هر وسیله د ترمیم مخکي د ستونزي د علت معلومولو عادت جوړ کړ.

عبرتونه

۱. د کار تر پیل مخکي د ستونزي علت معلوم کړئ.
۲. بې له پوهې او تیاري کار کول د زیان سبب ګڼای سي.
۳. د استاد له تجربې څخه زده کړه وکړئ.
۴. ماهر انسان په غور او منظم ډول کار کوي.
۵. تېروتنه د زده کړي فرصت دی، که انسان یې ومني.

د کتابتون هغه کوچنی صندوق

د یوه ښوونځي په کتابتون کي یو کوچنی صندوق ایښودل سوی وو. د صندوق پر مخ لیکل سوي وو: «هغه پوښتنه ولیکئ چي په ټولګي کي یې د پوښتلو جرئت نه لرئ.»

ځینو زده کوونکو د ریاضي، ځینو د ساینس او ځینو د ژبي په اړه پوښتني لیکلې. کتابتونوال به هره اوونۍ صندوق خلاصاوه او پوښتني به یې ښوونکو ته رسولې.

په ټولګي کي یو خاموش زده کوونکی، عادل، د یوې موضوع په اړه نه پوهېدی، خو د پوښتني کولو څخه شرمېدی. هغه خپله پوښتنه پر کاغذ ولیکله او صندوق ته یې واچوله.

بله ورځ ښوونکي د همدې موضوع په اړه ځانګړی درس ورکړ. عادل په ډېر غور درس واورېد او ستونزه یې حل سوه. څو نورو زده کوونکو هم وویل چي دوی هم په همدې موضوع کي ستونزه لرله.

د ښوونځي مدیر ولیدل چي د کوچني صندوق په مرسته زده کوونکي د خپلو ستونزو د بیانولو لپاره ښه فرصت ترلاسه کوي.

له هغې وروسته د ښوونځي په کتابتون کي د پوښتنو صندوق د زده کوونکو لپاره یوه ګټوره وسیله وګرځېده.

عبرتونه

۱. پوښتنه کول د زده کړې مهمه برخه ده.

۲. د نورو د ستونزو اورېدل د ګډو حل لارو په پیدا کولو کي مرسته کوي.

۳. د زده کړې لپاره باید مناسب فرصتونه برابر سي.

۴. د شرم له امله خپله پوښتنه مه پټوئ.

۵. نوښت کولای سي د زده کړې ستونزي اسانه کړي.

د کلي د نقاشي شوي دېوال راز

د يوه کلي د ښوونځي دېوالونه زاړه او خړ سوي وو. د ښوونځي مدير غوښتل چي دېوالونه رنګ کړي، خو د رنګ اخيستلو لپاره يې پوره پيسې نه لرلې.

د ښوونځي يو زده کوونکی، ميرويس، د انځورګرۍ ښه استعداد درلود. هغه وړانديز وکړ چي د کلي له مشرانو سره به مشوره وکړي او د ښوونځي د دېوالونو د ښکلا لپاره به د خلکو مرسته وغواړي.

د کلي ځينو خلکو رنګونه برابر کړل، ځينو د کار وسايل راوړل او ځينو د دېوالونو د پاکولو کار وکړ. ميرويس او ملګرو يې پر دېوالونو د کتابونو، ونو، غرونو او د زده کړي د ارزښت په اړه ښکلي انځورونه جوړ کړل.

کله چي کار بشپړ سو، د ښوونځي انګړ ډېر ښايسته سو. د کلي خلک د دېوالونو ليدلو ته راتلل او ماشومان به د انځورونو په اړه پوښتني کولې.

مدير ميرويس ته وويل: «تا وښودل چي د ستونزي د حل لپاره يوازي پيسې مهمي نه دي؛ فکر، استعداد او د خلکو همکاري هم ارزښت لري.»

عبرتونه

۱. د استعداد په مرسته ګټور کارونه ترسره کېدای سي.

۲. د ټولنې په پرمختګ کي د خلکو همکاري مهمه ده.

۳. د ستونزو د حل لپاره نوښت وکړئ.

۴. د زده کړي چاپېريال بايد ښکلی او هڅوونکی وي.

۵. هر څوک د خپلې وسې مطابق د ټولنې په ښېګڼه کي برخه اخيستلای سي.

هغه مسافر چې خپل نوم يې نه وايه

په يوه کوچني ښار کي يو مسافر د شپې ناوخته ورسېد. هغه ستړی وو او د اوسېدو لپاره يې د ځای په لټه کي وو. د ښار د يوه کوچني ښلمستون خاوند ورته وويل چې کوټه شته، خو د نوم او د سفر د مقصد په اړه يې پوښتنه وکړه.

مسافر خپل نوم ونه وايه او يوازې يې غوښتل چې کوټه ترلاسه کړي. د ښلمستون خاوند په ادب ورته وويل چې د ښلمنو د ثبت لپاره ځينې معلومات اړين دي.

مسافر په لومړي سر کي خپه سو، خو وروسته يې ومنله چې د ښلمستون خاوند د خپل ځای د اصولو له مخې عمل کوي. هغه خپل اړين معلومات ورکړل او کوټه يې ترلاسه کړه.

سبا سهار مسافر له ښلمستون څخه د وتلو پر وخت له خاوند څخه مننه وکړه او ويې ويل: «پرون ما فکر کاوه چې ته زما په اړه ببځايه پوښتنې کوې، خو اوس پوه سوم چې هر ځای خپل اصول او مسؤليتونه لري.»

د ښلمستون خاوند ورته وويل: «د ښلمنو درناوی مهم دی، خو د ټولو خوندیتوب هم بايد په پام کي ونيول سي.»

مسافر په دې پوه سو چې د اصولو درناوی د ګډ ژوند يوه مهمه برخه ده.

عبرتونه

۱. د عامه ځايونو اصول بايد په پام کي ونيول سي.
۲. د نورو د مسؤليتونو درناوی وکړئ.
۳. د خپل نظر تر څنګ د بل لوري دليل هم واورئ.
۴. د اصولو مراعات د خوندیتوب په ساتلو کي مرسته کوي.
۵. په ادب خبرې کول اختلاف اسانه حل کوي.

د ښوونځي د رخصتۍ زنګ

په یوه ښوونځي کي د رخصتۍ زنګ هره ورځ وهل کېدی. د ښوونځي زده کوونکو به د زنګ له غږ سره سم کتابونه ټولول او د وتلو لپاره به یې بیړه کوله.

یوه ورځ د زنګ د تار ستونزه پیدا سوه او زنګ ونه وهل سو. ځینو زده کوونکو فکر وکړ چي ښایي رخصتي نه وي، خو ځینو نورو د ښوونکي له اجازې پرته د وتلو هڅه وکړه.

د ښوونځي یوه زده کوونکي، شفیق، د ټولګي ښوونکي ته خبر ورکړ. ښوونکي د اداري له مسؤل سره اړیکه ونیوله او معلومه سوه چي د زنګ د تار یوه برخه خرابه سوې ده.

د ښوونځي اداري د زنګ د ترمیم لپاره کارګر راوغوښت. تر هغه وخته ښوونکو د رخصتۍ وخت په خپلو ساعتونو معلوم کړ او زده کوونکو ته یې د وتلو لارښوونه وکړه.

د زنګ له ترمیم وروسته د ښوونځي مدیر زده کوونکو ته وویل: «د یوې نښې یا وسیلې نشتوالی باید د بې نظمي سبب نه سي. انسان باید د حالت په اړه معلومات پیدا کړي او د اصولو له مخي عمل وکړي.»

عبرتونه

۱. د ستونزي په وخت کي ارامي وساتئ.

۲. د اصولو له مخي عمل کول د بې نظمۍ مخه نیسي.

۳. د مسؤلو کسانو خبرول د ستونزي په حل کي مرسته کوي.

۴. د یوې وسیلې خرابېدل باید د ټول نظام د ګډوډۍ سبب نه سي.

۵. د حالاتو مطابق د حل مناسبه لاره پیدا کړئ.

د دوکان د دوو شاګردانو راز

په یوه ښار کي یو بوټ جوړوونکی دوکان درلود. د ده دوه شاګردان وو، جاوېد او نصیر. جاوېد به په کار کي ډېر ژر و، خو کله ناکله به یې د بوټونو ګنډل سم نه کول. نصیر بیا لږ ورو کار کاوه، خو هر بوټ به یې په غور کتل او د ګنډلو له بشپړېدو وروسته به یې بیا ازمویه.

یوه ورځ د یوه مشتری لپاره د بوټونو مهمه جوړه تیارېده. استاد جاوېد ته د بوټونو د جوړولو دنده ورکړه. جاوېد په لږ وخت کي کار بشپړ کړ، خو کله چې مشتری بوټونه واغوستل، د یوه بوټ ګنډل خلاص سول.

مشتری ببرته دوکان ته راغی. استاد له جاوېد څخه وغوښتل چې بوټونه اصلاح کړي. په همدې وخت کي نصیر د بل مشتری لپاره خپل کار بشپړ کړی وو او د بوټونو د سمون لپاره یې وروستی ځل کتنه کوله.

استاد دواړه شاګردان راوغوښتل او ورته ویې ویل: «چټکتیا ګټوره ده، خو که د کار کیفیت خراب کړي، نو ګټه یې له منځه ځي. موږ باید کار هم پر وخت او هم په سمه توګه ترسره کړو.»

جاوېد د استاد خبره ومنله. له هغه وروسته یې د کار تر بشپړېدو وروسته د کتني عادت جوړ کړ.

عبرتونه

۱. د کار کیفیت د چټکتیا په اندازه مهم دی.

۲. د خپل کار وروستۍ کتنه تېروتني کموي.

۳. له تېروتنو څخه زده کړه وکړئ.

۴. د مشتریانو حقونه او اړتیاوي په پام کي ونیسئ.

۵. ښه کسبګر د کار د سمون مسؤلیت مني.

د کلی هغه څراغ چی مړ نشو

په یوه لیري کلي کي د سړک په یوه څنډه کي یو څراغ لګېدلی وو. د شپې به یې د کلي د خلکو د تګ راتګ لاره روښانه کوله. د څراغ د ساتني لپاره یو ځوان، حمزه، مسؤل ټاکل سوی وو.

حمزه به هره اوونۍ څراغ کتل او که به کومه ستونزه وه، د ترمیم لپاره به یې خبر ورکاوه. خو یوه ورځ د څراغ شیشه ماته سوه. ځینو خلکو وویل چي څراغ نور ګټه نه لري او باید بدل سي.

حمزه څراغ په غور وکوت او پوه سو چي د څراغ اصلي برخه لا هم کار کوي؛ یوازي شیشه یې ماته سوې ده. هغه د مناسبې شیشې د برابرولو لپاره د کلي له مشرانو سره مشوره وکړه.

د کلي خلکو د څراغ د ترمیم لپاره مرسته وکړه. څو ورځي وروسته څراغ بېرته روښانه سو او د شپې لاره یې روښانه کړه.

د کلي یو سپین ږیري حمزه ته وویل: «تا د یوه کوچني څراغ ساتنه وکړه، خو د هغه رڼا د ډېرو خلکو لپاره ګټوره ده.»

حمزه پوه سو چي ځینې کارونه که څه هم کوچني ښکاري، خو د ټولنې په ژوند کي مهم رول لري. هغه پرېکړه وکړه چي د کلي د نورو عامه وسایلو ساتنې ته به هم پام کوي.

عبرتونه

۱. د عامه شتمنیو ساتنه د ټولنې لپاره ګټوره ده.

۲. د هرې ستونزې د حل لپاره د شی غورځول اړین نه دي.

۳. ګډه همکاري د ټولنې اړتیاوي پوره کوي.

۴. کوچني کارونه هم د ډېرو خلکو په ژوند کي اغېز لرلای سي.

۵. د مسؤلیت منل د ټولنې د پرمختګ سبب ګرځي.

بزګر او د باران انتظار

په یوه پراخ کلي کي یو بزګر اوسېدی چي نوم یې عبدالرحیم وو. هغه هر کال په خپل پټي کي غنم کرل، خو هغه کال بارانونه لږ سوي وو او د بزګرانو فصلونه له خطر سره مخ وو.

عبدالرحیم هره ورځ اسمان ته کتل او ویل به یې: «که باران و نه سي، زمونږ فصل به خراب سي.»

د هغه زوی، نعمان، ورته وویل: «پلاره! باران زمونږ په اختیار کي نه دی، خو مونږ کولای سو چي د اوبو د ساتلو لپاره یو څه وکړو.»

پلار یې په لومړي سر کي د زوی خبره جدي ونه ګڼله. خو نعمان د کلي له څو ځوانانو سره مشوره وکړه. هغوی د پټیو تر څنګ کوچني ویالې پاکي کړې او د باران د اوبو د راټولېدو لپاره یې یو مناسب ځای برابر کړ.

څو ورځي وروسته لږ باران وسو. د نورو پټیو ډېره اوبه ضایع سوې، خو د نعمان او ملګرو په برابر کړي ځای کي اوبه راټولي سوې او وروسته د اړتیا پر وخت وکارول سوې.

عبدالرحیم له خپل زوی څخه مننه وکړه او ویې ویل: «مونږ د باران د راتلو واک نه لرو، خو د شته امکاناتو د سم استعمال مسؤلیت لرو.»

عبرتونه

۱. د ستونزو پر وخت یوازې انتظار مه کوئ؛ د حل لاره هم ولټوئ.

۲. د اوبو ساتنه د ژوند او کرهنې لپاره مهمه ده.

۳. د ځوانانو ښه فکرونه باید واورېدل سي.

۴. د امکاناتو سمه استفاده د ستونزو په کمولو کي مرسته کوي.

۵. د طبیعت له نعمتونو څخه په احتیاط استفاده وکړئ.

د ښوونځي د انګړ پټه خزانه

په یوه کلي کي د هلکانو یو ښوونځی وو. د ښوونځي په انګړ کي یوه زړې ونې سیوری جوړ کړی وو او ماشومان به د تفریح پر وخت هلته کښیناستل.

یوه ورځ څو زده کوونکو د ونې تر څنګ د ځمکي په کیندلو کي یو زوړ صندوق پیدا کړ. هغوی فکر وکړ چي کښدای سي په صندوق کي قیمتي شیان وي. په بیړه یې صندوق ښوونکي ته یووړ.

ښوونکي صندوق خلاص کړ. دننه پخواني کتابونه، څو انځورونه او د ښوونځي د جوړښدو په اړه یو لیک وو. په لیک کي لیکل سوي وو چي د کلي خلکو څو لسیزي مخکي د خپلو پیسو په مرسته ښوونځی جوړ کړی وو.

زده کوونکي حیران سول. هغوی تر دې مخکي فکر کاوه چي ښوونځی یوازي د دولت له خوا جوړ سوی دی.

ښوونکي د کلي له مشرانو سره مشوره وکړه او پریکړه وسوه چي دا شیان به د ښوونځي په یوه ځانګړي الماری کي وساتل سي، څو راتلونکي زده کوونکي هم د خپل ښوونځي تاریخ وپیژني.

ماشومانو پوهه ترلاسه کړه چي د دوی د زده کړي تر شا د پخوانیو خلکو هڅي او قربانۍ پرتې دي.

عبرتونه

۱. د پخوانیو خلکو د هڅو قدر وکړئ.

۲. د تاریخ ساتنه د راتلونکو نسلونو لپاره مهمه ده.

۳. د عامه شتمنیو په اړه باید مسؤلانه چلند وسي.

۴. هره پټه موندنه قیمتي پیسې نه وي؛ علمي ارزښت هم لري.

۵. د ښوونځي او زده کړي د پرمختګ لپاره د خلکو همکاري مهمه ده.

د خپلي غلطۍ منل او اصلاح

په یوه ښار کي یو بوډا دوکاندار اوسېدی چي نوم یې استاد نبي وو. هغه د خپل دوکان دروازه به سهار وختي خلاصه کړه او ماښام به یې بنده کړه. د ده دوکان د ښار د خلکو لپاره د ورځنیو اړتیاوو یو کوچنی مرکز وو.

یوه ورځ استاد نبي د ناروغۍ له امله دوکان ته نه سو تلای. د ده ځوان شاګرد، سلیم، د دوکان د ساتنې مسؤلیت واخیست.

د غرمې پر مهال یو مشتری راغی او د څو شیانو د اخیستلو غوښتنه یې وکړه. سلیم شیان ورته برابر کړل، خو د حساب پر وخت یې یوه بیه غلطه ولیکله. مشتری پیسې ورکړې او ولاړ.

وروسته سلیم په حساب کي تېروتنه ولیدله. هغه پوه سو چي له مشتری څخه یې زیاتي پیسې اخیستي دي. د مشتری د پېژندلو لپاره یې د دوکان د حساب کتاب وکوت او معلومه یې کړه چي هغه د ښار په یوه نږدې کوڅه کي اوسېږي.

سلیم دوکان بل شاګرد ته وسپاره او د مشتری کور ته ورغی. هغه زیاتي پیسې بېرته ورکړې او د تېروتنې بښنه یې وغوښته.

مشتری د سلیم له رښتینولۍ څخه خوشحاله سو او ویې ویل: «د انسان باور په دې نه ساتل کېږي چي هېڅ تېروتنه ونه کړي، بلکي په دې ساتل کېږي چي خپله تېروتنه اصلاح کړي.»

عبرتونه

۱. خپله تېروتنه ومنئ او د اصلاح هڅه یې وکړئ.

۲. د خلکو حقونه باید بېرته ورکړل سي.

۳. امانتداري د باور بنسټ دی.

۴. رښتینولي هغه وخت څرګندېږي چي انسان د سم کار لپاره هڅه وکړي.

۵. د تېروتنې پټول تر هغې بد دي چي د هغې اصلاح کول ستونزمن کړي.

هغه هلک چې د سیند ژبه یې زده کړه

د یوه کلي تر څنګ یو سیند بهېدی. د سیند اوبه د کلي د کروندو لپاره مهمې وې، خو ځینو خلکو به د سیند پر غاړه کثافات غورځول او د اوبو د پاکوالي خیال به یې نه ساته.

د کلي یو زده کوونکی، فرید، به هره ورځ د ښوونځي پر لاره د سیند له غاړې تېرېدی. هغه ولیدل چې د اوبو رنګ ورو ورو بدلېږي او ځینې کبان هم د سیند په یوه برخه کې کم ښکاري.

فرید د ساینس له ښوونکي څخه پوښتنه وکړه چې دا بدلونونه ولې رامنځته کېږي. ښوونکي ورته وویل چې کثافات او ناپاک مواد د اوبو ژوند ته زیان رسولای سي.

فرید د خپلو ملګرو سره مشوره وکړه. هغوی د کلي له مشرانو سره د سیند د پاکوالي په اړه خبرې وکړې. د کلي خلکو د سیند پر غاړه د کثافاتو لپاره ځانګړي ځایونه برابر کړل او د پاکوالي په اړه یې خلکو ته معلومات ورکړل.

څو میاشتې وروسته د سیند غاړه تر پخوا پاکه سوه. فرید پوه سو چې طبیعت په خبرو نه، بلکې د خپلو بدلونونو له لارې انسان ته د هغه د کړنو پایلې ورښيي.

عبرتونه

۱. د اوبو پاکوالی د انسانانو او ژوو لپاره مهم دی.

۲. د طبیعت د بدلونونو په اړه فکر کول علمي زده کړه پیاوړې کوي.

۳. د چاپېریال ساتنه د ټولو ګډه مسؤلیت دی.

۴. کوچني ګامونه د لویو بدلونونو سبب کېدای سي.

۵. د ستونزې د حل لپاره د پوهانو مشوره واخلئ.

پخواني پل او بیرته جوړونه

په یوه غرنۍ سیمه کي یو پخوانی پل وو چي د دوو کلیو تر منځ یې لاره لنډوله. د پل ځیني لرګي زاړه سوي وو او د ترمیم اړتیا یې لرله. یوه ورځ درې کسان د پل پر سر سره مخ سول. لومړي کس وویل: «دا پل باید د کلي مشران جوړ کړي.» دوهم کس وویل: «دا د حکومت کار دی.» درېیم کس، چي یو ځوان بزګر وو، وویل: «موږ باید د مسؤلو کسانو خبرولو تر څنګ د ستونزي د حل لپاره خپله هم همکاري وکړو.»

هغه د پل د خرابو برخو انځورونه واخیستل او د کلي له مشرانو سره یې شریک کړل. مشرانو د پل د خوندیتوب په اړه اړوندې ادارې ته خبر ورکړ او تر ترمیمه یې د خطرناکي برخي د بندولو پرېکړه وکړه. د کلي خلکو هم د نوو لرګیو او نورو اړینو توکو د برابرولو لپاره مرسته وکړه. د ماهرو کارګرو په مرسته پل په خوندي ډول ترمیم سو.

هغه درې کسان ببرته د پل پر سر سره ولیدل. لومړني دوو کسانو ومنله چي یوازې د مسؤلیت یادول کافي نه دي؛ د ستونزي د حل لپاره هم باید عملي ګامونه واخیستل سي.

عبرتونه

۱. د مسؤلیت پېژندل د ستونزي د حل لومړی ګام دی.
۲. د خوندیتوب په اړه باید ببړه او بې احتیاطي ونه سي.
۳. د اړوندو ادارو خبرول مهم دي.
۴. د ټولنې ګډ کار د ستونزو په حل کي مرسته کوي.
۵. د شکایت تر څنګ عملي هڅه هم اړینه ده.

د ماشومانو خبره

د یوه کلي په څنډه کي یو کوچنی کور وو. د کورنۍ یو ماشوم، سمیع، به هر ماښام د کور تر شا په یوه زاړه باغ کي لوبې کولې.

یوه ورځ د سخت باد وړاندوینه سوې وه. سمیع ولیدل چي د باغ یوه وچه څانګه د کور د چت پر سر ځوړنده ده. هغه خپل پلار ته وویل، خو پلار یې په لومړي سر کي فکر وکړ چي څانګه دومره خطرناکه نه ده.

سمیع بیا ورته وویل: «که باد ډېر سخت سي، کېدای سي څانګه ماته او پر چت راولوېږي.»

پلار یې د څانګي حالت وکوت او د یوه باغوان مرسته یې وغوښته.

باغوان څانګه په خوندي ډول پرې کړه او د باغ نورې وچي څانګي یې هم وکتلې.

هماغه شپه سخت باد ولګېد، خو د کورنۍ کور خوندي پاته سو. پلار د خپل زوی له ځیرکتیا څخه مننه وکړه.

سمیع پوه سو چي د خطر نښي باید له پامه ونه غورځول سي، او پلار یې هم زده کړه وکړه چي د ماشومانو خبره باید په غور واورېدل سي.

عبرتونه

۱. د خطر نښي باید جدي ونیول سي.

۲. د ماشومانو نظرونه هم ارزښت لرلای سي.

۳. د ستونزي تر رامنځته کېدو مخکي احتیاط وکړئ.

۴. د ماهرو کسانو مرسته د خوندیتوب لپاره مهمه ده.

۵. د کور او چاپېریال ساتنه د کورنۍ ګډ مسؤلیت دی.



څوک چې د علم په زده کړه کې مشکلات نه سي زغملای، هغه دي د ټول عمر د جهالت مشکلاتو ته تیاری ونیسي

عبرتناکه کیسې

هوښیار سړی هر شي ته په کتلو کې عبرت حاصوي،

(امیرالمؤمنین حضرت عمر فاروق رض)